# د ګناه انجام

# او د

# نجات لار




تالیف

ابو عبدالرحمن یوسف السلفي



الناشر

مکتبه شیخ الاسلام

تیمرګره ملاکنډ مسجد الکعبي

# دګناه انجام اودنجات لار

تألیف

فضیلة الشیخ ابوعبدالرحمن یوسف السلفی حفظه الله تعالی

ناشر

کانال تلګرام مکتبة منهاج السنة

(@Mbmenhajsa96)

# فهرست

خُطْبَةُ الْكِتَابِ ........................ ۷
موضوع دکتاب ........................ ۹
ګناهونه معمولی ګڼړل ........................ ۱٤
دګناه قسمونه ........................ ۱٦
دګناه اسباب........................ ۱۸
د ګناه نه ځان ساتل لازم دي ........................ ۱۸
د تاوان خبره........................ ۲۰
د ګناهونو ډیر والي وجه ........................ ۲۰
په اسلام کې د یقین شان او مقام ........................ ۲۰
د صحابه کرامو ﷡ د ګناهونونه ویره او خوف........................ ۲٤
د ابو بکر رضي الله عنه د الله تعالی نه ویریدل ........................ ۲٦
د عمر رضي الله عنه د الله تعالی نه یره ........................ ۲۸
د عثمان رضي الله عنه دالله تعالی نه یره ........................ ۲۹
د علي رضي الله عنه د الله تعالی نه یره........................ ۲۹
د ابو درداء رضي الله عنه دالله تعالی نه یره........................ ۳۰
د ابن عباس رضي الله عنهما د الله تعالی نه یره ........................ ۳۱
دابو ذر رضي الله عنه دَ الله تعالی نه یره ........................ ۳۱
د ابو عبیدة عامر بن الجراح رضي الله عنه د الله تعالی نه یره........................ ۳۲

مغروره انسانان او دهغوي قسمونه ........................ ٣٢
د ګناه په وجه د دنیا تاریخي عذابونه........................ ٣٥
د بعضې کسانو غلطیانې ........................ ٣٦
د ګناهونو بنیاد درې شیان دي........................ ٤١
د ګناهونو د پرېښودلو ښائسته اثار په بنده باندې ........................ ٤١
د ګناهونو انجام ........................ ٤٣
د ګناه په وجه مصائب راځي ........................ ٤٤
د ګناهونو په وجه د نعمتونو زوال ........................ ٥٠
دَ حجر اسود دَ توریدلو سبب دَ انسانانو ګناهونه دي........................ ٥٣
د ګناه په وجه ظلمت او د مخ توروالې........................ ٥٣
د ګناه په وجه دمزو او د ډېرو نعمتونو نه دنیا کې محرومېدل ........................ ٥٧
د ګناه په وجه د علم نه محرومېدل ........................ ٦١
د یوې ګناه کولو په وجه انسان نه بله ګناه صادرېږي........................ ٦٣
د ګناه په وجه انسان کې ناراستي او بې همتي راځي........................ ٦٤
دګناه عذاب دنیاکې عام وي ........................ ٦٧
دګناه په وجه ذلیل کیدل........................ ٦٨
ګناه د انسان عقل فاسد وي ........................ ٧٠
دګناه په وجه په زړه مهرلګیدل........................ ٧١
د ګناه په وجه د انسان غیرت ختم او یا کم شي........................ ٧١
ګناه انسان لره بې حیا کوي........................ ٧٣

د ګناه په وجه انسان کله د ایماني دائرې نه خارج شي........ ٧٤
د ګناهونو په وجه انسان د احسان د درجې نه محروم ګرځي ............... ٧٥
په انسان باندې د ګناه بد اثر ................................ ٧٥
ګناهونه په زړه کې د الله سبحانه وتعالی عظمت کمزوری کوي......... ٧٦
د ګناه په وجه د الله تعالی سره د زړه تعلق کمزوری کېږي ............... ٧٧
د ګناهونو په وجه د انسان په زړه کې رعُب او هیبت پیدا کېږي .......... ٧٧
ګناهونه د زړه صحت او استقامت خرابوي او د ګناه والا زړه مریض وي
........................................................ ٧٨
د ګناه په وجه دزړه بصیرت ختمیدل.................................. ٧٨
غمونه او پریشانیانې.............................................. ٧٩
د ګناه په وجه انسان د شهوتونو په جبل کې............................ ٨٠
زنداني شي ............................................................ ٨٠
دګناه په وجه انسان په غلطو نومونو او صفتونو یادیږي.................. ٨١
دګناه اثردانسان په عقل باندې هم وي.................................. ٨١
دګناه په وجه دالله تعالی سره تعلق ختم شي ........................ ٨٢
دَ ګناه په وجه بې برکتي ............................................ ٨٢
دَ ګناه په وجه ذلیل کیدل.......................................... ٨٥
د ګناه په وجه دَ دشمنانو غالب کیدل.................................. ٨٦
دَ حکمرانانو ظلمونه................................................. ٨٧
او بل ضرر د ګناه دا دے چه په انسان باندې خپل نفس غالب شي...... ٨٨

د هلاکتونو او عذابونو نه د بچاو اسباب........................ ٨٩
د مصیبتونو او تکلیفونو وخت کې انسان بې مد ده او ناکام پاتې کیږي د خپل ګناه په وجه........................................ ١٠٠
دګناه په وجه خاتمه خرابیدل ........................................ ١٠١
د ګناه په وجه دانسان زړه ړندیږي ........................................ ١٠١
ګناه انسان دَ خپل نفس نه غافل کوي ........................................ ١٠٣
دګناه په وجه موجوده نعمتونو باندے زوال راځي ........................................ ١٠٤
دګناه په وجه دانسان نه ملائک لرې کیږي ........................................ ١٠٥
دګناه په وجه دانسان زړه سختیدل ........................................ ١٠٨
دګناه نه دصبریدو اسباب ........................................ ١٠٩
یوه ډیره دَ عبرت والا قصه ........................................ ١١٠
د ګناه بعض عواقب او نتائج ........................................ ١٢٣
اسباب موت القلوب ........................................ ١٣٥
دګناهونو اسباب ........................................ ١٣٦
یو عجیب مثال ........................................ ١٤٦
دشیطان د وسوسونه دبچ کیدلو اسباب ........................................ ١٦٠
دګناهونو بد آثار په زړونو باندې ........................................ ١٧٧
د زړه د سختوالي اسباب ........................................ ١٨١
د زړه د نرم کیدلو اسباب ........................................ ١٨٧

# خُطبَةُ الكِتابِ

إِنَّ الحَمْدَ للهِ ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ ، وَنَسْتَغفِرُهُ ، وَنَعوذُ باللهِ مِنْ شُرورِ أَنفسِنا ، وَمِنْ سَيِّئاتِ أَعْمالنا ، مَن يَهدِهِ اللهُ تعالى فلا مُضِلَّ له ، ومَن يُضلِل فَلاَ هاديَ لَه ، وَأَشْهَدُ أَن لا إِلهَ إِلَّا اللهُ وَحدهُ لا شَرِيكَ لَه ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ آل عمران: ١٠٢

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾ النساء: ١

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾ الأحزاب: ٧٠ - ٧١

أَمَّا بَعْدُ: فَإِنَّ أَصْدَقَ الحديثِ كِتابُ الله ، وَأَحْسَنَ الهَدْيِ هَدْيُ محمَّد ﷺ، وشَرّ الأمورِ محدَثاتُها، وكُل مُحْدَثةٍ بِدْعَة، وكُل بِدْعَةٍ ضَلالَة، وكُل ضَلالَةٍ في النار۔

عَنْ عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ الله ﷺ- يَقُولُ: «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ» وَفِي رِوَايَةٍ: بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوى ، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيا يُصِيبُهَا، أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوجها، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيه»۔(۱)

دا یوه مختصره رساله ده لیکلې شوې ده په دې موضوع چې د ګناهونو نقصانات چه اول ئې ماته نفع او خیر ورسیږي او بیا زما نورو مسلمانانو وروڼو ته او الله تعالی ئې د اصلاح او فائدې سبب وګرځوي او د الله تعالی نه سوال دے چه د خپل رضا دپاره ئې سبب وګرځوي او د تقوي او هدایت ذریعه ئې وګرځوي او بیا ورته قبولیت ورکړي۔

آمین وما ذلك على الله تعالى بعزيز۔

---

(۱) رواه البخاري (۱)، كتاب: بدء الوحي، باب: كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله ﷺ، و (۵٤) ، كتاب: الإيمان، باب: ما جاء أن الأعمال بالنية والحسبة، و ۲۳۹۲۔

## موضوع د کتاب

دا کتاب پدے موضوع کې لیکلې شویدے چه انسان ته کوم تکالیف اوغمونه رسیږي دا دَ انسان د ګناهونو په وجه او علاج ئې دټولو ګناهونو نه توبه ویستل ،او تقویٰ کول دي دارنګه مونږ د خپل وسع مناسب کوشش کړے شوے دے او هغه تدابیر او طریقي را جمعه کړي دي چه یو انسان به د ګناه نه څرنګه بچ کیږي او ګناه به څرنګه پریږدي۔

او بل پدې کتاب کې فائده مند درس دا دے چه په ګناه کې د واقع کیدلو اسباب څه دي یعنی په څۀ وجهه انسان په ګناهونو کې واقع کیږي۔

حقیقت دا دے چه عذابونه څکه ډیر دي چه ګناهونه زیات دي او په وجه د ګناهونو دا مشکلات راغلي دي او علاج د دې مشکلاتو د ګناه نه توبه ویستل دي او که څوك دا غواړي چه زۀ نجات والا جوړ شم او زما پریشانی

په سکون او خوشحالۍ بدله شي او د عذاب نه خلاص شم نو د ګناهونو نه دې توبه اوکړي او عبادات دې شروع کړي تقویٰ او اطاعت کې دي کوشش وکړي الله تعالی به پرې رحم اوکړي او عذاب نه به خلاص شي او الله سبحانه وتعالیٰ به ورته په دنیا او آخرت کې بهترین ژوند ورنصیب کړي د کتاب د اصل مقصود شروع کولونه مخکې دا یو څو اهمې خبرې دي او دا د کتاب مقدمه ده۔

**تنبیه:** که بعضو خبرو کې تکرار وُو نو ان شاءالله تعالیٰ څهٔ فائده به په کې وي۔

**فائده:** کله یو انسان قسما قسم ګناهونه کوي او دارنګه بیا بیا ګناه کوي او توبه نه کوي او ګناه نه پریږدي اوپدې خبره باندې دوکه کړے شوے وي چه مال او دولت لري او د دنیا پراخي لري سره د ګناه کولو نه او کله په دې دوکه وي چه خلق ماته ښه سړے وائي او زما صفتونه کیږي او که زه الله تعالیٰ ته خوښ نه وے

نو دا دومره دنیا ئې ولې راکړې ده او که زه په ناروا باندې وے نو دې خلقو به زما صفت نه کولے۔

یاد ساتئ دا ډېر غلط خیال دے او دا سوچ د جاهلانو او بې باکه خلقو دے دا خبره ډېر تفصیل غواړي لیکن د دې کس د ذهن سازئ دپاره چه اولاً په قرآن کریم کې چه د قارون کومه واقعه ذکر ده هغه په سوچ سره اوګوره او دارنګه هغه ایاتونه چه پدې معنی نورو ځایونو کې راغلي دي او دا خبرې پکې ذکر دي چه د دنیا ډېروالے دا کرامت ندے ته نه ګورې لوي لوي کافرانو ته زما رب څومره ډېره دنیا او دولت ورکړے دے لیکن چې د الله تعالی عذاب راغلو نو هیڅ فائده ئې ورنه کړه او الله تعالی د ګناهونو په وجه هلاک کړل او په حدیث د مسنداحمد کې راځي چه د هغې خلاصه او مطلب دا دے چې کله یو کس ته ووینې او سره د ګناهونو نه الله تعالی هغه ته دنیا

ورکوي، دا کس به خامخا الله تعالی دمه په دمه را نیسي.[1]

او دیته د الله تعالی مکر ویلے شي او ډیر خلق پدې ازمائش کې راغلي وي چه ډیره پیسه ورسره وي نو خپله ګناه ورته ګناه نه ښکاري دا کس دې پدې ځان پوهه کړي چه دا د الله تعالی د طرف نه دیته مهلت دے او پدې باندې ابتلاء ده او سوچ دې اوکړي چه د دینه مخکې کومو کسانو د الله تعالی نافرماني کوله ایا خپلو مالونو او دنیا هغوي خلاص کړي دي د الله تعالی د عذاب نه؟ بلکه هیڅ فائده ورته ورنه کړه او څه خلق دا وائي: په داسې حال کې چه ګناهونه کوي چه الله تعالی غفور رحیم دے او د هغه عفوه ډیره زیاته ده دا خبره حقه ده چې دا د الله تعالی صفت دے لیکن څوک چه د الله تعالی نافرماني کوي او ځان پدې بهانه ګناه کې اخته کوي داسې کس دې پدې هم یقین ولري چه الله رب العالمین

(۱) مسند أحمد رقم الحديث ۱٦٨٦.

د سخت عذاب والا هم دے۔

او څوك د ګناه دپاره دا بهانه کوي چه توبه به وباسو دا د شیطان تلبیس دے چه دا په کې راغلي ځکه چه دا څه پته لګیږي چه ستا توبه به قبلیږي او که نه او ایا د توبه موقع به ملاوشي اوکنه؟

او ما د خپل خوږ قدر مند شیخ عبد السلام رحمه الله تعالی نه اوریدلي چه د توبې په نیت ګناه کول دا هم ګناه ده دومره به مونږ ووایو که څوك په بهانو او تاویلونو د الله تعالی د عذاب نه بچ کیدلے نو بیا به په چا عذاب نه راتلے ځکه هر ظالم او ګناهګار څه بهانه لري د خپلې ګناه په حقله۔

دا ذکر شوي او د دې په شان نورې بهانې دا په حقیقت کې د شیطان دوکه ده چه څه کسان پدې طریقه په خپل جال کې راولي۔

# ګناهونه معمولي ګڼل

دایوه اهمه تنبیه ده هغه چاته چه ګناه ورته معمولي او بې تاثیره شے ښکاري او مغروره وي په امیدونو باندې او دیته سوچ نکوي چه په ابلیس لعنت او عذاب راغلے ؤو په وجه د پرېښدلو د یوې سجدې او آدم علیه السلام د جنت نه خارج کړے شو په وجه د څه معمولي خوراك د یوې ونې سره او قاتل په لګه وینه تویه ولو سره د جنت نه محروم ګرځي او زنا کار واده شوې د خپلې ګناه په وجه په سخت مرګ وژلے کیږي او یا ورته د وهلو او د خپل وطن نه شړلو سزا میلاویګي او غل نه په لږ شان مال چې درې درهمه دي خپل قیمتي لاس غوځیږي۔

لهذا ته هم مه بې غمه کیږه حدیث کې راځي نبي کریم ﷺ فرمائي:

«دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا»(۱)

"یوې پیشو باندې دَ ظلم کولو په وجه یوه ښځه جهنم

(۱) صحیح البخاري ۳۳۱۸ ومسلم (۲۶۱۹)

ته لاړه".

او بل حدیث کې راځي نبي کریم ﷺ فرمائي:

«إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ، يَنْزِلُ بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ».(۱)

"د یوې خبرې په وجه انسان دومره ښکته جهنم ته لاړ شي لکه (څومره فاصله چې) په ما بین د مشرق او مغرب (کې ده)".

او دا هغه خبره وه چه د ګناه کولو په وقت کې هغه کس څه پرواه نه لرله.

مطلب دا دے چه پدې چرته دوکه نشئ چه ګناه کوئ او بهانه دې دا وائی چه دا دومره لویه خبره نده لکه ډیر بې باکه او غافله کسان داسې وائی، دَ الله سبحانه وتعالیٰ ارشاد دے:

﴿وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ﴾ [النور: ۱۵]

(۱) اخرجه البخاري، رقم: ٦٤٧٧، ومسلم، رقم: ۲۹۸۸.

# د ګناه قسمونه

١: د ګناه څه اقسام داسې دي چې هغه شيطاني صفات دي او د شيطان اخلاق او جرمونه دي او ديته شيطاني خويونه وائى۔

څوك چه ګناهونه کوي نو هغه کې شيطاني صفات او اخلاق راځي او ديته ذنوب شيطاني ويل کيږي مثلاً: حسد کول ، خيانت کول ، ګناه ته دعوت ورکول، دوکه کول ، تکبر کول وغيره۔

٢ : او څه ګناهونه داسې دي چه حيواني صفات او عادات دي او هغه ګناه والا هم پدې رنګ وګرځوي مثلاً: خپل هر شهوت پوره کول او ډير خوراك کول وغيره۔

٣ : او څه ګناهونه داسې دي چه انسان د هغه په وجه درندګانو او ماتونکو ځناورو په شان ګرځي لکه ليوه، ايږه، شرمخ وغيره مثلاً: دروغ ، ظلم ، او کنځل کول۔

**خلاصه**: دا ده چې ګناه په وجه انسان کې د ابليس،

فرعون او ځناورو مشابهت راځي او که وضاحت غواړئ نو معاشره کې د هغه خلقو عاداتو، صورتونو او شکلونو ته وګورئ چه د الله تعالیٰ نافرمانۍ کوي صرف په نوم انسانان وي او حقیقي انسانیت ترینه ختم شوے وي او صفات د کامل انسان پکې نه وي بلکه یو کس چه بار بار یوه ګناه کوي نو شکل ئې وران شي شکل او صورت ئې په شان د هغه حیوان شي چه کوم حیوان سره ئې مشابهت راغلے وي کوم حیوان سره چه دا د ګناه په وجه مشابه ګرځیدلے وي ډیر خلق د ګناه په وجه داسې مسخه شوي وي ته به وائې چه دا شادوګان دي او یا خنزیران دي او یا بل بد صورته حیوان دے۔

یا الله تعالی ته مو معاف کړي او د دنیا او آخرت د رسوائی نه امان راکړي۔

## د ګناه اسباب

د ګناه د پیدا کیدلو لوي وجي درے دي۔

۱ ـ شهوت۔

۲ ـ غضب۔

۳ ـ غفلت۔

چه کله د شرعي حدودو نه تجاوز وکړے شي نو انسان د الله تعالی په مخالفت کې واقع شي پدغه وجهه قرآن کریم کې زنا او قتل یو ځائي ذکر کیږي ځکه چه قتل د غصې نه پیدا کیږي او زنا د غلبې د شهوت نه پیدا کیږي۔

## د ګناه نه ځان ساتل لازم دي

د هرې ګناه نه ځان ساتل لازم دي او که درنه وشي فوراً الله تعالی ته توبه اوکړه الله تعالی فرمائي:

﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴾ الزلزلة: ۸

"چا چې د ذرې په اندازه بد عمل اوکړو نو هغه به ئې

هم اووینې"۔

او حدیث کې راځي نبي کریم ﷺ فرمائي:

« إِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ»(١)

"ځان وساتئ د هغه ګناهونو نه چه خلقو ته حقیر او معمولي ښکاري"۔

ډیر انسانان پدې دوکه کې پراته دي چه ګناه کوي او بیا وائی دا دومره خبره نده او هیڅ پروا نه لري داسې کس دې د الله تعالی نه اوویریږي او خپل رب ته دې په تلوار سره توبه وباسي او دا دِ یاد لري چه په یو پیشو باندې د ظلم کولو په وجه زنانه جهنم ته ذاخلیږي او کله د یوې خبرې په وجه انسان جهنم ته داخل شي او یو مسلمان په غنیمت کې د خیانت کولو په وجه اور ته داخل شو۔

نو بې باکه کیدل ندي پکار او د دنیا ژوند په تقوی کې تیرول پکار دي په هر وخت کې الله تعالی نه یره او خوف پکار دے او دا د مؤمن صفت دے۔

(١) مسند احمد ٣٨١٨

## د تاوان خبره

چه یو انسان ناروا کوي او که څوك ورته دعوت ورکړي چه دا ګناه مه کوه او بس کړه نو دا وائی دا دومره خبره نده یعنی د رب نافرمانی کول ورته معمولی شے ښکاري نو دا لوي د نقصان او تاوان خبره ده۔

## د ګناهونو ډیر والي وجه

د ګناهونو ډیر والي وجهه دا ده چه یقین په چا کې نه وي او په چا کې کمزورے یقین وي او څومره چه د انسان یقین وي هغه درجه کې ایمان او اعمال او تقویٰ وي۔

## په اسلام کې د یقین شان او مقام

د یقین او صبر په وجه انسان نه د دین امام جوړیږي الله تعالی فرمائي:

﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴾ السجدة: ٢٤

"او مونږ بني اسرائلو نه مشران د دين جوړ کړي وو دوي به خلقو ته لاره ښودله زمونږ په امر هر کله چه دوئ صبر کولو او وو دوئ زمونږ په آيتونو يقين کونکي"۔

مطلب دا دے چه يقين او صبر په وجه الله تعالى دوئ ته د دين امامتي ورنصيب کړه د دې وجهه نه نبي کريم ﷺ فرمائي:

«سَلُوا اللهَ العَفْوَ وَالعَافِيَةَ، فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ بَعْدَ اليَقِينِ خَيْرًا مِنَ العَافِيَةِ»(۱)

"د الله تعالى نه عفو او سلامتيا غواړئ پس يقيناً ندے ورکړے شوے يو تن ستاسو لره وروسته د يقين نه غوره شے د عافيت نه"۔

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي:

«اليَقِينُ الإِيمَانُ كُلُّهُ»(۲)

---

(۱) رواه الترمذي باسناد حسن ۳۵۵۸

(۲) صحيح البخاري

"یعنی یقین ټول ایمان دے"۔

دارنګه نبي ﷺ فرمائي:

«وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا»(١)

"او یقین راته راکړه چه دنیا مصائب را باندې اسان شي د یقین په وجه باندې"۔

لقمان حکیم رحمه الله خپل ځوی ته فرمائي:

«يَا بُنَيَ لَا يستطاع العمل الا باليقين ولا يعمل المرء الا بقدر يقينه ولا يقصر عامل حتي ينقص يقينه »۔(٢)

"اے بچیه ! عمل نشي کیدلے مګر په یقین سره او هر څوك د خپل یقین په اندازه عمل کوي او څوك چه عمل کې کوتاهي کوي نو د کوتاهۍ او کمزوري کیدلو د یقین سره په وجه"۔

عمار بن یاسر رضي الله عنه نه نقل دی فرمائي:

---

(١) رواه الترمذي باسناد حسن ٣٥٠٢

(٢) احياء العلوم ص٧٠۔

« كَفَى بِالمَوتِ وَاعِظاً، وَكَفَى بِاليَقِينِ غِنى، وَكَفَى بِالعِبَادَةِ شُغلاً »[۱]

" پوره نصيحت مرګ دے او پوره مالداري يقين دے او پوره شغل عبادت دے "۔

د يقين مطلب دا دے چه عقيده ساتل په الله تعالی باندې او د هغه په حکمونو باندې۔

د يقين بيان روسته راروان دے انشاءالله تعالیٰ۔

بے يقينه خلق ډير زيات ګناهونه کوي مثلاً: څوك چه پدې علم او يقين لري چه اور سيزل کوي او اوبه غرقه ول کوي نو خامخا ترينه لرے ګرځي۔

الله تعالیٰ مونږ ته وئيلي دي چه ګناهونو والا به جهنم ته داخليږي او بيا هم ګناه کوو نو معلوميږي چه يقين نشته دے۔

(۱) الإيماء إلى زوائد الأمالي والأجزاء - زوائد الأمالي والفوائد والمعاجم والمشيخات على الكتب الستة والموطأ ومسند الإمام أحمد ٤٦١٦

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم د ګناهونو نه ویره او خوف

صحابه کرام رضي الله عنهم دَ خوف الٰهی بهترین مصداقونه وو۔ صحابه کرامو کې تقویٰ یو پدې وجهه وه چه د ګناه د عذاب نه به ویریدل پدې باندې یقین لرونکي وو چه د دنیا او اخرت عذابونه دا د ګناهونو په وجه راځي پدې به ډیر زیات پرېشانه کیدل چه کله به ترینه ګناه وشوه۔

صحابه کرامو کې د الله تعالی نه خوف زیات وو او په چا کې چه د خپل رب نه خوف وي نو هغه د ګناه نه منعه کیږي ځکه هغه ته دا یقین وي چه پدي ګناه باندې د الله تعالی غضب او عذاب راځي۔

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي:

« إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَي ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ، وَإِنَّ الفَاجِرَ يَرَي ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلَي أَنْفِهِ» فَقَالَ بِهِ هَكَذَا۔[1]

(۱) صحيح البخاري ٦٣٠٨ و مسلم في التوبة باب في الحض على التوبة والفرح بها: ٢٧٤٤

"عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: خامخا مؤمن خپله ګناه داسې ويني لکه چه د غر لاندې وي او يريږي چه رابانديې به راوغورځيږي او فاجر ته خپله ګناه داسې ښکاري لکه مچ چه په پوزه ورته کيني او بيائي وشړي".

مطلب دا دے چه د ايمان والا انسان زړه رڼا لري او کله چه داسې يو شے اووينې چه د دې نور او رڼا مخالف وي نو ديته ډيره لويه خبره ښکاري او د غر سره ئې تشبيه ځکه ورکړې ده چه د نورو هلاکتونو نه کله بچ شي او غر چه انسان باندې راښکته شي نو بيا ترينه نه شي بچ کيدلے.

**خلاصه**: دا ده چه مؤمنان د الله تعالى نه ډير خوف لري هميشه خطره لري د عذابونو نه خپل نيک عمل ورته لږ ښکاري او ويره او خوف لري ده خپل وړې ګناه د عذاب نه.

**الحاصل**: د ګناه نه د بچ کيدلو يو عظيم سبب او د ګناه نه د توبه کولو بهترين علاج د الله تعالى نه خوف دے او د الله تعالى د عذاب نه خوف دے.

د مؤمنانو صفت دا دے: چې دوي به نیک اعمال
کوي او بیا به هم د الله تعالی نه یره لري او دا خبره په
سورة المؤمنون آیت نمبر ٦٠ کې بیان شویده۔
او د منافقانو صفت دا دے چه ګناهونه کوي او بیا هم
هیڅ خوف او خطره نه لري۔
دا وجهه ده چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم خومره يې چه
ایمان کامل ؤو دومره هغوي کې د الله تعالی نه خوف
زیات وو او دا یو څو مثالونه دي د صحابه کرامو رضي الله عنهم د
خوف د خپل رب نه۔

## د ابوبکر رضي الله عنه د الله تعالی نه ویریدل

کله به ابو بکر رضي الله عنه ویل ارمان دے چه زه د مؤمن د
بدن ویښته وے۔[1]
دارنګه ابو بکر رضي الله عنه به خپله ژبه ونیوله او وویل به

(۱) الزهد لاحمد بن حنبل و الجواب الکافی ٥٧۔

ئې زه دې ژړې هلاکت ځایونو ته بوتلم. [۱]

دارنګه ابو بکر رضي الله عنه به ډیر ژړل او دا به ئې ویل:

وژاړئ او که ژړا نه درځي نو په زوره سره ژړا راپیدا کړئ.

او کله چه به ابو بکر رضي الله عنه په مانځه ودریده نو د الله تعالی د خوف د وجهه نه به داسې شو لکه لرګے.

او کله به ابو بکر رضي الله عنه ته یوه مرغۍ راوړلے شوه چه هغه به ښکار شوے وه نو هغه به ئې اړوله راړوله او دا به ئې ویل کوم شے چه ښکار شي او یا یوه ونه پرې کړے شي دا پدې وجهه چه ده به د الله تعالی تسبیح او ذکر ضائع کړے وي.

او کله چه د ابو بکر رضي الله عنه مرګ رانزدې شو نو خپل لور عائشه رضي الله عنها ته به ئې ویل: اے لورې ! دا جامه او دا لوخے چه مال په کې لښل کیږي ، او دا غلام د

---

(۱) الزهد لاحمد بن حنبل.

مسلمانانو د بیت المال دي او جلتئ سره ئي یوسه عمر بن الخطاب ته ئي ورکړه او دا به ئي ویل ارمان چه زه ونه وے چه خوړلے شوې وے او پرې کړے شوے وے.

او قتاده ﷺ فرمائي: ابو بکر صدیق رضي الله عنه به ویل ارمان چه زه یو شینکې وے چه چارپایانو خوړلے وے.

دا یو څو واقعات وو د یرے د ابو بکر رضي الله عنه د خپل رب نه.

دا امام ابن القیم رحمه الله ذکر کړي دي په الجواب الکافي کې.

## د عمر رضي الله عنه د الله تعالی نه یره

کله چه د عمر رضي الله عنه زنکدن وو خپل ځوي ته ئي وویل چه زما اننګي په زمکه کیږده امید دے چه الله تعالی په ما رحم اوکړي.

د ډیرې ژړا په وجه د ده په مخ کې کرخې او خطونه جوړ شوي وو.

کله به ئي یو آیت د ویلو نه روسته دومره وژړل چه

بیمار به شو او خلق به ورته کور ته عیادت او بیمار پرسئ له راتلل۔

## د عثمان رضي الله عنه دالله تعالی نه یره

کله به چې عثمان رضي الله عنه قبر خوا ته ودریده نو دومره به ئې وژړل چه ږیره به ئې لمده شوه۔

کله به ئې دا ویل: چه که زه د جنت او جهنم مینځ کې یم او دا راته نه معلومیږي چه زه به کوم یو ته دا خلیږم مخکې.نه دا زما ارمان دے چه زه ایره شم۔

## د علي رضي الله عنه د الله تعالی نه یره

د علي رضي الله عنه د خوف او ژړا ګانو ډیر واقعات دي او هغه به زیات د دینه یریدلو چه انسان کې اوږده امیدونه او د خپل خواهش تابعداري پیدا شي ځکه دا دواړه انسان نه اخرت هیره وي او د حق منولونه ئې محرومه کوي دارنګه دا به ئې ویل خبر دار شئ دنیا شاه کړې ده او پاتي کیدونکې ده او اخرت مخامخ راروان دے او په

جلتئ راغے او څوك دنيا والا دے او څوك اخرت والا دے او تاسو مه ګرځئ دنيا والا او اخرت والا جوړ شئ۔

او نن دنيا کې عمل دے حساب نشته او اخرت کې به حساب وي او عمل به نه وي۔

## د ابو درداء رضي الله عنه دالله تعالی نه يره

ابو درداء رضي الله عنه به ويل چه زه دې خبرې نه ډير زيات يريږم چه دا راته وويل شي چه اے ابو درداء ! چه علم لرې ليکن تا په خپل علم څومره عمل کړے دے۔

کله به ابو درداء رضي الله عنه ويل اے خلقو ! که تاسو ته هغه حالات معلوم وي چه تاسو به ورسره مخامخ کيږئ روسته د مرګ نه نو تاسو به خوراك په لذت او خوند سره نه کولے او نه به مو د مزو سره څښاک کولے او نه به سورې ځائې ته داخل شوي وے او تاسو به د ډير غم او فکر د وجهه نه صحراګانو ته وتلي وے او ځانونه به مو وهلے او په خپل ځانونو به تاسو ژړا کولے۔

او دا زما ارمان دے چه زه انسان نه وے بلکه يوه ونه وے چه چا ريبلې وے او پرې کړې وے او بيا خوړلے شوې وے۔

دا حالات د هغه چا دي چه د الله تعالی نه يره لري۔

## د ابن عباس رضي الله عنهما د الله تعالی نه يره

ابن عباس رضي الله عنهما به دومره ژړل چه د سترګو لاندي به ئې داسې نښې جوړې شوې وې د ډيرې ژړا په وجه لکه د زاړه پيزار مزي او يا په ځمکه چه وبه ډيرې وبهيږي نو ځمکه غوښه کړي او لاره پکې جوړه کړي۔

## د ابو ذر رضي الله عنه دَ الله تعالی نه يره

ابو ذر رضي الله عنه به ويل کاش چه زه يوه ونه وے او چا پرې کړې وے او ارمان چه زه د سره نه پيدا شوے نه وے۔ او د بيت المال نه يو ځل څه خرچه ورته ورانديې شوه هغه ووېل زمونږ يو بزه (چيلۍ) ده هغه لشو او بل خر دے بار پرې ورو او يو څو شيان ئې نور ياد کړل چه دا

مونږ لرو او پدې خطره لرو چه د دې حساب به راسره کیږي او څه به کوو۔

## د ابو عبیدة عامر بن الجراح رضي الله عنه د الله تعالی نه یره

ابو عبیدة بن الجراح رضي الله عنه به دا ویل کاش چه زه یو ګډ وے او ذبح شوے وے او خپلو مالکانو زما غوښې خوړلې وے او ختم شوے وے۔

داسې واقعات نورهم ډیر زیات دي چه دا خلق څومره ډیره یره لري د خپل رب نه او د هغه د عذاب نه۔

## مغروره انسانان او دهغوي قسمونه

دا خبره هر مسلمان ته معلومه ده چه دنیا د امتحان ځای دے۔

او عمر د انسان داسې مثال لري لکه یو کس چه د امتحان هال ته داخل شي۔

اوپدې کې یو مقرر وقت پورې به وي او بیا به نه رائي

لیکن ډیر خلك دا ژوند په گناهونو کې ضایع کړي او دا د غرور بِه وجهه او د اخرت نه د غفلت په وجه چه څه کسان د دنیا په لذتونو دوکه شي او پدې چرچو مزو کې ډوب شي او مرگ ورته راشي او د اخرت پروا نه لري اخرت ورته ډیر لرې ښکاري او کله ورته اخرت باره کې شکونه رائحي او کله پدې دوکه شي چه مال او دنیا او پیسه ورسره وي او دا گمان کوي چه زه د الله تعالی خوښ یم ځکه ئې دا نعمتونه په ما کړي او خیال لري چه دنیا کې ما ښه ساتي اخرت کې به دینه ښه راکړي دا صفا دوکه کیدل دي په حدیث کې راغلي دي:

«إِذَا رَأَيْتَ الله تعالى يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ، فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ» (۱)

" کله چه ته وینې یو کس چه سره د الله تعالی د نافرمانۍ نه الله تعالی ورته هغه دنیا ورکوي چه دا ئې

(۱) مسند احمد ۱۷۳۱

غواړي نو پدې پوهه شه چه دا استدراج دے "

يعنی دا مهلت دے او دا کس به الله تعالی په دمه دمه نيسي او په دې معنی کې د قران ډير اياتونه دي او احاديث صحيحه دي چه الله تعالی دنيا چاته ورکړي دا معنی نده چه دا انسان د الله تعالی خوښ دے ډير کسان داسې شته چه د الله تعالی دشمنان دي بيا هم الله تعالی ورته پراخه روزي ورکوي۔

الله سبحانه وتعالیٰ دنيا دوست او دشمن دواړو ته ورکوي لهذا پدې باندې غره کيدل ندي پکار چه زه د الله تعالی په نزد ځکه ښه يم چه الله تعالی ماله ډير څه راکړي۔

بعضې سلفو به دا ويل ډيرځل يو انسان په ځان نه پوهيږي او الله تعالی پدې نعمتونه کړي وي ليکن دا رانيسي په خپل عذاب سره او ډير ځل يو انسان د خلقو په صفتونو غره وي او دا په ځان نه پوهيږي او ډير ځل يو انسان پدې وجهه مغروره شوے وي چه الله تعالی پرې

پرده اچولې وي لیکن د دې ځان ته خیال نه وي۔

لهذا مالداري د الله تعالیٰ د محبت علامه نه ده بلکه خپل اصلاح ضروري ده۔

بلکه سره د مالدارئ نه انسان لوي لوي ګناهونه ځکه کوي چه دا انسان مست شي او زړه ئې سخت شي او د مالدارئ په نشه کې وي، سویٰ دَ هغه کسانو نه چه الله تعالیٰ پرې رحم کړے وي۔

## د ګناه په وجه د دنیا تاریخي عذابونه

دا یو مختصر تاریخ د دنیا د عذابُونو دے چه دا ټولې تباهیاني راغلي د ګناهونو په وجه لازم ده په مونږ چه پدې ځان پوهه کړو چه ګناه ضرر خامخا لري او خومره چه د ګناه شان وي دومره ئې ضرر وي او کله د ګناه ضرر او عذاب د انسان په زړه وي او کله په بدن او کله په مال او کله په عزت او کله په بلې طریقه سره عذاب وي۔

د خطأ په وجه آدم علیه الصلاة والسلام د جنت او

نعمتونو نه راویستلے شوے وو۔

او د ګناه په وجه قوم د نوح علیه السلام غرق شو، دارنګه عادیان او ثمودیان او قوم د لوط او قوم د شعیب علیهم الصلاة والسلام د خپلو ګناهونو په وجه هلاك شو او داسې نور د دې امثال دا ټول د ګناه په وجه وشو۔

## د بعضې کسانو غلطیانې

دا یو اهم درس دے تعلق لري د هغه موضوع سره چه دا کتاب د هغې په باره کې ترتیب شوے دے چه د ګناه نه پرهیز کول او هغه دا چه څه کسان په مختلفو طریقو سره مغالطه کې واقع شوي دي او دا په حقیقت کې د ابلیس تلبیس دے چه پدې طریقه سره انسان لره په ګناه کې واقع کړي او بیا کوشش کوي او مختلفې حربې استعمالوي چه ګناه نه توبه ونه کړي۔

١ : پدې اعتماد کول چه د الله تعالی عفوه ډیره پراخه ده او کله دا وائی: الله تعالی چې غفور رحیم دے او کله وائی:

بیا به شي ، توبه نه اوباسي او نن صبا کوي او کله پدې دوکه شي او د نفاق په طریقه یوائې د ژبې په استغفر الله ویلو اکتفاء اوکړي او کله پدې دوکه شي چه مونږ نیك کارونه کوو او کله پدې دوکه شي چه زه پوهه لرم او کله دا وائي چه زمونږ مشران صالحان وو او مونږ اخونزادګان او سیدان او میاګان یو ، د یو مشر په عمل اعتماد کوي ، او څوك پدې طریقه دوکه شي چه حواله ورکوي په تقدیر او په تقدیر حجت نیسي د خپلې ګناه کولو دپاره او بعضې ظالمان وائي چه ګناه نه روسته به ښه کارونه وکړو مثلاً عمره به وکړو او فلانے خیر کار به وکړو او طواف به وکړو او فلانے ذکر به وکړو او هر څه به راته معاف شي او کله بعض کسان پدې دوکه شي چه ګناه کوي او بیا وائي: فلانے او فلانے چه ګناه کوي ، او بعضې دا بکواس کوي چه مُلیان تنګ نظره دي او پدې باندې ځان دوکه کړي او مغروره شي او ګناه کې پروت وي ، او بعضې پدې دوکه شي

چه ګناه کوي او وائی: مونږ فلانے بزرګ سره تعلق لرو او فلانے پیر نه مونږ طریقه کړې او زه فلاني خواجه خواته ځم راځم او بعضې کسان پدې دوکه کې پراته وي چه الله تعالي لوي ذات دے غني ذات دے او هغه زمونږ په عذاب څه کوي او کله وائي مونږ د رسول الله ﷺ اُمتیان یو، مونږ سره به ګذاره کوي۔

او بعضې کسان پدې خبره دوکه شي چه د آیت او حدیث نه غلط مقصد او معنی واخلي او هغه ځانله ذریعه وګرځوي د جرأت کولو په ګناه باندې او کله پدې تلبیس کې وغورځیږي چه فلانے ملا صاحب وائي چه خیردے دا ګناه کوه دومره لویه خبره نده دا ټول غرور او دوکه کیدل دي او دا خلق دا نه ګوري چه الله تعالی شدید العقاب دي او د الله تعالی عذاب مجرمانونه نه واپس کیږي او سره د ګناهونو نه په عفوه اعتماد کول حماقت دے او دا کار د عنادي انسان دے بعضی علماء

وائي چه الله تعالی په دنیا کې د دري درهمو په وجه د لاس پرېکولو حکم کړے نو بې غمه کېږه مه ځکه دغه شان د هغه عذابونه به وي په اخرت کې۔

حسن بصري رحمه الله تعالی یو عجیب قول حافظ ابن القیم رحمه الله نقل کړے دے په "الجواب الکافي" کې چه حسن بصري ته وویل شو چه تا مونږ وینو چه ډیر زیات ژاړې هغه وویل: زه دینه یره لرم چه اور ته به مي واچوي او زما به هیڅ پروا ونه لري۔

چا ویل حسن بصري رحمه الله تعالی ته چه مونږ څه وکړو د هغه خلقو کیناستلو سره چه کله د هغوي بعضو مجالسو کې شریك شو نو دومره مونږ ویره وي چه نزدې وي چه زړونه زمونږ تږ وچوي هغه وویل: والله د هغه خلقو صحبت چه تا ویروي غوره دے د هغه خلقو د صحبت نه چه تا بې غمه کوي تردې چه هلاك شي۔

ایا دا د یرې خبره نده؟ چه ناکاره او ریاء کار عالمان به

هم جهنم ته ځي چه کله نورو ته خبره کوي او پخپله پرې عمل نه کوي او تفصيل د دې په حديث د بخاري او مسلم کې دے۔

**اے مغروره !** اے د خپل انجام نه غافله! ايا ته ديکې سوچ نه کوې چه ابليس د يوې سجدې په پرېښودلو لعنتي شو او په قسما قسم عذابونو کې راګير شو، او ديته نه ګورې چه دنيا کې څوك د ګناه په وجه قتل شي او څوك رجم شي او د چا نه لاس پرېکړے شي۔

نو پدې پوهه شه چه د يوې ګناه په وجه به جهنم کې رابند کړے شي او هيڅ پروا به ستانه کوي ځکه ګناهګار د الله تعالی په نزد ډير سپك وي۔

او دا حديث تا ندے اوريدلے چه يوه زنانه د يو پيشو په وجه جهنم ته لاړه۔

کله د يوې خبرې په وجه انسان د جهنم لاندې طَبقې ته وغورځيږي۔

## د ګناهونو بنیاد درې شیان دي

۱: تکبر او دا هغه ګناه ده چه ابلیس ئې هغه انجام ته ورسوو چه هر چا ته معلوم دے۔

۲: حرص او د دې په وجه د فرعون ، هامان ، او دَ قارون ټوله بادشاهي ختمه شوه۔

۳: حسد لکه د دې په وجه د آدم علیه الصلاة والسلام ځوی خپل ورور قتل کړو۔

څوك چه الله تعالی محفوظ کړي د شر د دې دریو نه هغه به بچ شي د ډیرو شرونو نه۔

## د ګناهونو د پریښودلو ښائسته اثار په بنده با ندې

کله چه یو انسان ګناه پرېږدي د هغه آثار او فوائد به دا وي د مروت بحال کیدل ، یعنی دا صفت د کامل سړیتوب دے د عزت او د مال حفاظت د انسانانو محبت ، د زړه قوت او طبیعت خوشحالي ، د زړه خوشحالیاني د زړه شرحه د ذلت نه نجات د غم او فکر نه خلاصیدل په زړه

کې نور او رڼا پیدا کیدل د مشکلاتو نه د خلاصي لارې برابر کیدل د هغه طرف نه رزق راتلل چه ګمان هم نه کیږي د نیکو اعمالو اسان کیدل د مؤمنانو په ده باندې ثناء د خیر ویل د مخ ښائسته کیدل د مؤمنانو په زړه کې شان او وقار او هیبت پیدا کیدل او چه کله یو تن د ګناه نه توبه اوکړي پدغه کس باندې چه کله ظلم وشي او یا څوك ورته ایذاء او تکلیف ورکوي نو عام مؤمنانو ئې مدد کوي د هغه ډله کوي بلکه کافران هم هغه مسلمان ته د عزت په سترګه ګوري چې کله کامل ایمان والا وي دا پدې وجهه چه الله تعالی ته ئې رجوع کړې ده او تقوی داره دے ، دارنګه مومن به د دې د عزت نه دفاع کوي دعاء به ئې قبلیږي هغه وحشت به ختم شي کوم چه د ګناه په وجه د ده او د خپل رب مینځ کې راغلے وو او چه ګناه پریږدي شیطانان به ترینه لرې شي او ملائك به ورته نزدې شي دارنګه اهل ایمان به د دې خادمان شي د مرګ خوف به تري ختم شي چې کوم د ګناه په وجه وي بلکه مرګ سره به دیته دا خوشحالي محسوس کیږي

چه زما ملاقات به وشي خپل رب سره دنیا به ورته حقیر شي ، او د آخرت شان به ورته معلوم شي د خپل عباداتو په حلاوت به پوهه شي د ایمان حلاوت به محسوس کړي خپل رب سره به ئې محبت پیدا شي عقل او ذهانت به ئې ډیر شي دا یو څو فوائد وو هغه چا ته نصیب کیږي چه څوك د ګناه نه توبه اوکړي او د الله تعالی نه ویریږي او ګناه ترك کړي او خپل رب ته رجوع اوکړي او د اخرت د خوشحالیانو څه اندازه نشته۔

## د ګناهونو انجام

لکه څرنګه چه مخکې هغه کامیابیاني بیاني شوي چه کومي د ګناه په پریښودلو کې دے اوس په اختصار سره دا ذکر کیږي چه د ګناه انجام څه دے او دا بحث به روسته په تفصیل سره راشي انشاء الله تعالي ، په ګناه سره توفیق ختم شي، عقل تباه شي،حق په انسان پټ شي، تمام خلق تري متنفره شي، دعاء ئې نه قبلیږي، د خپل رب سره وحشت پیداشي زړه به سخت شي د دې د رزق او عمر

نه به برکات لري شي ، د علم نه به محروم شي دارنګه ګناه د ذلت لباس دي ګناه د انسان د ذلت سبب دے د زړه تنګوالے دے او دارنګه د زړه توریدل دي د فاسقانو ملګرتوب باندې به مبتلا شي او هغوي به د دې مال او زړه او اوقات هر څه تباه کړي دارنګه ګناه په وجه زندګي کې سکون ختم شي او سره د وجود د مال او اسبابو نه انسان پریشانه وي او سرګردانه وي دا عذاب دے ده ګناه په وجه باندې څکه سکون او راحت د انسان دپاره نشته مګر د الله تعالی په طاعت کې دے۔

## د ګناه په وجه مصائب راځي

دارنګه الله تعالی چه چا ته عذاب ورکوي نو دا د ګناه په وجه باندې لیکن بعضی کسان پدې مغروره شي چه ګناه ئې کړي وي لیکن حالات ئې برابر وي نو دوي دا خیال اوکړي چه دوي به ګناه کوي او هیڅ عذاب به په دوي نه راځي دا خیال د دوي غلط دے۔

هان: کله الله تعالی فوراً عذاب ورکړي او کله څه زمانه مهلت ورکړي او چه توبه نه کوي نو عذاب به پرې راشي پدې خبره د قرآن کریم نه او د احادیثو صحیحه وو نه ډیر دلائل شته چه انسان باندې د ګناه په وجه مصائب راځي په اُحد کې چه کله صحابه کرام ﷺ ته مصیبت ورسیدو نو هغوي وویل: چه دا د کوم طرف نه دے؟ الله تعالیٰ جواب ورکړو: ﴿ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾آل عمران: ١٦٥

"یعنی دا ستاسو د ګناه په وجه" .

دارنګه الله تعالیٰ دا معنی په بل آیت کې ذکر کړے ده:

﴿ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ ﴾ النساء: ١٢٣

"چاچه بد عمل وکړو هغه ته به سزا ورکیدے شي" .

او پدې سورة النساء کې الله تعالی داسې فرمائي:

﴿ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ﴾النساء: ٧٩

"او کوم تکلیف چه تاته ورسیږي نو دا ستا نفس او ستا ګناه په وجه".

دارنګه یو بل ځائي کې الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ ﴾ الروم:٤١

"ښکاره شو فساد په وچه او دریاب کې په وجه د هغه عملونو چه خلقو کړي دي".

پدي ټولو ایاتونو کې دا خبره ذکر شوي ده چه مشکلات او مصیبتونه انسان ته رسیږي نو د ګناه په وجه باندي.

دارنګه الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا۟ عَن كَثِيرٍ ﴾ الشوری: ٣٠

"او هغه چه تاسوته رسیږي څه مصیبت نو دا په وجه د هغه اعمالو چه ستاسو لاسونو کړي دي".

او ډير ګناهونه دغه شان الله تعالیٰ معاف کوي مطلب دا دے چه کله مصيبت راشي په بدنونو کې يا مالونو کې يا بله طريقه نو د دې سبب ګناهونه د دغه خلقو دے حديث کې راځي رسول الله ﷺ فرمائي:

«لَا يُصِيبُ ابْنَ آدَمَ خَدْشُ عُودٍ , وَلَا عَثْرَةُ قَدَمٍ , وَلَا اخْتِلَاجُ عِرْقٍ , إِلَّا بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو الله تعالى عَنْهُ أَكْثَرُ»(١)

" نه رسيږي د آدم عليه السلام بچی ته زخم د لرګي او يا خويدل د ښپي او يا د رګ خوځيدل مګر د ګناه په وجه او د کومو ګناهونو نه چه الله تعالی عفو کوي بغير د څه سزا ورکولونه هغه ډير زيات دي "۔

عکرمه رحمه الله فرمائي:

«مَا مِنْ نَكْبَةٍ أَصَابَتْ عَبْدًا فَمَا فَوْقَهَا إِلَّا بِذَنْبٍ لَمْ يَكُنِ الله تعالى لِيَغْفِرَ لَهُ إِلَّا بِهَا أَوْ دَرَجَةٍ لَمْ يكن الله

(١) شعب الإيمان٩٣٥٧

تعالی لیبلغه إِلَّا بِهَا»(۱)

"ندے یو زخم چه بنده ته ورسیږي یا دینه بره تکلیف مګر د ګناه په وجه چه هغه دې نه بغیر نه معاف کیږي او یا یوه درجه وي هغه ته رسیدل بغیر د دینه نه کیږي یعني پدې مصائبو او صبر په وجه انسان هغه درجې ته ورسیږي"۔

د دې تفصیل په "تفسیر بغوي" کې اوګوره۔

قاضي شریح رحمه الله ته یو څل مرة همداني اوویل چه ستا د لاس په شاه باندې دا زخم ولې دے هغه اوویل دا زما د عمل او ګناه په وجه [ تفسیر ابن عطیه: ۵۱۹/ ۷ ]

امام ضحاك رحمه الله فرمائي: چه کوم انسان قرآن کریم یادکړي او بیا ترینه هیر شي نو دا به د دے د ګناه په وجه وي او بیا ئې دا ایت ولوستلو ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ

(۱) ۴/۱۴۹

مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴾(١)

او بيا يي اوويل چه د قرآن كريم د هيرولو نه به لوي مصيبت بل څه وي؟

دارنګه يو كس د علا بن بدر نه سوال اوكړه د دې ايت په باره كې ﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُواْ عَن كَثِيرٍ ﴾

او نظر ئي ختم وو په سترګو ړوند وو چه زما نظر په ماشوم والي كې ختم شوے دے نو ما څه ګناه كړيده چه دا مصيبت راغے نو هغه ورته ووېل چه دا ستا د مور او پلار د ګناه په وجه.

اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها په سر به درد وو او لاس به پرې كيښودلو او دا به ئي ويل چه دا درد زما د ګناه په وجه دے. كما في الدرالمنثور- ج١ص٣٠٦.

په يو شخص باندې چه څوك مسلط شي او ورته ضرر

(١) شعب الإيمان٩٣٥٧

ورکوي نو دا په وجه د ګناه د دې سره وي لهذا بنده استغفار ته ډیر محتاج دے داسے نه چه دا غافله شي او د ګناه عذاب ورته ورسیږي۔

په سلفو کې یو کس سره خوك مخامخ شو په خبرو کې ئي ورسره سختي اوکړه او بده خبره ئي ورته اوکړه هغه ته ئي اوویل ته لږ ودریږه زه کور ته ننوځم او بیا راوځم کور ته داخل شو او الله تعالی ته ئي سجده اوکړه او تضرع او توبه ئي اوکړه الله تعالی ته او بیا راوتلو هغه ترینه تپوس اوکړو چه تا کور کې څه کول هغه ورته اوویل ما الله تعالی ته توبه اوکړه د هغه ګناه نه چه د هغې په وجه ته په ما باندې مسلط شوے وې۔

## د ګناهونو په وجه د نعمتونو زوال

د کوم تن نه چه نعمت لرې شي دا د هغه د ګناه په وجه سره ځکه الله تعالی چه کله یو بنده باندې خپل نعمت اوکړي هغه پورې الله تعالی د دینه دا نعمت نه

لري کوي تر څو پورې چې دا شخص د خپلو ګناهونو په وجه لرې نه کړي.

سیدنا علي رضي الله عنه فرمائي:

« ما نزل بلاء الا بذنب ولا رفع بلاء الا بتوبة ».[1]

" کوم تکلیف چه راځي نو د ګناه په وجه او کوم تکلیف چه لرې کیږي د توبې په وجه".

مثلاً: د ډیرو عالمانو نه الله تعالی نعمت د علم واخلي د ګناه په وجه.

دارنګه د ډیرو مالدارانو نه مال واخلي او یا صحت ئې ترینه لرې کړي.

دارنګه نور مختلف نعمتونه ترینه لرې کړي د ګناه په وجه.

چا چه سوچ اوکړو په حالاتو د هغه امتونو کې چه د هغوي بیان الله تعالی کړے دے هغه ټولو نه چه نعمتونه

(١) الجواب الکافی-١٠٣.

زائل شوي وو نو د هغوي د ګناهونو په وجه۔

دارنګه که مونږ خپله موجوده زمانه کې اوګورو د چانه چه نعمت الله تعالی لري کړي نو د هغه د ګناه په وجه ځکه چه د الله تعالی سنت نه بدلیږي او د هغه قانون او سنت دا دے چه د ګناه په وجه خپل نعمت د بنده نه اخلي الله تعالی فرمائي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ﴾ الرعد:١١

مطلب دا دے چې انسان ګناهونه شروع کړي او حالت د دین داري نه ګناهونو طرف ته بدل کړي نو الله تعالی ترینه نعمتونه لري کړي۔

یو شاعر ویلي دي۔

« إِذَا كُنْتَ فِي نِعْمَةٍ فَارْعَهَا * فَإِنَّ الْمَعَاصِي تُزِيلُ النِّعَمْ»(١)

"کله چه یو نعمت کې ئې نو د هغه لحاظ کوه * ځکه په ګناهونو سره زوال د نعمتونو راځي"۔

(١) شعب الایمان ٤٢٣٨

د اللّٰه تعالی د نعمتونو حفاظت د اللّٰه تعالی په طاعت سره دے او زیادت د نعمت په شکر سره دے او زوال ئې په ګناه سره دے ځکه چه ګناهونه اور لګوي نعمتونو ته۔

## د حجر اسود توریدلو سبب دانسانانو ګناهونه دي

حدیث کې راځی « نزل الحجر الاسود من الجنة وهو اشد بیاضاً من اللبن فسودته خطایا بنی آدم »۔

" حجر اسود چه کله دَ جنت نه خکته راغلے نو دَ پئ نه ډیر سپین وو لیکن دَ بنی آدمانو ګناهونو تور کړو "۔

[ سنن الترمذی ، ابواب الحج ، باب ماجاء فی فضل الحجر الاسود والرکن والمقام ، رقم: ۸۷۷ ]۔

## د ګناه په وجه ظلمت او د مخ توروالې

او بدرنګه کیدل او د شکلونو مسخه کیدل۔

کوم انسان چه فاجر وي بد عمله وي په یوه ګناه کې اخته وي نو د ګناه بد رنګي د ده په مخ باندې راغلي وي تر دې چه هغه جمال ئې ورلره ختم کړے وي کوم چه

پيدائشي طريقه باندې لرلو.

عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمائي:

« إِنَّ لِلْحَسَنَةِ لَنُورًا فِي الْقَلْبِ، وَضِيَاءً فِي الْوَجْهِ، وَقُوَّةً فِي الْبَدَنِ، وَسَعَةً فِي الرِّزْقِ، وَمَحَبَّةً فِي قُلُوبِ الْخَلْقِ، وَإِنَّ لِلسَّيِّئَةِ لَظُلْمَةً فِي الْقَلْبِ، وَسَوَادًا فِي الْوَجْهِ، وَوَهْنًا فِي الْبَدَنِ، وَبَغْضَةً فِي قُلُوبِ الْخَلْقِ ».(١)

"د صالح اعمالو په وجه انسان په زړه کې نور وي په مخ کې ئې رڼا وي او بدن کې قوت وي او رزق ئې فراخه وي او د خلقو خوښ وي او د ګناه په وجه د انسان زړه کې ظلمت وي او په مخ باندې د ذلت دوړې او غبار وي او بدن کې کمزوري وي او رزق کې ئې نقصان وي او د خلقو ورسره بغض وي او دا بد رنګي او بد شکلي به قيامت کې ظاهره شي".

لکه الله تعالى فرمائلي دي په قرآن کريم کې چه د

(١) مجموع الفتاوى لابن تيمية ١٠/ ٦٣٠، منهاج السُّنة ١/ ٢٦٩.

مؤمنانو مخونه به سپین وي او د فاجرانو مخونه به تور وي.

او حدیث کې راغلي چه کوم کسان چه همیشه دنیا کې خلقو نه سوالونه کوي قیامت په ورځ به د دغه په مخ باندې غوښه نه وي دا هم د ګناه په وجه چه بلا ضرورت مخلوق نه سوال کول دي لکه څرنګه چه مونځ او عبادت نښې په مخ کې معلومیږي الله تعالی فرمائي:

﴿ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ ٱلسُّجُودِ ﴾ الفتح: ۲۹

"د دوی په مخونو کې نخې دي د اثارو د سجدې نه".

نو دارنګه ګناهونو آثار هم په مخ کې معلومیږي.

دارنګه الله تعالیٰ فرمائي: په سورة "محمد" کې چه منافقان په نښو پیژندل کیږي ډیر کرتې یو انسان که نارینه وي او که زنانه وي پیدا ښې صورت ئې ښائسته وي لیکن د منافقت د وجهې نه مخ ئې قبیح المنظر شي او هغه جمال به په کې نه وي کوم چه د الله تعالی محبوب وي او بنیادي وجهه د دې بد شکلۍ، نفاق، او دروغ دي

ځکه خلق دروغجن ته تورمخې وائي او مخ تورن وائي او چا چې به د دروغو ګواهي وکړه نو عمر رضي الله عنه به د هغه مخ تور کړو ځکه جزاء من جنس العمل وي دې انسان خپل زړه په ګناه تورکړے دے نو مخ به ورله هم تورکړه ځکه چه د زړه حالات لکه توروالے سپینوالے ښه والے او بد والے مخ ته ډیر زر نقل کیږي او په ټول بدن کې د زړه سره ډیره رابطه په اندامونو کې د مخ او سترګو ده او دا د زړه حال بیانوي۔

عثمان رضي الله عنه فرمائلي دي:

« مَا أَسَرَّ أَحَدٌ سَرِيرَةً إِلَّا أَبْدَاهَا اللهُ عَلَي صَفَحَات وَجْهِهِ، وفَلتَات لِسَانِهِ»۔[1]

”ندے یو تن چه خه پټ لري په زړه کې مګر دا به الله تعالی ښکاره کوي په کاسه د مخ د دے باندې او په ژبه د هغه باندې“۔

---

(۱) تفسير القرآن العظيم لابن كثير ۳٦۱/۱۷

نو د زړه حالات الله سبحانه وتعالیٰ په ژبه او په مخ کې ظاهروي زيات معلومات د زړه د ژبې نه کيږي او لګ لګ اندازه ئې د مخ نه لګي او بيا چه کله دا راسخ وګرځي اوبدشکلي محسوس کوي اوکله کله د ګناه په وجه انسان مسخه شي يا ترينه خنزير جوړشي او يا شادو لکه دا عذاب د ګناه په وجه مخکنو امتونو باندې راغلي وو او پدې امت باندې به هم راځي په احاديثو کې دا سې راغلي دے اوپدې موجوده زمانه کې ډير خلق مسخه شوي د ګناه او مکر او ظلم په وجه داسې ښکاره بد شکله ښکاري لکه خنزير يا شادو يا بل څناور۔

## د ګناه په وجه دمزو او د ډيرو نعمتونو نه د نيا کې محروميدل

لکه قرآن کريم کې زمونږ د عبرت دپاره دا خبره بيان شوے ده چه بني اسرائلو باندې الله تعالی حلال او طيبات بند کړي وو په وجه دَ څۀ ګناهونو او ظلمونو ددوي ، او

بعضې مزيدار او لذت والا شيان په بني اسرئلو باندې حرام وو د الله تعالى د طرف نه په طور د سزا د ګناه سره۔

او دا خبره تفصيلاً بيان کړې ده شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په خپل تفسير کې۔

او الله سبحانه وتعالىٰ چه د ګناه په وجه چه کوم طيبات په انسان بند کړي دي د هغې مثالونه او صورتونه دا دي:

کله داسې بيمارې ورته ولګوي چه دا مزيدار خوراکونه او مشروباتو نه محروم شي او پرهيز شي ، او يا د ګناه په وجه لذت او مزه نشي محسوس کولے د لباس، او د نکاح او د خوراك وغيره نه، هان! کله کله دا ازمائش وي په بندګانو باندے۔

او کله عذاب او افت راشي او باغونه اوميوې او طيبات ورلره هلاك کړي او يا خپل مال او بچې ورته عذاب جوړ شي او څه فائده ترينه وانخلي الله تعالى فرمائي:

﴿فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡ﴾ التوبة: ۵۵

”او په تعجب کې دې وانه چوي تالره مالونه او نه اولاد د دوي“۔

او بله طریقه دا ده: چه دا ګناه والا انسان د حلالو باره کې دا عقیده لري چه دا حرام دي نو پدې طریقه ترینه محروم پاتي شي لکه ډیر مشرکان او بدعتیان د دنیا ښه ښه شیانو نه پرهیز کوي او دا وائي: چه ما ته پیر صاحب ویلي دي چه دینه به ځان ساتي لکه ډیر ملنګان او منجوران ښه جامي نه اغوندي دا هم د الله تعالی عذاب دے په دوي او کله د ګناه په وجه د یو حلال شي د علم نه الله تعالی ئي محروم کړي لکه ډیر مقلدین او مذهبي تعصب والا د دین اسلام د ډیر سهولتونو او مزیدارو احکامو نه جاهلان دي او عمل نه ئي محروم دي په وجه د ګناه د تقلید باندې او مثال ئي داسې شي لکه یو انسان وګے او تږے وي او خواته طعام او ښکاك وي لیکن دیته پدې علم نه وي په حدیث کې راځي نبي کریم ﷺ فرمائي:

«وَإِنَّ العَبْدَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بالذَّنْبِ يُصِيبُهُ» (١)

"يقيناً بنده خامخا محروميږي د رزق نه د ګناه په وجه چې دهٔ ته ورسيږي"۔

لکه ډير جاهلان په سفر کې قصر نه کوي او جمع بين الصلاتين سره د حرج نه نهٔ کوي ، دارنګه بعضې کسان د اسلامي بعضې نور سهولتونو نه محروم دے او ځان نهٔ خبروي او علم پرې هم نه لري دا هم پدې عناديانو د الله تعالى عذاب دے ، دارنګه قران او حديث طيبات دي او مقلدين د دينه محروم دي او وائي: چه د مقلد کار قرآن او سنت سره نشته دهٔ له کافي دي قول د مجتهد خپل لا تول عمر ئي پديکې تير شي امام صاحب داسې فرمائي او صاحبين دا وائي ، او اهل حديث هغوي د هدايت سر چشمه ته ځان رسولی دے او دا مزيدارې خبرې کوي قال الله تعالى او قال رسول ﷺ۔

(١) رَوَاهُ أَحْمَدُ ٢٢٤١٣ بإسناد ضعيف، والحَاكِمُ فِي «مُسْتَدْرَكِهِ»: ١/ ٦٧٠۔

**فائده:** د اسلام ډير احکام داسې دي چې هغوي کې انسان دپاره الله تعالی سهولت راليږلي دي ليکن ضديان او عناديان خلق ترينه محروم دے۔

**تنبيه:** مختلف فسادات چې رائحي دا په نافرماني د الله تعالی لکه دولتونه خرابيدل، دارنګه قحط، سوکړه، او سيلابونه راتلل او زلزلې، خانه جنګي شروع کيدل الله تعالی فرمائي:

﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ ﴾

الروم:٤١

"ښکاره شوي دي فساد په اوچه او لمده کې په سبب د هغه څه چه کړي وي لاسونو د خلقو"۔

لنډه دا ده: چه اجتماعی عذابونه او انفرادی هلاکتونه دا دَ ګناهونو عقوبات دي، الله تعالیٰ دې مونږ ته عافيت راکړي۔

## د ګناه په وجه د علم نه محرومېدل

ځکه علم د دين الٰهی نور دے او ګناه ظلمت دے او دا دواړه ضدين دي نهٔ جمع کيږي امام شافعي رحمه الله فرمائي:

شَكَوْتُ إِلَي وَكِيعٍ سُوءَ حِفْظِي ـ فَأَرْشَدَنِي إِلَى تَرْكِ الْمَعَاصِي
وَقَالَ اعْلَمْ بِأَنَّ الْعِلْمَ فَضْلٌ ـ وَفَضْلُ الله لَا يُؤْتَاهُ عَاصِي[1]

"ما شكايت وكړو امام وكيع ته د خرابيدلو د حافظې زما ما ته رهنمائي اوكړه د ګناهونو پرېښودلو ته * او وې وئيل راته پدې ځان پوهه كړه علم د الله تعالى فضل دے او د الله تعالى فضل نه وركول كيږي ګناه والا ته"۔

په سورة المائده كې دَ يهودو دَ جرمونو عذابونه ذكر دي او په هغې كې يوه سزا دا ذكر ده چه دَ دوي نه هغه څۀ هير كړے شو هغه څۀ چه دوي لره پرے نصيحت وركړے شوے وو۔

ددې په فوائدو كې بعضى اهل علمو ليكلي دي چه دَ ګناه په وجه دَ انسان نه علم هيريږي ، او دَ بعضي سلفو نه دا نقل دي چه داسې كسان مونږ ته معلوم دي چه دَ ګناه په وجه ترينه علم هير شو۔

(١) الجواب الكافي لمن سأل عن الدواء الشافي أو الداء والدواء ٥٢

# د يوې ګناه کولو په وجه انسان نه بله ګناه صادرېږي

لکه حيوانات چه بچې راوړي دغه شان ګناهونه هم بچي راوړي، يوه ګناه انسان راکاږي بلې ګناه ته او هغه بيا بلې ګناه ته او داسې يوه سلسله جوړه شي تردې چه انسان باندې احاطه اوکړي ، کله د يوې ګناه عذاب الله تعالى پدې طريقه ورکوي چه بله ګناه کې ئې واقع کړي او پدې طريقه ګناه ئې عادت وګرځي او توبه کول ورته ډير ګران شي او بيا ئې شيطانان د انسانانو او پيريانو نه ده لره توبه ته نه پرېږدي او هر طرف نه راګير ئې کړي مثلاً: ډير خلق چرس وڅکي او بيا زنا اوکړي او بيا قتل اوکړي او داسې بيا روان وي په ګناهونو کې حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي:

« فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ ».[١]

”دروغ انسان رسوي نورو ګناهونو ته“.

او سلفو نه دا قول مشهور دے:

« إِنَّ مِنْ عُقُوبَةِ السَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ بَعْدَهَا ».[٢]

”د ګناه سزا كله دا وي چه د هغه نه روسته بله ګناه وشي“.

زمونږ شيخ محترم عبدالسلام الرستمى رحمه الله به فرمائيل: « المعصية تجرّ الى المعصية ».

## د ګناه په وجه انسان کې ناراستي او بې همتي راځي

د اعمالو صالحه د كولو نه او سست شي د عبادتونو نه او ښه اعمالو ته جذبات په انسان کې نه راځي او د ګناه

---

(١) أخرجه البخاري في الأدب باب قول الله تعالى: ﴿يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وكونوا مع الصادقين﴾ ١٠ / ٥٠٧، ومسلم في البر والصلة باب قبح الكذب وحسن الصدق برقم (٢٦٠٧) ٤ / ٢٠١٣، والمصنف في شرح السنة: ١٣ / ١٥٢.

(٢) الجواب الكافي ٥٥.

اراده په کې مضبوطه شي او توبه نه کوي د ګناه نه.

مثلاً: کوم کسان چې په سندري او موسیقي اوري هغه مانځه کې ډیر سست وي دارنګه نورو اعمالو کې هم ناراسته وي لکه طالوت، کومو ملګرو چه ګناه اوکړه او هغه اوبه ئي وڅکلې چه دوي ترینه منعه شوي وو بیا ئي همت کم شو د جهاد په کولو په هر دور کې منافقان په جهاد او مانځه کې سست وي نو د ګناه د نفاق په وجه.

مطلب دا دے: چه د مؤمن قوت د هغه په زړه کې وي او چې ګناه وکړي د زړه قوت ئي خراب شي او اصلي او حقیقي قوت د زړه قوت دے.

او دا معنیٰ آثارو کې هم راغلے ده چه ګناه دپاره یو اثر دادے چه بدن کې کمزوري پیدا کوي.

د ګناه په وجه د انسان اشنائي راشي د الله تعالی د نافرمانۍ سره، او زړه نه ئي د ګناه بدوالے او د ګناه نه نفرت ختم شي او ګناه ئي عادت وګرځي او که خلق هر

څه وائی: پروا نه لري او نه د ګناه نه منعه کيږي او په ګناه کې ورته لذت ښکاري او کله کله په ګناه فخر هم کوي او داسې کسان الله تعالی نه معاف کوي ديته مجاهرين وائی: يعنی ښکاره ګناه کونکي۔[۱]

کله چه يو انسان هميشه ګناه کوي تر دې چه بيا ورته معمولي خبره ښکاري او د ګناه هغه شان او لوي والي د زړه نه لري شي او دا علامه د هلاکت ده لکه ډير سياسيان دروغ او ټکي کوي او نفاق کوي تصويرونه وباسي او بيا وائی: دا دومره لويه خبره خو نده او داسې نور خلق هم شته چه زړونه ئې تور شوي وي او ګناه ورته ګناه نه ښکاري او يا لکه بعضی بدعتيان لوئ لوئ بدعات کوي او بيا وائي چه دا څه لوي خبره نده۔

کله ورته کبيره ګناه صغيره ښکاري او کله وائی: دا سياست او يا مصلحت او يا وائی: زمونږ کمزوري ده دا

(۱) کما فی صحيح البخاری رقم الحديث۶۰۶۹۔

بې ځایه بهانې دي، په صحیح البخاري کې اثر عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ذکر دے۔

« إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرَي ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ فِي أَصْلِ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ ، وَإِنَّ الْفَاجِرَ يَرَي ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ وَقَعَ عَلَى أَنْفِهِ، فَقَالَ بِهِ هَكَذَا فَطَارَ»(١)

"بیشکه مؤمن ته خپله ګناه داسې ښکاري لکه د غر لاندې وي او خوف لري چه راغورځیږي راباندې او فاجر انسان ته خپله ګناه داسې ښکاري لکه مچ چه د دې په پوزه واوړي"۔

## د ګناه عذاب د نیاکې عام وي

د انسان د ګناه په وجه هلاکت په عامو حیواناتو راځي او هغه ټول په دغه انسان لعنت واي د کوم انسان د ګناه په وجه چه دوي باندې هلاکت راغے لکه څرنګه چه هغه عالم ته دعاء کوي چه انسانانو ته تعلیم د خیر ورکوي۔

(١) رواه احمد ٣٦٢٧ - ٣٦٢٩

امام مجاهد رحمه الله فرمائي: چارپایان او جاندار په ګناهګارو لعنت وائی چه کله سوکړه شي او باران بند شي او دا وائی: چه دا حالت په مونږ باندې د ګناه د بني ادم په وجه دي۔

ابو هریره رضی الله عنه فرمائي: مرغان په جالو کې د ظالمانو په وجه هلاك كيږي۔(۱)

## د ګناه په وجه ذلیل کیدل

ګناهونه سبب دے د ذلت او شرمندګي لکه څرنګه چه د الله تعالی په طاعت کې عزت دے نو دارنګه نافرماني کې ئې بي عزتي ده او ذلت دے الله تعالی فرمائي:

﴿ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴾ الحج:۱۸

" او چا لره چه الله سپک کړي نو نشته هغهٔ لره څوک

(۱) الجواب الکافی ۸۳۔

عزت ورکونکې"۔

وقال تعالیٰ:

﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا﴾ (١)

"څوك چه غواړي عزت نو ټول عزت د الله تعالی سره دے"۔

او بعضو سلفو به دا دعاء کوله: «اللّٰهُمَّ أَعِزَّنِي بِطَاعَتِكَ وَلَا تُذِلَّنِي بِمَعصِيَتِكَ »۔

" اے الله تعالی ! ستا په طاعت مي عزتمند کړه او ستا په نافرماني مي ذليل نه کړي"۔

او پدې معنی کې د شيخ الاسلام عبد الله بن مبارك رحمه الله څۀ اشعار ويلي دي:

رَأَيْتُ الذُّنُوبَ تُمِيتُ الْقُلُوبَ ۔ وَقَدْ يُورِثُ الذُّلَّ إِدْمِانُهَا۔

وَتَرْكُ الذُّنُوبِ حَيَاةُ الْقُلُوبِ ۔ وَخَيْرٌ لِنَفْسِكَ عِصْيَانُهَا۔

---

(١) [فاطر: ١٠]

"ما وليدل چه ګناهونه زړونه وژني او هميش والي کول په ګناه ذليل کوي انسان لره * پرېښودل د ګناهونو ژوند د زړونو دے او خير د نفس په ترک د ګناهونو کې دے".

دارنګه نفاق سبب دَ ذلت دے ، ترك الجهاد سبب دَ ذلت دے ، دَ سنت او احاديثو مخالفت سبب دَ ذلت دے ، بدعت او افتراء کول په الله او دَ هغهٔ په رسولانو سبب دَ ذلت دے ، الله تعالىٰ مونږ ته دَ دنيا او دَ آخرت دَ ذلت او رسوائی نه امان را کړي.

## ګناه دا انسان عقل فاسد وي

او انسان بي عقله کوي او انسان لره بې وقوفه کوي ځکه عقل بدن کې يو نور او چراغ دے او ګناه ظلمت دے او تياره ده او کله چه انسان ګناه کوي عقل ترينه غائب شي ځکه چه څوك عقل لري څرنګه به ګناه اوکړي چه الله تعالىٰ ديته ګوري او ملائك پدې مقرر دي او دا د الله تعالىٰ په قبضه کې دے او جهنم حق دے

او په ګناه ډېر خیر د لاس نه ځي او د دې ټولو خبرو باوجود ګناه کوي دا دلیل دے چه دینه عقل تلے دے۔

## د ګناه په وجه په زړه مهرلګیدل

د ګناه په وجه زړه باندې مهر ولګي او زړه بند شي او خیر ورته نه داخلیږي او غافله وګرځي او یو بل پسې ډېر والے د ګناه دا سبب دے د ړوند والي د زړه او دارنګه زړه باندې زنګ راشي او هغه خپل کار ترینه نه اخستل کیږي لکه اوسپنه چه زنګ شي او فائده ترینه نه اغستلے کیږي نو دلته هم زړه ته ده خیر لارې بندې شي او زړه ئې نسکور شي د ګناه په وجه۔

## د ګناه په وجه د انسان غیرت ختم او یا کم شي

غیرت اسلامي د مؤمنانو بهترین صفت دے او پدې غیرت سره د انسان ژوند وي او صلاحیت هم پدې وي لکه د بدن حرارت دا هم سبب د ژوند د بدن دے او غیرت په وجه د انسان نه بد صفات او خبیث کارونه داسې لرې

کیږي لکه د اهنګر (لوهار) بنۍ چه اوسپنې نه خیري خنګه لري کوي څومره چه انسان غیرتي وي دومره عزتمند وي او غیرت او رحم او عدل او احسان د انسان بنیادي د کمال صفات دي الله سبحانه وتعالیٰ غیور ذات دے او غیرتیان د الله تعالی خوښ وي او ګناهونه د انسان د زړه نه غیرت ختمه وي او کله د ګناه په وجه انسان دومره بي غیرته شي چه قبیح کارونه ورته قبیح نه ښکاري بیا نه په ځان غیرت کوي اونه په بل چا بلکه فحاشی او بد کارونه ورته خه ښکاري او کله خبره داسې اندازي ته ورسیږي چه انسان د ګناه په وجه دیوث وګرځي۔ او حدیث کې راځي دیوث به جنت ته نشي داخلیدلے۔

دین نوم د غیرت دے او بي غیرته انسان د الله تعالی نه وي خوښ کله چه انسان کې تقوي او غیرت وي نو بیا ګناه نه نفرت کوي او بي غیرتي زړه او اندامونه وژني او بیا دفاع نشي کولے چه د ګناه مخه ونیسي د غیرت مثال

په شان د ښکر د حيوان دے او کله چه ښکر حيوان کې باقي وي نو د ځان نه او بچونه پدې دفاع کوي او چه ښکر ئي نه وي نو د دشمنانو ديکې طمع پيدا شي او د غيرت دپاره قاتل ګناهونه دي۔

## ګناه انسان لره بي حيا کوي

او حياء د زړه ژوند دے او حيا سبب د هر خير دے د حياء تلل د هر خير تلل دي او په حديث د بخاري کې راځي نبي عليه الصلاة و السلام فرمائي: «إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ» [١]

"چه حياء نه کوي بيا کوه چه څه دي خوښه وي"۔

او دا ايماني صفت د ګناه په وجه کميږي او يا ختميږي او کله يو انسان د ګناه په وجه دومره بي حياء شي چه خلق ورته بد وائی او د دې پرې څه پرواه نه وي ځکه

---

(١) صحيح البخاري ٣٤٨٤ كتاب احاديث الانبياء۔

چه حياء ژوند د زړه دے او چه ګناهونو يو زړه وژلي وي نو مړے پدې خبرو نه پوهيږي او داسې بې حياء او بې غيرته نه کوم اُميد دے چه دا به توبه اوکړي۔ ځوك چه خپل رب نه حياء کوي هغه ګناه نه ځان ساتي اوکه ترينه صادر شي بيا سمدس الله تعالى ته توبه اوباسي۔

## د ګناه په وجه انسان کله د ايماني دائرې نه خارج شي

او که خارج نشي نو ايمان ئې نقصاني شي او د هغه ثوابونو نه محروم شي چه کوم د ايمان والاو سره د ايمان په صله کې الله سبحانه وتعالىٰ ورکړي دي۔

په قران او سنت کې د ايمان ډير فوائد او ثمرات ذکر شوي دي او د ګناهونو مختلف درجات دي او دَ ايمان په هره درجه اثر کوي او خرابوي ئې۔

## د ګناهونو په وجه انسان د احسان د درجې نه محرومیږي

مؤمنان په مختلفو درجاتو کې دي په سبب د زیادت او کم والي د ایمان سره او درجه د احسان یو خاصه درجه ده چه د هغې ذکر په حدیث د جبریل علیه السلام کې دے او معنی ئې دا ذکر شوې ده چه د الله سبحانه وتعالیٰ عبادت کول په داسې طریقه چه ګویا کې ته الله سبحانه وتعالیٰ وینې او که دومره نشې نو الله سبحانه وتعالیٰ خو تا وینې او څوك چه دا یقین لري چه زما رب په هر حال کې ما وینې زما هیڅ کار د هغه نه غائب او پناه ندے نو هغه بیا دګناه نه ځان ساتي۔

## په انسان باندې د ګناه بد اثر

په انسان د ګناه بد اثر دا وي چه دغه انسان لره الله سبحانه وتعالیٰ پرېږدي او هیرئې کړي او دا خبره ذکر شوې ده په سورت الحشر ۱۹ کې او کله بیا داسې حد ته

دغه انسان ورسيږي چه د خپل ځان نه غافله او بي پروا شي او پدې پروا نه لري چه دا کار د دې هلاکت دے او که مصلحت دے پدې خبره سوچ کوه الله سبحانه وتعالی به دې فهم نصيب کړي يعني بعض کسانو ځان ته پام نشته او دا عذاب پدوي د ګناه په وجه راغلي وو.

## ګناهونه په زړه کې د الله سبحانه وتعالی عظمت کمزوری کوي

که د دې خوښه وي او که نه وي ليکن ګناه به دا اثر کوي په چا کې چه د خپل رب العالمين د وقار عقيده وي هغه د الله سبحانه وتعالیٰ په نافرمانۍ جرأت نه کوي هغه څوك د الله تعالی قدر نه کوي چه د هغه خلاف کوي او څوك چه د خپل زړه نه د الله سبحانه وتعالیٰ تعظيم لري کړي هغه لره الله سبحانه وتعالیٰ په معاشره کې سپك وګرځوي.

## د ګناه په وجه د الله تعالیٰ سره د زړه تعلق کمزوری کیږي

په زندګۍ کې د زړونو یو قسم سیر او رفتار دے خپل رب ته او پدیکې لوي رکاوټ د انسان ګناه ده ځکه ګناهونه زړه مریض کوي او مریضان مزل نشي کولے ګناهونه د زړه ایماني زور او قوت خرابوي د ګناه په وجه زړه یا مړ شي یا مریض شي یا کمزورے شي او ګناهونه په مختلفو درجاتو دي او هغه شان بیا د هغوي اثر دے۔

## د ګناهونو په وجه د انسان په زړه کې رعُب او هیبت پیدا کیږي

د الله سبحانه وتعالیٰ طاعت حصن حصین دے د انسان دپاره او ګناه والا د خپل ګناه په وجه هر طرف نه خطر لري ځکه ګناهونه سبب د پریشانۍ او خوف او هیبت او ذلت دي او په تقوی سره امان راځي د ټولو مشکلاتو نه۔

# ګناهونه د زړه صحت او استقامت خرابوي او د ګناه والا زړه مريض وي

او ګناهونه د زړه په صحت داسې اثر لري لکه مرضونه چه بدن باندې څرنګه اثر لري په دنيا کې برباد او هلاک شوي زړونه د الله سبحانه وتعالیٰ د نافرمانو زړونه دي او هغه زړونه په سکون کې مالا مال دي چه هغوي کې ايمان وي د الله سبحانه وتعالیٰ معرفت او د الله سبحانه وتعالیٰ محبت او إنابت او خوف او رجاء او نور ايماني صفات په کې موجود وي نو هغه د سکون نه ډک وي۔

او دينه لوي عذاب به نور څه وي چه د انسان زړه په غم او پرېشاني او تنګې زندګۍ کې وي او دا حالات په زړه باندې د ګناهونو په وجه راځي ځکه چه د زړونو سکون د الله سبحانه وتعالیٰ په طاعت او عبادت باندې وي۔

## د ګناه په وجه د زړه بصيرت ختميدل

د ګناهونو په وجه د انسان بصيرت او د زړه نور

ختمیږي او په زړه باندې د علم نافع او د هدایت لارې بندې شي او کله د ګناهونو د ډیروالي په وجه زړه باندې توره شپه راشي او هر څه پرې پټ شي کله هلاکت ته ورسیږي او دیته پرې علم نه وي او پشان د ړوند شي ښه او بد نه پیجني۔

او دا ظلمت د زړه نه کله سرایت اوکړي او په اندامونو ظاهرشي نو هغه بدرنګه او بد شکله ښکاري او که توبه ونکړي نو دا په قبر او اخرت کې هم په تورتم کې وي۔

## غمونه او پریشانیانې

دَ ګناه په وجه انسان باندے پریشانی او غمونه راځی ، الله سبحانه وتعالیٰ فرمائي:

﴿ وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا ﴾

طه:۱۲٤

"څوک چه اعراض اوکړي زما دَ ذکر نه بې شکه ددهٔ

دپاره په تنګه زندګي وي"۔
او خوشحالي او سکون په اسلام او ایمان کې ده، مونځ او تهجدو کې ده، په ذکر او تلاوت کې ده، جهاد او په نورو اعمالو صالحوو کې ده۔

## د ګناه په وجه انسان د شهوتونو په جیل کې زنداني شي

داسې کس همیشه په ګرفت د شیطان کې وي دا نهایت بد حاله ژوند دے چه انسان د ظالم دشمن په جیل کې وي کوم زړه چه د ګناه په وجه د شیطان جیل قبضه کې وي په هغه باندې هر طرف نه أفات راځي او د زړه مثال د مرغۍ دے چه څومره مرغۍ اوچت پرواز کوي هغه هومره محفوظه وي او څومره چه ښکته شي دومره د هلاکت خطر لري اوکیرېږي دارنګه زړه چه څومره اوچت فکر لري او ښه خواطر لري دومره د شیطان نه خلاص وي او څومره چه ګناه کې واقع کیږي دومره ورته

هلاکت نزدې وي او د شیطان نه حفاظت په تقوي او په طاعت د الله سبحانه وتعالیٰ او رسول الله ﷺ وي۔

## د ګناه په وجه انسان په غلطو نومونو او صفتونو یادیږي

د ګناه په وجه انسان پوري بد نومونه او صفتونه ولګي او بیا په هغه بدو نومونو او اوصافو سره یادیږي او دا ذلت او شرمندګي ده د ګناه په وجه دیته فاسق او فاجر او زاني او مفسد او بدعتي او کاذب او مخادع ویلے کیږي او د هغه صفاتو نه لاس وینځي او محروم شي چه کوم د ایمان او تقوي په وجه دیته نصیب وو لکه متقي، محسن، الطیب، الاواب المصلح المنیب او دا ټول دینه لري شي په وجه د ګناه سره۔

## د ګناه اثر دا نسان په عقل با ندې هم وي

په ګناه سره انسان بې عقله او یا کم عقله ګرځي دوه کسان به وي په دوي کې به د تقوي والا عقل زیات وي

او سوچ به ئې برابروي ځکه هر څه د الله سبحانه وتعالیٰ په قبضه کې دي۔ لهذا عقل د الله سبحانه وتعالیٰ ورکړه ده او په ګناه سره دا فاسد شي او دا عجيبه عذاب دے د ګناهونو په عذابونو کې۔

## د ګناه په وجه دالله تعالى سره تعلق ختم شي

د ګناه په وجه د انسان تعلق د خپل رب سره خراب شي او په انسان باندې د خير اسباب او لاري بندي شي او کله د ګناه په کولو سره الله تعالى ترينه اعراض اوکړي نو شيطان پرې مسلط شي۔

## دَ ګناه په وجه بي برکتي

برکت ورکونکے الله سبحانه وتعالیٰ دے او د برکت معنی ده په يو شي کې د خير اثار ډير کيدل دارنګه بقاء او پائداره کيدل دا برکت دے او لکه څرنګه چه د تقوي په وجه (يعني ګناه نه ځان ساتل) سبب د برکاتو دے دارنګه ګناه چه (ضد د تقوى ده) سبب د زوال د

برکتونو دے د خبرې مطلب دا دے چه د ګناه په وجه د انسان د عمر او علم او رزق او عمل وغيره نه برکت لرې شي او بد عمل انسان بې برکته کوي د ځمکې برکات چه ختميږي دا هم د انسانانو د ګناهونو په وجه الله سبحانه وتعالیٰ فرمائي:

﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ الأعراف: ۹٦

"که دې کلو والاو ايمان راوړے وے او تقوي ئې کړې وے مونږ به پدوي پرانستي وے برکتونه د اسمان او زمکې"۔

يعنی هر کله چه ايمان او تقوي په دوي کې نه وه او ګناهونه ئې کول نو دوي د برکتونو نه محروم شو او دا خبره يو حديث کې هم ذکر ده هغه دا چه نبي کريم ﷺ فرمائي:

«وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ» (١)
"بنده محروم ګرځي د ګناه په وجه د رزق نه"۔
او په يو بل حديث کې راځي نبي کريم ﷺ فرمائي:
«فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُنَالُ مَا عِنْدَهُ إِلَّا بِطَاعَتِهِ» (٢)
"يعنی الله تعالی سره چه څه دي خزاني او نعمتونه او برکات دا نه حاصليږي مګر د الله سبحانه وتعالیٰ په طاعت سره"۔
او په حديث قدسي کې راځي الله تعالیٰ فرمائي:
«أنا الله، إذا رضيتُ باركتُ، وليس لبركتي منتهى وإذا غضبتُ لعنتُ، ولعنتي تدرك السابع من الولد» (٣)
"زه الله تعالی يم کله چه زه راضي شم نو برکت ورکړم هغه چاته چه زه ترينه راضي يم او زما د برکت څه انتهاء

(١) رَوَاهُ أَحْمَدُ ٢٢٤١٣ بإسناد ضعيف، والحَاكِمُ فِي «مُسْتَدْرَكِهِ» (١/ ٦٧٠)۔
(٢) مسند البزار المنشور باسم البحر الزخار ٢٩١٤۔
(٣) الداء والدواء۔

نشته دے او کله چه غصه شم لعنت ولیږم او زما لعنت کله د انسان اوم پشت پوري چلیږي".

لهذا د هر څه نه د ګناه په وجه سره برکات لري کیږي لکه مخکې د هغه وجهه بیان شوه او یوه بله وجهه ئې دا هم ده چه ګناه په وجه د شیطان مداخلت شروع کیږي او په کوم شي کې چه شیطان مداخلت اوکړي او شریک شي نو د هغه نه برکات لري شي۔

## دَ ګناه په وجه ذلیل کیدل

او سبب د ذلت ګناهونه او بدعات دي لکه الله سبحانه وتعالیٰ فرمائي:

﴿ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ ﴾ (۱)

"نو دا ذلت په یهودو باندې په وجه د ګناه راغلے وو"۔

ډیر بادشاهان دَ ګناه په وجه ذلیل شی ، او ډیر غلامان

(۱) [البقرة: ٦١]

دَ تقوىٰ په وجه دَ آسمان ستوري او دَ سرتاجونه شي۔

همدغه شان په حديث د "مسند احمد" کې راځي مقرر دے ذلت په هغه چا چه مخالفت کوي د امر د نبي کريم ﷺ نه۔

## د ګناه په وجه دَ دشمنانو غالب کيدل

او زړه ور شي او لاس ئې پرې برشي او دشمنانو ته چه د ګناه په وجه موقع ملاويږي د هغه مختلف صورتونه دي يو دا چه انسان باندې شيطان چه دا (عظيم دشمن دے) دا غالب شي په وسوسه اچولو او په ګمراه کولو سره او په يرولو سره او دارنګه د انسان نه مصلحتونه هير کړي او دارنګه د ګناهونو په کولو سره تيز کړي او د ګناه په وجه د انسان رعب داب او هيبت ختم شي نو د انسان خپل اهل او خادمان او چارپايان نا فرماني او ورانے شروع کړي۔

شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله ويلي دي په " الجواب

الکافي " کې چه بعضی سلفو نه نقل دي چه زه کله د الله سبحانه وتعالی نافرماني وکړم نو زه د ګناه سزا د خپل څاروؤ وغيره په خوي او عادت کې وينم چه هغوي زما نا فرماني شروع کړي او ورانے کوي۔

## دَ حکمرانانوظلمونه

دارنګه کله د ګناه عذاب په دي رنګ کې وي چه حاکمان انسان ته مختلف عذابونه ورکړي او وجهه ئي دا ده چه تقوي او د الله رب العالمين طاعت د انسان دپاره د حفاظت مضبوطه قلعه او امن دي۔

او کله چه دې قلعه نه خارج شي نو هر طرف نه ورته خطره رامتوجهه شي د دشمنانو نه او قطاع الطريق نه او نورو اٰفتونه نه لکه څرنګه چه صدقات استغفار صله رحمي امر بالمعروف او نهي عن المنکر مونځونه او باقي عبادات سبب د حفاظت د انسان دي د عذابونونه او افاتو نه نو دارنګه ګناه سبب د هلاکت دے۔

## اوبل ضرر د ګناه دا دے چه په انسان باندې خپل نفس غالب شي

او جرأت مند شي او ګناهونو ته ئې راکاږي او که دا انسان د خير اراده اوکړي دا نفس ئې نافرمانی کوي او مخالفت ئې کوي او نه ئې پرېږدي خير کار ته۔

**خلاصه:** دا چه څومره يو بنده په ګناهونو جرأت مند کيږي نو دومره پدې هلاکتونه غالبيږي او دا حالات پرې الله سبحانه وتعالیٰ راوستلي وي د ګناه په وجه او څوك ئې د الله سبحانه وتعالیٰ نه نشي بچ کولی۔ ځکه قانون دا دے چه عذابونه هم الله سبحانه وتعالیٰ راولي او بچ کونکي هم الله سبحانه وتعالیٰ دے لکه حديث کې راځي «لَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيكَ»۔ "نشته دے ځائې د نجات ستا نه مګر ته ئې"۔

هر کله چه دا انسان د الله سبحانه وتعالیٰ نه باغي شو نو الله سبحانه وتعالیٰ ئې پدې مخلوقاتو وهي او تکوي

تردي چه توبه وباسي او تقوی اختیار کړي او انشاءالله تعالی که عمر اوګد شو په دې یو کتاب لیکو چه انسان د مصائبو او آفتونو نه به څنګه بچ کیږي۔

**فائده:** په اعمال صالحو او په تقوي د مصائبو مقابله پدې طریقه کیږي لکه یو انسان باندې بیماري حمله اوکړي لیکن د انسان بدني قوتونه د هغه دفاع اوکړي او د ځان نه وتنبوي خومره چه انسان کې ایمان او تقوي زیاته وي دومره به دا د الله سبحانه وتعالی په حفاظت کې وي د هلاکتونونه۔

## د هلاکتونو او عذابونو نه د بچاو اسباب

الله سبحانه وتعالیٰ په دنیا کې د مقاصدو حاصلولو دپاره اسباب پیدا کړي دي ، او بعضی د اسبابو نه هغه اسباب دي چه انسان پرې دعذابونو نه بچ کیږي او که په انسان باندې څه مشکلات راشي په دي عبادتونو به ترینه خلاصیږي دا جمع کیږي۔

۱ - اول سبب دعاء ده۔

حديث کې راځي: « لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ »(۱)

" تقدير نشي واپس کولے مګر دعا "۔

دارنګه حديث کې دي: «الدُّعَاءُ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ»(۲)

"دعا فائده ورکوي په هغه څه کې چه راغلي وي او هغه څه کې چه ندي راغلي"۔

۲ - شکر:

په شکر سره انسان د نعمت د زوال نه بچ کيږي او شته نعمتونه نور هم زياتيږي الله سبحانه وتعالیٰ فرمائي:

﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ﴾(۳)

"که تاسو شکر ادا کړو خامخا زه به زيات کړم تاسو لره"۔

---

(۱) احمد ۲۲٤۱۳

(۲) رواه احمد ۲۲۰٤٤ الاوسط۳ص٦٦۔ متدرك الحاكم۱ ۱٦۹۔

(۳) [إبراهيم: ۷]

٣ - التقوىٰ:

يعنی د ګناه نه پرهيز کول پدې انسان بچ کيږي د غمونو او مصائبو نه او دا خبره پدې لاندي نصوصو کې وګوري الله تعالىٰ فرمائي:

﴿ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ (١)

" د الله سبحانه وتعالىٰ نه اويريږي دي دپاره چه په تاسو رحم او کړي شي ".

الله تعالىٰ فرمائي:

﴿ فَمَنِ اتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (٢)

"چا چه تقوى اختيار کړه او اصلاح د عمل ئي اوکړه نو نه به وي يره په دوي باندې او نه به غمژن وي".

الله تعالىٰ فرمائي:

---

(١) [الحجرات: ١٠]

(٢) [الأعراف: ٣٥]

﴿ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ۝٧ ﴾[1]

"چا چې ورکړه کوله او تقوی ئې کوله * او تصدیق د جنت ئې اوکړو* مونږ به ورته اسانئ طرف ته لار اسانه کړو".

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ﴾[2]

" او هغه څوك چه د الله تعالى نه اويريدو نو اوبه ګرځوي دې لره ځائې د وتلو".

٤ ـ التزود بالطاعات وترك المحرمات.

اعمال صالحه توخه کول

يعني عبادتونه ډيرول او حرام پرېښودل پدې سره امن حاصليږي خصوصاً په عباداتو کې اذکار او دعاګانې ډير

(١) [الليل: ٦]

(٢) [الطلاق: ٢]

کوي په حدیث کې راځي نبي علیه السلام فرمائي: «یَا غُلَامُ احْفَظِ اللّٰه یَحْفَظْكَ »(۱)

”ته دا الله سبحانه وتعالیٰ د حکمونو حفاظت کوي او نواهیو نه ځان ساته الله سبحانه وتعالیٰ به ستا حفاظت کوي“۔

د الله سبحانه وتعالیٰ د حفاظت یوه عجیبه قصه سفینة (مولی د رسول الله ﷺ ) د سفر په حالت ئې کشتۍ ماته شوه او لاړ د یوې جزیري ته هغه زمري ولیدو او دینه مخکې روان شو او لاره ئې ورته وښودله چه کله لارې ته ورسیده نو اوازونه د هم هم کول یعني په شان د رخصت کونکي او بیر ته واپس لاړو۔ (۲)

سلفو ویلي: «من اتقى الله حفظ نفسه ومن ضیعه تقواه فقد ضیع نفسه والله غنيٌّ عنه»۔

(۱) مسند احمد ۲٦٦۹ - ۲۷٦۳ - ۲۸۰۳

(۲) سیر الاعلام البلاء ۳ ص ۱۷۳- مجمع الزوائد ۹ ص۳٦٦-

" څوك چه تقوی کوي نو ځان ئې محفوظ کړو د افاتو نه او څوك چه تقوی ضائع کړي نو ځان ئې ضائع کړه".

٥ - د الله سبحانه وتعالی د اولیاؤ نه ځان ساتل د هغوي ایذاء او تکلیف کولو نه ځان لرې ساتل او دا معنی یو حدیث کې ذکر ده.[١]

او څوك چه د الله سبحانه وتعالی اولیاءُنه وی مثلا: مجاهدین، حق پرست عالمان، او نور صالحین په تکلیف کې اچوي الله سبحانه وتعالی به پرې افات او هلاکتونه راولي.

کله چه حجاج سعید بن جبیر قتل کړو هغه دعاء اوکړه چه یا الله زمانه روسته ئې په بل چا مه مسلط کوه نو حجاج ته مرض په ګیډه کې ولړیدو او پنځلس ورځې روسته مړ شو او دا چغې به ئې وهلې (مالي ولسعید بن جبیر) او دا به ئې ویل چه زه د خوب اراده وکړم نو سعید

(١) صحیح البخاری ج٥ ص ٢٣٨٤.

ما د خپې نه نیسي۔[١]

بل سبب د مصائبو نه د حفاظت لپاره هغه دا دي: چه کله چه یو مبتلیٰ انسان ویني نو دا مسنون دعاء وایه « الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا » [٢]

او په حدیث کې راځي چا چه دا دعاء ویله الله تعالی به تول عمر دغه مصیبت نه وساتي۔

ځان ساتل د قطع د صله رحمي نه او د ظلم نه په حدیث کې راځي: «مَا مِنْ ذَنْبٍ أَجْدَرُ أَنْ يُعَجِّلَ اللهُ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ.. مِنَ الْبَغْيِ، وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ» [٣]

" نشته یو ګناه زر عذاب راوستونکے د قطع د صله رحمي او ظلم نه "۔

او شیخ الاسلام رحمه الله ویلي دي: «ان الله يُقيم الدولة

(١) حلية الاولياء لابى نعيم الاصبهانى ٤ ص٢٩٤۔

(٢) الترمذی٣٤٣١ ابن ماجه ٣٨٩٢۔ الطبرانى فى الاوسط ٥ ص٢٨٣۔

(٣) ابن ماجه ٤٢١١

العادلة وان كانت كافرة ولا يقيم الظالمة وان كانت مسلمة وَيُقَال الدُّنْيَا تدوم مَعَ الْعدْل».(١)

**خلاصه**: دا ده هغه خلق دنيا كې ذر ذرتباه كيږي چه ظلم كوي او يا خپلوانو سره تعلق ئې ختم كړي وي او ظلم په وجه انسان ذر ځکه هلاك كيږي چه مظلومان ورته دعاء دشر كوي۔

حديث كې راځي: كه مظلوم كافر هم وي نو دعائي قبليږي(٢) او يو بل حديث كې راځي نبي كريم ﷺ فرمائي:

«ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ، لَا شَكَّ فِيهِنَّ: دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَي وَلَدِهِ»(٣)

” درے دعاګانې قبليږي دعا د مظلوم دعا د مسافر خيري دپلار خپل بچي لپاره“۔

(١) الاستقامة ٢- ٢٤٧

(٢) مسند احمد ج٢ ص ٣٦٧- مصنف ابن ابی شيبه ج ٦ ص٤٨۔

(٣) مسند الإمام أحمد بن حنبل ٧٥١٠

امام زهري رحمه الله ويلي دي:

« ما بقي احد من قتلة الحسين الا عوقب في الدنيا ».

" ندے يو تن د قاتلانو د حسين رضي الله عنه نه مګر دنيا کې هغه ته سزا ملاو شوي ده ".

او دا د هغوي د ظلم په وجه په حسين رضي الله عنه باندې.

۸ - صدقه کول او د خير خيګړي کارونه کول ځکه د خلقو سره خير خيګړه کول ډير ثوابونه لري يو په کې دا دے چه انسان د هلاکت د ځايونو نه او د ناکاره مرګ نه محفوظ کوي او احسانات د الله سبحانه وتعالی د بندګانو سره سبب د حُسن خاتمې دے حديث کې راځي نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمائي:

«وَإِنَّ صَنَائِعَ الْمَعْرُوفِ تَقِي مَصَارِعَ السَّوْءِ... الحديث»[1]

"ښه کول د خلقو سره انسان بچ کوي د ناکاره مرګونو او بدو ځايونو د هلاکت نه".

---

(۱) المعجم الأوسط ۹٤۳ اخرجه الحاكم ج ۱ ص ۲۱۳ المعجم الكبير ج ۸ ۲٦۱ والاوسط ج ۱ ۲۸۹-

آخري خبره د هلاکتونو نه او افاتو نه د حفاظت دپاره مسنون اذکار په پابندي ويل ضروري دے خصوصا د بيګا او صبا اذکار او نور هغه اذکار چه خاص زمان او مکان کې ويل احاديث صحيحه وو کې راغلي دي او هغه استعاذې ويل او يادول ضروري دي چه کوم باب الاستعاذه د حديثو کتابونو کې راغلي ځکه هغوي کې دعاء د امن او حفاظت د هر قسم شرونو او ضررنونه دي۔

دا خبره بيانيده چه د ګناه په کولو دشمنان په انسان باندې غالب شي او مسلط شي او جرأت مند شي ځکه ايمان او تقوي الله سبحانه وتعالی د بنده دپاره د حفاظت مضبوطه قلعه ګرځولي ده او چه څوك دينه بهر شي او ګناهونه شروع کړي نو هر طرف نه ديته خطري متوجهه شي او خاصکر د ګناه په وجه نفس په انسان باندې غالب شي او داسې نافرماني شروع کړي که ته دا نفس دعوت کړي اعمال صالحو ته نو خبره درله نه مني بلکه تا ګناه ته

زوان کړي که ستا خوښه وي او که نه په تاریخ کې چه کوم قوم او یا یو کس د خپل رب نا فرماني کړي نو الله سبحانه وتعالی په دشمنانو وهلي او ټکولي دي۔

لکه د دې خبري بیان سورة بني اسرائل کې هم شته چه کله بني اسرائلو بغاوت اوکړو نو دشمنان پرې غالب شو او کورونه ته ورداخل شو او هر څه ئې ورته خراب کړل او داسې واقعات نور هم شته او دا موقع دشمن ته چه په لاس ورځي نو د ګناه د انسان په وجه سره په احد کې چه مشرکان غالب شو داهم په یو کوتاهي د صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم اوس هم چه مسلمانان په مختلفو ملکونو کې د کافرانو د لاس نه وهل خوري لکه عراق او افغانستان او فلسطین نو دا په وجه د اعمالو زمونږ اے الله تعالی هر ځائي کې مسلمانان غالب کړي او د ظلم د کافرانو نه نجات ورکړي او ته ئې ګناهونه معاف کړي۔

## د مصيبتونو او تکليفونو وخت کې انسان بې مدده او ناکام پاتې کيږي د خپل ګناه په وجه

يعني ګناهونه انسان سره خيانت کوي د نهايت احتياج او بې وسعي په وخت کې۔

مطلب دا دے چه ګناهونو په وجه د انسان زړه باندې زنګ راشي او خپل کار پريږدي هغه کارونه نشي کولے کوم چه هغه کلك کوي چه طاهر القلب وي او تقوي داره خلق وي ځان ئې د ګناه نه ساتلي وي او که څه ګناه ترې صادره شوي وي نو توبه ئې ايستلي وي لکه څرنګه چه دا ايمان او تقوي په وجه د مصائبو نه نجات حاصلئيږي په ذکر او دعا انابت او تضرع سره الله سبحانه وتعالىٰ ته او دا ايمان صفات پکاريږي د مصيبت په وخت کې او څوك چه ظالم وي او د الله سبحانه وتعالىٰ نافرمان وي د هغه زړه کې دا د نجات اوصاف نه وي او مثال ئې داسې دے لکه يو انسان

اسلحه لري ليکن زنګ شوي وي چه کله دشمن حمله اوکړي نو دا وسله بيا د دې نه پکاريږي بلکه احتياج په وقت کې ده سره بې وفائي اوکړي۔

## د ګناه په وجه خاتمه خرابيدل

او کله د يوې ګناه په وجه خاتمه د انسان خرابه شي دا سے ډير واقعات شته چه بعض کسانو ته د زنکدن په وخت کې تلقين وشي چې کلمه اوايه نو هغه نشو کولے چه کلمه ووائی او دا د ګناه په وجه سره ، لهذا ګناهونو کې يو خطره دا ده چه خاتمه د انسان ناکاره وګرځوي او چه کله ئي زنکدن وي نو ګناه ورته په ژبه کيني او نشي کولي چه کلمه اووائی ، الله سبحانه وتعالیٰ دې زمونږ خاتمه په ايمان کړي او خاتمه اهمه مسئله ده دومره لوي غم دے چه د انسان ملا ماتوي۔

## د ګناه په وجه دا نسان زړه ړنديږي

د ګناه په وجه په زړونو باندې ړوند والے راځي او کله

زړه ړوند نشي لیکن بصیرت او لیدل ئې کم شي ځکه چه عقوبات او اثرات د ګناهونو په خپلو خپلو درجات کې دي او زړونه چه ړانده شي بیا حق نه ویني او د حق او باطل جدائي نشي کولي ځکه زړونه ښه صلاحیتونه لري لیکن پدې شرط چه تقوي په کې وي لکه د بدنونو قوتونه په مرضونو فاسدیږي نودارنګه ګناهونه د زړه مرضونه دي دا د زړه صحت اوقوت خرابوي۔

**یوه اهمه نکته:** په دې ځان پوهول ډیر لازم دي چه انسان کمال په دوه نقطو بناء دے یو دا چه حق وپیژني او دویم دا چه حق غوره کړي په باطل باندې او حق واخلي او باطل پریږدي او د دې خبرې دپاره یو بل عبارت دا دے چه کمال د انسان په علم او عمل سره دي او چا کې چه قوي علم او عمل دواړه وي نو دینه د دین امام جوړیږي او د امامت او د دې کمال نه انسان محروم کیږي په ګناهونو سره۔

# ګناه انسان دَ خپل نفس نه غافل کوي

په ګناهونو کولو سره دانسان نه خپل ځان هیر شي د خپل مصالحونه غافله او بې پرواه شي ځان ته ئې هیڅ سوچ نه وي چه زه څه کوم او څه نه کوم د تباهي اعمال کوي او پرواهي نه لري او خطره نه محسوس کوي او دا خبره د الله سبحانه وتعالى په کتاب کې ډیر ځایونو کې ذکر ده یو د هغوي نه دا قول د الله سبحانه وتعالى دے فرمائي:

﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴾[1]

"او تاسو مه کیږئ په شان د هغه خلقو چه الله سبحانه وتعالى ئې هیر کړي او پرېښودي ئې وي نو الله سبحانه وتعالى دوي نه هیر کړل د دوي نفسونه او دا فاسقان دي"۔

او د ځان هیر کول دا دي چه انسان خپل مسؤلیت

(١) [الحشر: ١٩]

پرېږدي چه څه کول غواړي هغه نه کوي د خپل سعادت اسباب پرېږدي د خپل عیوبو اصلاح نه کوي اولوي لوي ګناهونه کوي او ځان ته ئې خیال نه وي او دا سوچ نه کوي چه زه دا څه کوم بې پرواه او غافله شي د خپل خیر او د کامیابۍ کارونو نه او د هلاکت نه ځان نه ساتي۔

## د ګناه په وجه موجوده نعمتونو باندې زوال راځي

موجوده او شته نعمتونه لرې شي او راروان نعمتونه بند شي د ګناه په وجه د الله سبحانه وتعالی نعمتونو ساتل د الله تعالی په طاعت سره وي دارنګه حاصلول د نعمتونو هم په طاعت د الله سبحانه وتعالی سره وي او بقاء د نعمتونو هم په تقوي سره وي او ګناهونه په نعمتونو زوال راولي لیکن د افسوس خبره دا ده چه دا حالات هر څوک ویني په خپل ځان او نورو خلقو کې چه حالات ئې خراب شو د ګناهونو په وجه او عبرت اخستونکي څوك نشته۔

## د ګناه په وجه د انسان نه ملائك لرې كيږي

په ګناهونو سره د انسان نه ملائك لري شي او لار شي ترينه او ملائك يو بهترين ملګري دي او دا ښه ملګري د ګناه په وجه د انسان نه لري شي اولاړ شي او چه ملائك لري شي نو انسان د هغه خير او فوائدو نه محروم شي چه كوم به د ملائكو نه ديته ورسيده مثلا الهام د ښه خبرو او دعاء كول او حفاظت كول او اعمال صالحو طرف ته تيزي وركول او زنكدن په وخت كې زيري وركول او لكه څرنګه چه ملائك ترينه لري شي نو شيطان ورته نزدي شي او دوست ئې وګرځوي او شيطان چه دچا دوست شي نو دا ډير ناكاره دوست دي۔

**خلاصه:** دا چه دنيا او اخرت كې د هلاكت او رسوائي سبب ګناهونه دي پدې وجهه چه ګناه د زړه مرض دے او چه كله دا كلك شي بيا انسان هلاك كوي لكه د مرضونو په وجه بدنونه تباه كيږي دارنګه د ګناهونو په

وجه زړونه تباه کیږي۔

**فائده:** د بدن د صحت دارومدار پدې خبره دے یعني درې اصول دي د صحت لپاره۔

۱: اول بدن ته بهترینه غذا ورکول چه حفاظت ئې اوکړي۔

۲: او دویم د بدن خالي کول د ضرري موادونه لکه جراثیم وغیره شو۔

۳ : دریم د ضرري شیانو نه پرهیز کول۔

همدارنګه د زړه صحت موقوف دے په درې خبرو باندې پدې درې شیانو د زړه ژوند بناء دے۔

۱ : اول زړه دپاره د غذا ضرورت دے او د زړه غذا ایمان او عمل صالح او د الله سبحانه تعالیٰ معرفت او د هغه محبت او دَ الله تعالیٰ ذکر او دَ قرآن کریم تلاوت او خوف دے پدې د زړه قوتونه محفوظ ګرځي۔

۲ : دویم خالي کول د زړه د ضرري او غلطو شیانو نه او د بدو صفاتونه چه زړه کې دننه پراته دے یعني ګمراه

کونکي خواهشاتو لکه حسد او غفلت او شهوت وغیره نو دي تولونه توبه فرض ده او خپل زړه دي مرضونونه پاکول غواړي۔

۳ : او دریم ځان ساتل ضرري شیانونه او هغه ګناهونه دے او دیته تقوي ویلي شي۔هر کله چه ده زړه صحت په دي دري خبرو بناء دے نو د مرض او د هلاکت وجهه ګناه کول دي ځکه چه ګناهونه زړه ته ضررونه جلب کوي او صحت او صفائي ته ئي نه پریږدي۔

**فائده:** کله چه پدې خبره پوهه شوې چه د ګناه په وجه مصائب او افات په انسان باندې راځي نو پدې هم ځان پوهه کړه چه عذابونه مختلف شکلونه لري کله یو قسم عذاب او کله بل قسم عذاب په چا یوه نوعه د عذاب وي او په چا بله نوعه د عذاب وي څه عذاب دنیا کې راځي او څه قبر کې او څه اخرت کې او څه عذابونه په مال د انسان باندې او څه په بدن د هغه باندې او څه په زړونو باندې

اوڅه په عزت څه په بله طریقه او کله عذاب فورا (سمدستی) د ګناه په وجه راشي او کله څه زمانه وروسته او کله انسان په یو ځل تباه شي او کله په دمه دمه الله سبحانه تعالیٰ ئې راونسي او کله انسان په یو قسم عذاب کې راګیرشوي وي لیکن خپل ځان ته ئې سوچ نه وي۔

## دګناه په وجه دانسان زړه سختیدل

د ګناه په وجه زړونو کې قسوت او کلك والي راځي یعني نرمي ترینه لري شي او خوف په کې نه وي مالك بن دینار ویلي دي « مَا ضرب عبد بعقوبة أعظم من قسوة الْقلب »۔[1]

"ندے راغلے په یو بنده باندې د قسوة القلب نه لوي عذاب"۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په الاقتضاء کې فرمائي: چې د ګناهونو په نتیجه کې زړهٔ سختیږي۔

---

(۱) الفوائد۱۱ ۹۷

# د ګناه نه د صبرېدو اسباب

د ګناهونو نه د صبرېدلو او پرهيز کولو اسباب او طريقي او تدابير لکه څرنګه چه دې دنيا کې د مختلفو شيانو اسباب دے او دنيا ته دارالاسباب ويلے شي نو دارنګه پدې دنيا کې د ګناهونو نه د بچ کيدلو هم اسباب شته دے او پدې اسبابو سره به بنده تقوي دار جوړ شي او د ګناه نه به نجات بيا مومي.

۱ - اول سبب: د ګناه نه د بچ کيدلو دا دے چه انسان پدې علم راولي چه ګناه يو بد شي دے او رذالت او قباحت لري او هم پدې وجهه الله سبحانه تعالیٰ ترينه خپل بندګان منع کړي يعني دا د الله سبحانه تعالیٰ رحم او کرم دے چه خپل بندګان بچ ساتي د قباحتونو او رذالتونو نه لکه دنيا کې دا قانون دے چه پلاران خپل اولاد لره د ضرري شيانونه ساتي او زمونږ د الله سبحانه و تعالیٰ رحم په خپلو بندګانو باندې ډير زيات دے د

رحم د والدينو نه په خپلو بچو باندې.

او پدې خبره که عاقل او فطرت سالمه واله انسان فکر اوکړي نو د هغه به نفرت راشي د ګناهونونه او دا احساس به په کې پيدا شي چه هره ګناه يو قباحت او رذالت دي نو ځان ترينه لري ساتل ضروري دے.

۲ - دويم سبب د ګناهونو نه د بچ کيدلو دا دے چه بنده حياء اوکړي د خپل رب نه ځکه الله تعالی رب العالمين هر حالت کې خپل بنده ويني اوپدې باندې علم لري او د هغه صفات دا دے چه رقيب دے بصير دے سميع دے عالم الغيب دے هيڅ شي د هغه نه پناه ندي او د هيڅ عمل نه غافله ندے که هر حالت کې او په هر مکان کې يو انسان ګناه کوي ليکن د الله سبحانه و تعالیٰ نه دا پناه نه وي.

## يوه ډيره دَ عبرت والا قصه

عبدالله بن عمر رضى الله عنهما يو ځل تيريدو په شپونکي نو ابن عمر رضی الله عنه ورته اووئيل: يو څاروے

راباندے خرڅ کړه نو هغه ووئیل: زۀ غلام یم دا زما نه دی ، نو ابن عمر رضي الله عنه امتحان په طریقه ووئیل: چه مولیٰ ته به ووائی چه شرمخ اوخوړلے ، نو هغه اووئیل: چه الله چرته دے ، یعني الله ته به څه جواب ورکوم ، ځکه هغه خو مونږ وینی ، نو ابن عمر رضي الله عنه هم ووئیل: « فأین الله » او بیا ئی اوژړل او دا شپونکے ئی واخستو او ازاد ئی کړو ، او دا ګډے بیزے ورلره هم واغستلے او ورته ئی اوبخلے۔ [طبراني ، مجمع الزوائد: ۹/ ٤٧ ]۔

مطلب دا دے: چه څوك د خپل رب نه حیاء کوي هغه د خپل رب د نافرماني: کولو نه ځان ساتي د خپل رب نه حیاء کولو په حقله یو عجیبه حدیث دے یو کس وویل: نبي ﷺ ته چه ماته وصیت اوکړه هغه ورته ووېل: «أُوصِيكَ أَنْ تَسْتَحْيَ مِنَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ كَمَا تَسْتَحْي

رَجُلًا مِنْ صَالِحِي قَوْمِكَ»(١)

"زه درته وصيت کوم چه الله سبحانه وتعالیٰ نه حياء کوه لکه څرنګه چه ته حياء کوي د خپلې قبيلې د يو صالح انسان نه".

٣ - دريم سبب: د هغه نعمتونو لحاظ کول چه الله سبحانه و تعالیٰ په تاکړي دي او د هغوي حفاظت کول د زوال نه يعني د ګناه په وجه به دا نعمتونه ستانه لاړ شي ځکه حالات خرابيږي د انسان د ګناه په وجه باندې که ته دا فرمائي: چه ګناه اخوا کيږي زمونږ نه نو څه طريقه ده د ځان بچ کولو؟

**جواب**: د ګناه نه روسته په صدق سره توبه ويستل ځکه د خوشحالي اصول دا دي چه تقوي کوه او شکر

(١) أمالي ابن بشران ١٥ كتاب الزهد لاحمد - شعب الايمان للبيهقى الصحيحة رقم الحديث.١٧٤٠

کوه او که څه تکلیف راشي نو الله سبحانه و تعالیٰ ته پدې حال کې رجوع کوه او که چیرې ګناه درنه صادره شي خپل رب ته توبه اوکړه او د مؤمنانو ژوند هم پدې طریقه روان وي چه د ګناه په وجه نعمت لري کیږي او کوم نعمت چه الله سبحانه و تعالیٰ د بنده نه دګناه په وجه واخلي دا هغه پورې نه واپس کیږي تر څو چه ګناه نه ئې توبه نه وي کړي او داخه پته او پناه خبره نده د دے مثال زمونږ خپلو نفسونو کې هم شته او په نورو خلقو کې د دې مشاهده مونږ کوو چه بنه حالات چه خرابیږي نو دا په وجه د سرکشي د انسان ځکه اکثر انسانان داسې دي چه کله الله تبارك و تعالیٰ پرې نعمتونه اوکړي مستي شروع کړي او قسما قسم ګناهونوته لاس واچوي، لکه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

﴿ كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ۝٦ أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ۝٧ ﴾

الله سبحانه و تعالیٰ پدې طریقه ترینه انتقام اخلي چه

یو نعمت ترینه لري کړي او بیا بل نعمت ترینه لري کړي.

او کله داسې حد ته ورسیږي چه ټول نعمتونه ترینه لاړ شي او دا خبره قران کریم کې بار بار ذکر شویده الله تعالی فرمائي:

﴿ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ ﴾(۱)

خامخه الله تعالیٰ نه بدلوي هغه حالات چه په خلقو دي تر دې چه خلق بدل کړي خپل حالات د نفس.

د آیت مطلب دا دے چه کله انسان حالات بي دینۍ ته روان شي نو الله تعالیٰ ترینه خپل نعمتونه لري کړي ایمان عظیم نعمت دي او دا لوي نعمت نقصاني کیږي ده ګناه په وجه لکه حدیث کې راځي نبي علیه الصلاة والسلام فرمائي: کله چه انسان زنا کوي نو ایمان ترینه اوچت شي.

ځکه د ایمان حقیقت ده الله تعالی نه خوف دے الله

(۱) [الرعد: ۱۱]

تعالی سره محبت د الله تعالی معرفت د الله تعالی نه حیاء کول په الله تعالی توکل کول دا حقائق ایمانیه دي او څوک چه زنا وغیره باندې جرأت کوي نو دا ترینه لري شي۔

د بعض سلفو نه نقل دي چه زه د ګناه په وجه باندې یو کال پوري د تهجدو نه محروم شوے وُم۔

او بل کس د علماء نه ویلي دي: چه زه د ګناه په وجه د قران د فهم نه محروم شوم یو شاعر ویلي دي:

إِذَا كُنْتَ فِي نِعْمَةٍ فَارْعَهَا ـ فَإِنَّ الْمَعَاصِي تُزِيلُ النِّعَمْ(۱)

کله چه ته په نعمتونو کې ئې نو د دې نعمتونو لحاظ کوه ځکه ګناهونه نعمتونو باندې زوال راولي او ته د دې نعمتونو حفاظت کوه په طاعت د الله تعالی ځکه الله تعالی زر انتقام واله دے۔

**مختصره** دا ده چه د رب العالمین نافرماني کول دا نعمتونو ته اور لګوي او عافیت د الله تعالی د نعمتونو

(۱) شعب الایمان ٤٢٣٨

بقاء پدې کې ده چه انسان تقوي کوي.

محترمو دَ هغه چا نه عبرت واخلئ چه ګناهونو په وجه نعمتونه ترينه واغستلے شو.

(اللّٰهُمَّ اني اعوذبك من زوال نعمتك)

٤ - څلورم سبب: د ګناه نه د ځان ساتلو او پرهيز کول خوف او خشيت الهي دے د خپل رب نه خوف او يره کول دا خبره واضحه ده هر چا ته د چا په زړه کې چه د الله تعالى نه خوف وي.

او ده هغه د عذابونو نه خطر لري هغه د ګناه نه جدا کرځي او پدې علم لري چه ګناه کول په شان دَ خپے ايخودلو دی په بمونو او په ځائی دَ دهماکه کول.

او د الله تعالى خوف په هغه چا کې وي چه ايمان ئې کامل وي دارنګه په خپل رب باندې او ده هغه په اسماء او صفات باندې علم لري هغه انسان به څرنګه د الله تعالى نه ويريږي چه الله تعالى ئې ندي پيژندلي.

لهذا دا ضروري خبره ده چه مونږ خپل رب باندې علم راولو او ده هغه په صفاتو باندې علم راولو او د هغه بهترینه طریقه دا ده چه په قران کریم باندې ځان پوهه کړو ځکه چه دا ده الله تعالی د معرفت کتاب دے او دا یاد لرئ چه د رب نه خوف دا معنی نده چه یو کس صرف په خوله وائی: چه زه د خپل رب نه یریږم ځکه چه داسې دعوی شیطان هم کوي او منافقان هم وائي: چه مونږ الله تعالی نه یریږو بلکه د خوف الهي علامه دا ده چې سره د قدرت نه ګناه پریږدي لکه د یوسف علیه الصلوة والسلام پشان۔

دارنګه ګناهونو نه پرهیز کول دا علامات د خوف دي او د صحابه کرامو بعض واقعات د خوف په حقله مخکې تیر شوي۔

۵ - پنځم سبب او تدبیر د ترک ګناه دپاره د خپل رب سره نهایت زیات محبت کول او په تولو اسبابو کې دا قوي

سبب دے د تقوي دپاره ځکه دا قانون دے چه دوست مخالفت نه کوي د خپل دوست نه او دا خبره صحيح حديث کې راغلې ده چه الله تعالى او رسول الله ﷺ چه انسان ته ډير محبوب نه وي نو دا مؤمن ندي۔

**او که دا سوال اوکړي:** چې زمونږ په زړه کې د الله تعالى سره د محبت د پيدا کيدلو اسباب څه دي نو جواب دا دے چه د دے ډير اسباب دي او تفصيل په بل ځائي کې راشي ليکن بعض اسباب ئې دا دي۔

۱ – د الله تعالى ذکر په کثرت سره کول۔

۲ – د الله تعالى په هغه نعمتونو کې فکر کول چه په تا ئې کړي دي۔

۳ – سره ده تدبرنه ده قران تلاوت کول۔

٤ – نوافل عبادات ډير کول۔

٥ – د الله تعالى چه کوم شي محبوب وي هغه له ترجيح ورکول په خپل خواهش باندې۔

٦ - د الله تعالی په اسماء حسنی او صفاتو باندې ځان پوهول.

٧ - قيام الليل اهتمام كول.

٨ - په مجالسو د صالحينو كې حصه اخيستل.

٩ - كوم شي چه بنده لره الله تعالى نه لري كوي هغه نه ځان ساتل.

٦ - شپږم سبب: غيرت كول په خپل عزت او نفس باندې او د غيرت تقاضا دا ده چه ګناه نه به ځان ساتي ځكه په ګناه انسان ذليله ګرځي ګناه كول د بې عزته كيدلو لوی سبب دے ځكه معاشره ده مسلمانانو كې فاسق او فاجر انسان ذليل او سپك وي او دا د ګناهونو په وجه او انسان بيا په شمار او صف د بې كارو او غلطو خلقو كې حسابيږي ځكه چه د ګناه يو عقوبت دا دے چه انسان ذليله شي او دا به هغه پورې ذليله وي چه د ګناه نه ئې توبه نه وي كړي.

۷ - اووم سبب: قصر الامل یعني امیدونه لنډه ول او مرګ ډېر یادول او همیشه د اخرت د سفر دپاره ده تیاري کوشش کول او په اوګدو امیدونو سره انسان د شیطان په ګرفت کې راځي او دا بیا سبب شي د ګناهونو او توبه ته بیا هم نه وزګارېږي دارنګه په عباداتو کې ئې حلاوت او مزه نه وي او خاوند ده اوګدو امیدونو د حساب کتاب نه غافل وي په دې وجه په شریعت کې د اوګد امید بدي ویلي شوي.

۸ - اتم سبب: اجتناب کول د فضولیاتونه دا د شیطان انسان ته د راتلو لوي دروازه ده او دا یو عظیم نقصان دے چه انسان په فضولیاتو کې اخته شي یعني فضول خبري او فضول مجالس او فضول نظر کول او فضول خوبونه او فضول خوراك او څښاك او د هغه یو وجهه دا هم کیدے شي چه انسان کله عادت شي په فضولیاتو او دا ورته په حلاله طریقه نه ملاوېږي نو بیا ورله حرام کوي لیکن دا د خپل فضول خواهشات پوره کوي لهذا

په مباحاتو کې توسع نده پکار۔

۹ – نهم سبب په خپل زړه کې شجرة الايمان قوي کول يعنې ايماني ونه کلکول په خپل زړه کې او په اندازه د قوت ايماني د انسان د ګناه نه نفرت وي ځکه په ايمان سره زړه ژوندے وي او چه زړه ژوندے وي نو هغه احساس کوي د ضرر د ګناه او په کومو زړونو باندې چه د ګناهونو په وجه مرګ راغلے وي هغه د ګناه بدوالے او ضرر نشي محسوسولے لکه شاعر فرمائي: وَمَا لِجُرْحٍ بِمَيِّتٍ اِيْلَامُ۔

چه مړے د زخم په درد نه پوهيږي۔

**سوال:** د ايمان قوت او مضبوطوالے به په څه سره راځي؟

**جواب:** دا خبره ډيره اهمه ده او کثير الخير دے او د تفصيل ځائي: دا نه دے ليکن د خپلې فائدې او د خپلو مسلمانانو ورونو د خير خواهۍ دپاره په اختصار سره دا ليکل کيږي۔

۱ ۔ اول شے د ايمان د قوت دپاره د علم نافع زده کول دي يعني د قرآن کريم فهم او تدبر دا الله تعالی تبارك و

تعالیٰ د اسماء او صفاتو باندې علم راوستل او سیرت د نبي ﷺ باندې ځان پوهه کول د دین اسلام محاسنو او خوبیانو کې سوچ کول د صحابه کرامو او سلفو تاریخ مطالعه کول په مخلوقاتو او کائناتو کې د عبرت دپاره فکرکول او عبادات په کثرت سره کول سره د اخلاص نه او اتباع السنة نه په مجالسو د تقوي او ایمان او په درسونو د قران او سنت کې شریک کیدل.

۱۰ - سبب ده ګناه نه د تقوي کولو دا دے چه انسان پدې خبره یقین جوړ کړي او کلك علم راولي چه د ګناه عاقبت او انجام ناکاره دے په ګناه کې عارضي طور سره لذت او خوند وي لیکن انجام ئې همیشه خفګان عذاب تاوان او ذلت وي. او دا لږ شان لذت په ګناه کې داسې مثال لري لکه ګوره او خوږو کې چاته زهر ورکول ، او انسان دوکه شي او د معمولي خوږو په وجه زهر وخوري نو دارنګه د ګناه د لږې مزې او د ډیر نقصان مثال دے نو انجام به ئې هلاکت وي.

# د ګناه بعض عواقب او نتائج

د مخ بد رنګي او بدوالي ، په زړه کې تياره او پرېشاني او غم او فکرونه او حالات پراګنده کيدل او دشمنانو مقابله کې کمزوري کيدل ځکه ګناه په زړه مرګ راولي او دښه کارونو توفيق کم شي او عقل او راي د انسان فاسد شي حق په انسان باندې پټ شي د ګناه په وجه انسان ورك او ګمنام شي او وقت او عمر ئې ضائع شي او دا وقت لويه سرمايه د بنده ده که خوك پوهيږي او د خلقو ترينه نفرت پيدا شي د خپل رب سره ئې تعلق وران شي او (قسوة القلب) کې اخته شي او د رزق نه ئې برکت ختم شي او عمر کې ئې برکت نه وي او علم نه محروم شي دارنګه د ذلت لباس ورته په غاړه شي او ګناهونو په وجه زړه تنګ او خفه وي او دشمنان ئې سپك کړي او هغه پرې غالب شي او ناکارو خلقو ملګرتوب ئې نصيب شي لکه چرسيان بې نمازان او نور ظالمان فاسقان وغيره

او د دې ملګرو په وجه وخت او مال ئې ضائع شي او په مختلفو غمونو کې راګير شي ، ناكاره ملګرے ځانله لوئ غم دے کۀ څوک پوهيږي.

۱۱ - سبب د ګناه د پريښودلو دپاره دعاء ده ځکه د خير كار توفيق هم الله تعالى وركوي او د ګناه نه بچ کيدل هم د الله تعالى په مدد سره کيږي د ګناه نه پرهيز دا يو حاجت دے او دا يو اهم مقصود دے نو د دې سوال او غوښتل لازم دي د خپل رب نه او زړونه د الله تعالى په لاس کې دي اړوي او راړوي ئې څرنګه چه هغه وغواړي او الله سبحانه و تعالىٰ د يوسف عليه السلام دعاء ذكر كړي ده چه هغه هم د ګناه نه د بچاو دعاء د خپل الله تعالى نه كړي ده او كه يو انسان په ګناه کې واقع شوي وي بيا به هم د الله تعالى نه د نجات دعا كوي.

۱۲ - دولسم سبب يو بهترين علاج دا هم دے چه انسان ځان لرې وساتي د ګناه د ځايونو نه مثلا سينما او

د فاسقانو حجري او بعضې هوټلونو نه او حمامونو نه يعني مطلب دا دے چه کله بنده ته دا علم وي چه فلاني ځائي ته که زه لاړم نو دا ګناه به زما نه کيږي نو هغه ځائي نه دځان لري ساتي حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي: چا چه واوريده چه دجال دے فلاني ځائي کې دي نو د دينه د لري شي۔ احمد والترمذي۔

دا يو قانون دے چه د ګناه مجلس پرېښودل لازم دي مثلا کوم مجلس چه د غيبت وي او ياد نورو ګناهونو وي نو هغه نه لري کيدل د تقوي سبب دے۔

۱۳ - ديارلسم سبب: زهد دے يعني دنيا عارضي ژوند دے بقاء نه لري او دا ژوند د ازمائش ژوند دے او اصل ژوند د اخرت ژوند دے۔

۱٤ - څوارلسم سبب: خپل ايمان او تقوي او ديانت غالب کول په خپل خواهشاتو باندې او مجاهده کول په مخالفت د نفس کې ځکه ګناه پدې وجهه کيږي چه

انسان موافقت اوکړي د خپل نفس د خواهشاتو سره.

۱۵ - پنځلسم سبب: پدې کې فکر او سوچ کول چه د ګناه په کولو څومره خير د انسان نه فوت کيږي مثلا ايمان زائله شي کله د ګناه په وجه دارنګه ښائسته اوصاف د انسان نه لرې شي او دغه انسان د خپلو ګناهونو په وجه په بدو صفاتو ياديږي لکه زاني او ظالم او سود خور او خائن او بدعتي او مقلد جامد او حرام خور او دوکه بازوغيره وغيره.

۱٦ - شپاړسم سبب فکر کول په نقصاناتو او مفاسدو د هغه ګناه چه داورته بلل کيږي مثلا: که نشه وي د هغې ضررونه دې وګوري او د هغې انجام دې وګوري څوك چه پدې ګناه کې اخته وي نو هغوي نه دې عبرت واخلي او دارنګه پدې قياس کړه حال د نورو ګناهونو.

۱۷ - اوولسم سبب خپل ځان نه د ګناه محرکات او عوامل لرې کول يعني کوم څيزونه چه ګناه پيدا کيږي

مطلب دا دے چه انسان په ګناه کې په کومو وجوهاتو واقع کیږي نو هغه مادي دي لري کړي او هغه لاري بندول غواړي مثلاً د خپل نظر حفاظت کول ځکه چه بي ځایه نظر د عشق او د زنا سبب دے او خپل خواطر د زړه فکرونه دي برابر کړي او غلط سوچونه دي نه کوي د خپل رب نه دي حیاء وکړي چه هغه عالم دے د زړه په فکرونو او خیالاتو باندې۔

۱۸ - اتلسم سبب په خپل ځان کې د تقوي بواعث پیدا کول چه هغه الهي خوف دي د الله تعالی عذاب نه خوف او یره کول دے او د جنت امید کول او د الله تعالی نه حیاء کول د خپل رب تعظیم کول وغیره۔

۱۹ - نولسم سبب په قران او سنت کې دي مطالعه اوکړي چه د تقوي یعني پرهیز کول د ګناه نه خومره فوائد لري او د تقوي بعضی فوائد به روسته راشي انشاء الله تعالی۔

۲۰ - شلم سبب د تقوي بهترین سبب دا دے چه انسان

نفس خپل مطمئن کړي مستغني کړي په حلالوسره د حرامو نه يعني حلال ورته فراهم کړي چه ميلان ئې ختم شي حرامو ته دا زمونږ د رب العالمين عظيم احسان دے چه کوم شي په بندګانو حرام کړي دي نو د هغه په عوض کې حلال ورته ازاد کړي دی او دا زمونږ د کمزوري په وجه مثلا زنائي حرامه کړي ده او نکاح ئي حلال کړي ده او څلور پوري ئي ښځې رواکړي دي او ظلم او د مسلمان قتل ئي حرام کړي او جهاد حکم ئي کړي دی موسيقي ئي حرام کړي ده او د قران اوريدل ئي عبادت ګرځولي دی او سود او سوال ئي حرام کړي دی او تجارت ئي رواکړي دے او شراب نشي حرام کړي دی شهد انګور او نور طيبات ئي حلال کړي۔

**فائده:** د بعضی اعمالو صالحو په هکله قران او سنت کې ثابته ده چه پدې سره انسان کې تقوي راځي او بنده لره د ګناه نه منع کوي• لکه مونځ کول الله تعالیٰ فرمائي:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ﴾(۱)

"مونځ منع کول کوي د بې حیائۍ اوناروانه".

دارنګه الله تعالی د روژې په باره کې فرمائي: ﴿لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾(۲)

روژه فرض شوې ده دې دپاره چه تاسو متقیان شي او وجهه ئې دا ده چه روژې سره د شیطان لاري بندي او تنګې شي او شهوات کم شي او ګناهونه د شهواتو په وجه کیږي او روژې باره کې حدیث کې راځي چه څوك دواده کولو طاقت نه لري پدې لازم ده روژه نیول ځکه چه دا خصي کیدل او تکول د انسان دے او بل حدیث کې راځي «إِنَّ إِخْصَاءَ أُمَّتِي الصِّيَامُ» (۳)

---

(۱) [العنکبوت: ٤٥]

(۲) [البقرة: ۲۱]

(۳) شرح السنة ٤٨٤

زما د امت خصي كيدل روژه نيول دے.

دارنګه حديث کې راځي: الصَّوْمُ جُنَّةٌ.[۱]

"روژه ډال دے".

پدي ټولو کې دا معنى شته دے چه په روژه تقوى او د ګناه نه بچ کيدل راځي دارنګه قيام الليل د شپي مونځ د تهجدو کول حديث کې راځي ومنهاة عن الاثم معنى دا ده چه دامنع کوي د ګناه نه.

خلاصه دا ده چه پدې اعمالو کې الله تعالى رب العالمين دا تاثير ايخي دي چه انسان لره تقوي دار او پرهيزګاره ګرځوي او پدې اعمالو صالحوؤ سره د ګناهونو نه بچ کيږي.

۲۱ - يوويشتم سبب: پدې يقين کول چه ګناه سره د انسان نه نعمتونه زائل کيږي ځکه د يو انسان سره لذت او مزه د ګناه او نعمتونه او مزه د جنت نه جمع کيږي حديث کې دي نبي عليه الصلاة و السلام فرمائي:

(۱) سنن ابن ماجه ۳۹۷۳

«حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، وَحُجِبَتِ الجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ».[۱]

مطلب دا دے چه د دنيا مشکلاتو په وجه جنت حاصليږي الله تعالی فرمائي کافروته به وويلے شي په ورځ د قيامت کې ﴿أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا﴾[۲] : تاسو خپلې مزې په دنيا کې ختمې کړي دي۔

۲۲ - دويشتم سبب: دارنګه دا سوچ کول دي چه عمل د اخرت توخه ده عمل صالح د جنت توخه ده او بد اعمال د جهنم توخه ده۔

۲۳ - درويشتم سبب: پدې يقين کول چه قبر کې د انسان ملګري د انسان عمل دے او ښه عمل به دفاع او شفاعت کوي د انسان دپاره۔

۲٤ - څليرويشتم سبب: خپل عقل او فکر پديکې مصرفول چه اعمال صالحه انسان شان او مرتبه اوچته

(۱) صحيح البخاري ٦٤٨٧ أخرجه مسلم في أول كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها رقم ۲۸۲۲ – ۲۸۲۳۔

(۲) [الأحقاف: ۲۰]

وي او عمل صالح واله روح به بره ځي او د اسمان دروازې به ورته کلاویږي او ګناهونه انسان لره ذلیله کوي او زوال هلاکت او تاوان طرف ته ئي روانوي۔

**فائده:** پدې علم او یقین ساته چه دا خپل اندامونه په انسان به ګواهي کوي او ملائك مقرر دي د انسان د اعمالو په لیکلو او چه انسان کوم عمل کوي دا هر څه ښه او بد لیکي او اخرت کې به دغه دیوان انسان باندې وړاندې کړیشي او ملائك به هم ګواهي کوي چه تا دا کار کړي او دا کار دې کړے نو هیڅ د خلاصے لاره نشته بغیر د دینه چه دنیا کې خپل رب ته توبه وباسي او ګناه پرېږدي۔

٢٥ - انسان هله د ګناه نه نفرت کوي او د هغه انجام کې فکر کوي چه کله د انسان زړه ژوندے وي او ژوندي زړونه دا محسوسوي چه دا نفع ده او دا ضرر دے او کوم زړونه چه د ګناهونو په وجه مړه شوي وي هغه پدې درد نه پوهیږي ځکه مخکې وویلي شوي وچې "وَمَا لِجُرْحٍ بِمَيِّتٍ إِيْلَامُ"۔

**سوال:** د زړه د ژوند او د اصلاح اسباب څه دي ؟

د ګناهونو په وجه کوم زړه مړ وي د هغه زړه د ژوندي کیدلو طریقه او علاج او اسباب څه دي؟

**جواب:**

۱ - دغه ګناهونه پرېښودل او توبه کول خپل رب ته۔

۲ - د قران تلاوت سره د تدبر او سوچ نه د هغه په مقصود او معنی کې او د الله تعالی ذکر په کثرت سره کول الله تعالیٰ فرمائي:

﴿أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ﴾ (۱)

"خبر دار د الله تعالی په ذکر سره زړونو ته اطمینان ملاویږي"۔

دارنګه الله سبحانه و تعالیٰ فرمائي:

﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ

(۱) [الرعد: ۲۹]

﴿وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا﴾ (۱)

"مؤمنان هغه خلق دي چه کله الله تعالی یاد کړي نو زړونه ئي یریږدي او کله چه اولوستلے شي ایاتونه زمونږ په دوي نو زیاتوي دوي لره ایمان"۔

۳ - مجالسة الصالحین: د تقوي والا کسانو سره اختلاط کول او د هغوي اقتداء کول او د هغوي زیارت کول۔

٤ - دیني وعظونه اوریدل او باجماعت مونځ کول۔

٥ - مرګ یادول۔

٦ - د رب په کائناتو کي سوچ کول۔

۷ - حلال خوراك کول اولږ خوراك کول۔

۸ - سوچ کول په انجام او اثارو د ظالمانو کي۔

۹ - د قیام اللیل اهتمام کول۔

۱۰- او د زړه د اصلاح دعاګاني کول لکه یا مقلب القلوب ثبت قلبي علي دینك۔

---

(۱) [الأنفال: ۲]

دارنګه يا مصرف القلوب صرف قلوبنا على طاعتك.

## اسباب موت القلوب

د زړه د فساد او مرګ يو څو اسباب په اختصار سره دا دي:

۱ - اعراض كول د حق نه او د حق سره دُشمني كول.

۲ - ګناهونه كول زړه وژني.

۳ - حرام خوړل.

٤ - موسيقي اوريدل.

٥ - حرام نظر مثلا پردو زنانو ته كتل او نور غلط نظرونه.

٦ - فاسد كتابونه او اخبارونه او مجلې كتل چه هغې كې فحاشي او عرياني وي او غلطې خبري په كې وي.

۷ - د الله تعالى د ذكر نه غافل كيدل.

مالك بن دينار ويلي دي، دارنګه ابراهيم الخواص هم ويلي دي:

"دَوَاءُ الْقَلْبِ خَمْسَةُ أَشْيَاءَ: قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ بِالتَّدَبُّرِ، وَخَلَاءُ

الْبَطْنِ، وَقِيَامُ اللَّيْلِ، وَالتَّضَرُّعُ عِنْدَ السَّحَرِ، وَمُجَالَسَةُ الصَّالِحِينَ"(۱)

**ترجمه:** پنځه شیان د زړه دواء ده په تدبر سره د قران تلاوت کول او تهجد کول ځان وږے کول او الله تعالی ته زاري کول او عاجزي کول پیشمني کې او د نیکانو مجالسو کې ناسته کول۔

## دګناهونواسباب

پدې بحث کې هغه اسباب بیانیږي چه د کومو اسبابو په وجه انسانان په ګناهونو کې واقع کیږي او دا خبره پدې وجهه لیکو چه تقوي سبب د سعادت او د جنت دے او دارنګه ګناهونه سبب د مصائبو او مشکلاتو او د مختلفو عقوباتو دے نو دا پیژندل مونږ لره ضروري دے چه بنده څرنګه په ګناه کې واقع کیږي او قانون دا دے چه شر پیژندل دی دپاره د دے چه ځان ترینه وساتلے

(۱) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۱۰\ ۳۲۷

شي يو اهم شے دے۔

پدې بحث کې د دے خبرې وضاحت او بيان کيږي چه د ګناه عواقب او بيا د هغوي نه ځان ساتل ضروري دي ځکه چه سبب د حرامو حرام وي۔

اول سبب: په ګناه کې واقع کيدلو بنيادي وجهه ضعف الايمان والتوحيد يعني ايمان کمزوري او د عقيدې خرابيدل دي مطلب دا دے چه ايمان بنده لره منع کوي د الله تعالی د مخالفت نه څومره چه د بنده ايمان کې قوت وي دومره هغه کې تقوي وي او د ګناه نه نفرت وي او هغه پدې وجهه چه د ايمان حقيقت جوړدے د الله تعالی د خوف او د الله تعالی د محبت او د الله تعالی نه درجاء او اميد کولو نه او په خپل الله تعالی توکل کول او د خپل رب نه حياء کول اوکله چې په صدق سره داصفات په زړه کې موجودوي هغه په ګناه اقدام نه کوي ځکه حديث کې

راځي «لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ»(۱)

مطلب دا دے چه زناکار کې ایمان نشته ځکه پدې وخت کې په کې د رب نه حیاء نشته که چرته وي نو کامل ایمان والا د ایمان او حیاء په وجه دزنانه ځان ساتي۔

**دویم سبب: الغفلة عن ذكرالله تعالىٰ۔**

د الله رب العزت د ذکر اویاداشت نه غافله کیدل دا سبب دے د ګناهونو د کولو او د هغې وجهه دا ده چه د الله تعالی یادول دا مضبوطه قلعه ده د انسان دپاره او چه بنده د الله تعالی ذکر پریږدي نو د هغه ډیر ضررونه دی یو ضرر ئې دا دے چه انسان بیا د خواهش تابع وي او ګناهونه کوي او دې خبرې ته اشاره ده پدې قول د الله تعالی کې:

﴿وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا﴾(۲)

---

(۱) سنن ابن ماجه ۳۹۳۶

(۲) [الكهف: ۲۸]

"چه د هغه انسان خبره مه منه چه مونږ د هغه زړه غافله کړے دے د الله تعالی د خپل ذکر نه او بیا دا خواهش پسې روان دے او د دے کار ددی زیاتي کول دی"۔

کله چه یو انسان د الله تعالی ذکر په ژبه نه کوي دارنګه په زړه کې نه وي او هغه مجالسو د وعظ کې نه کیني چه هلته ایماني بیانونه کیږي او اصلاحي وعظونه دے نو داسے انسان نه ګناه داسے صادریږي لکه دباران په وجه چه بوټي راټوکیږي اویا لکه څرنګه چه اورنه سوزیدل پیدا کیږي دارنګه د الله تعالی د ذکر نه غفلت کول سبب د پیداوار د ګناه دے لهذا د الله تعالی ذکر پریښودل د ډیر ضررونو سبب دے او یو ضرر ئې دا دے چه د ګناهونو لاري ازادې شي او دا هره خبره ډیر تفصیل غواړي او پدې هره مسئله باندې د قران او سنت نه ډیر دلائل شته او کوم انسان چه په زړه کې د اخرت فکر او درد لري او د الله سبحانه و تعالیٰ د عذاب نه یریږدي د

هغه دپاره لږي خبري هم کافي دي ان شاء الله تعالی.

۳ - دریمه وجهه الشهوات المضلة یعني ګمراه کوونکي خواهشات دا انسان لره د خپل رب نه نافرمان جوړوي مثلا د فرج شهوت او د مال شهوت او ګیډي شهوت او د جاه او عزت شهوت او نور شهوات لکه الله تعالی فرمائي:

﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ ﴾(۱)

"اوروسته د دوینه ناکاره خلق راغلل چه مونځونه ئي ضائع کړل او شهواتو پسې روان شو".

نو دې ایت، کې د مانځه د ضائع کیدلو سره شهوت پرستۍ بیان کړے ده ځکه پدې شهواتو سره ئي مونځ ضائع کړے دے نفس او خواهش انسان رابنکاري ګناه ته او د دې علاج دا دے چه خواهشات کنترول کې ساتل دارنګه هغه عبادات کول چه هغې سره شهوات کمیږي او یا سمیږي مثلا ته ګوره حدیث د ( بخاري ، رقم ۵۰٦۵،

---

(۱) [مریم: ۵۹]

ومسلم ، رقم: ١٤٠٠ ) کې راغلي نبي علیه السلام فرمائي: چه څوك ځوان وي او د نكاح طاقت نه لري نو روژه دې نیسي ځکه چه دا ده شهوت ټکول دي او دا د انسان خصي كول دي او په حديث د شرح السنة کې راغلي نبي عليه السلام فرمائي:

« الصيام خصاء امتي ».

روژه زما د امت خصي كيدل دي.

او په روژه کې ګناهونه ډير كم شي ځکه شهوات د شيطان لاري دي پدې باندې بنده ته راځي او كله چه انسان روژه دار وي نو د شيطان د راتلو لاري تنګې شي.

٤ - څلورم سبب: الشك في الدين.

كله چه د بنده يقين خراب شي او شكي شي په خپله مسلمانۍ کې بیا ترینه د الله تعالى خلاف کیږي او څومره چه د انسان كلك يقين وي په قيامت راتللو او د بعث بعد الموت او د الله تعالى مخې ته د ورتلو هغه کې نهايت

تقوی وي د ګناه نه.

**سوال:** د يقين جوړولو اسباب څه دي ؟

**جواب:**

١: د يقين او د زيادت يقين د الله تعالى نه دعاء كول لكه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به دعاء كوله د يقين علم او د ايمان د زيادت.

٢: د يقين جوړيدلو په قران کې تدبر كول يعني څوك چه د قران معنى باندې علم لري او فكر په کې كوي پدې يقين برابريږي او زياتيږي.

٣: په خپل علم عمل كول.

٤: په كائناتو کې فكر كول د دنيا په حوادثو کې سوچ كول.

٥: و النسيان الغفلة والاعراض.

غفلت دا معنى د چه انسان بې پرواه شي د هغه څه نه چه كول ئې پكار وي او كوم شي کې بيداري ضروري وي نو دا د هغه نه غافل وي او د الله تعالى په كتاب کې ځائي په

ځائي د غافلانو بدي ذكر شوې او دا مهلك مرض دے كله چه انسان كې مضبوط شي نو د دے عواقب او اثار ډير بد دى ځكه غافله انسان د الله تعالى ذكر نه كوي او نور عبادات نه كوي او په داسې كارونو كې مشغول شي چه انسان لرې كوي د الله تعالى نه او غافله انسان كه د دين كار كوي نو بيا هم په صحيح طريقه ئې نه كوي يعني اخلاص په كې نه وي احسان او د سنت اتباع په كې نه وي په خشيت او انابت طريقې سره عبادت نه كوي او د اعراض معنى دا ده چه د الله تعالى د دين نه مخ واړه وي او نسيان دا معنى ده چه الله تعالى او د الله تعالى حكمونه داسې پريږدي لكه چه ترينه هير شوے وي۔

٦: النفس الامارة بالسوء۔

يعني هغه نفس چه په ګناه حكم كوي داسې ناكاره نفس والا د خپل نفس په وجه ګناهونه كوي الله تعالى فرمائي: په قصه د يوسف عليه الصلاة والسلام كې ﴿إِنَّ

النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ﴾[1]

: خامخا نفس امر کوي په بدو کارونو او هر کله چه د خپل نفس په وجه شرونه او فسادونه پیدا کیږي نو نبي ﷺ په خطبة الحاجة کې دا دعاء کوله: "ونعوذ بالله من شرور انفسنا"۔

او مونږ پناه غواړو د خپل نفس د شرونو نه۔

په نفس کې طبعي بعضې بد اوصاف دي لکه ریا، شهوت، بخل، ظلم، جهل او چه کله نفس په انسان غالب شي نو هغه قوتونه ظهور اوکړي او خپل اثر اوکړي او د دې علاج دا دے چه وقت په وقت د نفس اصلاح کول او د هغه تزکیه کول او د نفس سره محاسبه کول په بعض کارونو خپل نفس ته سزا ورکول او نور هغه اسباب په کار راوستل چه د نفس تقویه او تزکیه او طهارت پرې حاصلیږي۔

۷: د ګناه هغه شیطان دے او دا عظیم دشمن دے د

---

(۱) [یوسف: ۵۳]

انسانانو او دا همیشه پدې انتظار دے چه انسانان به څرنګه تباه کړم او ګمراه کړم او داسې یوه موقع ګوري چه انسان په ګناه کې واقع کړي او پدې دشمنۍ کې ئې ډیره زمانه تیره شي لهذا تجربه هم لري او ټول کوشش ئې دا دے چه د بنده ایمان خراب کړي او وسوسه ورته وغورځوي او مونږ بار بار منع کړے شوي یو په کتاب الله تعالی کې د شیطان د تابعدارئ نه او حقیقت کې څومره بلایا چه انسان باندې راځي دا هم د ابلیس او د هغه د لښکرو په وجه ځکه چه دا انسان ته ګناه ښائسته کوي او تیزي ورکړي د ګناه په کولو او بنده ته د ګناه فائده رامخې ته کړي لکه څرنګه چه آدم علیه الصلاة والسلام ته وسوسه اوکړه او بیا د هغه په وجه لوي تکلیف ادم علیه الصلاة والسلام ته ورسیده لکه دا خبره سورة الاعراف او سورة الزخرف کې ذکر شویده او دارنګه معامله د اولاد ادم علیه الصلاة والسلام سره

هم کوي چه ګناه ورته ښائسته کړي او د هغه عارضي فوائد ورته ښائي او مثال ئي داسې دے لکه په ګوړه کې چاته زهر ورکړي۔

دغه شان دا خلق هغه عارضي فائده د ګناه ته ګوري او هغه لوي لوي ضررونو ته نه ګوري۔

**فائده:** د شيطان د شر نه به پدې بچ کيږو چه الله تعالی ته تضرع او دعاء وکړو چه اے زما ربه زما د دين ته حفاظت اوکړه او د الله تعالی ذکر په کثرت سره کول که د الله تعالی مدد نه وي نو دا يو مکار فراډي مخلوق دے د شر نه ئي بچ کيدل ګران دي۔

## يو عجيب مثال

د شيطان او د ايمان داسې مثال دے لکه يو انسان سره غوښه او نور خوراکونه وي او خواته ئي وګے سپے پروت وي او هم دې طرف ته ګوري او په شړلو او يا چغو هيڅ پروا نه لري اوپدې غوښه د حمله کولو اراده لري نو

طريقه ئي دا ده چه مالك ته به اواز اوکړي چه دې سپي نه مي بچ کړه نو د الله تعالى نه به دعاء کوي چه دينه ماته حفاظت راکړي۔

٨: د ګناه د کولو او د ايمان د ضائع کيدلو فتنة هغه دنيا ده۔

چه کله يو انسان دنيا ته مقصد ووائي: او ټول ژوند پدې مصرف کوي او محبت د دنيا پدې باندې غالب شي دا هم انسان باغي کوي د الله تعالى نه او نا راسته کوي د عباداتو نه او غافل شي د الله تعالى د ذکر نه او کله بيا دنيا ډيرولو دپاره د الله تعالى احکام ضائع کړي مثلا: مونځ ورته پرېږدي او يا ناروا کارونه کوي يعني دنيا پسې ليونے شي۔

ومن شك فلينظر الي ابناء الدنيا۔

سلفو به دا ويل: حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ۔ (١)

د دنيا سره مينه کول د هرې ګناه سر دے۔

---

(١) حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ١٦ ٣٨٨

او دنيا پرستي لويه فتنه ده ځکه قرآن کريم کې د دنيا حقارت او فناء بيانيږي.

دارنګه متفق عليه حديث کې راځي:

فَوَاللهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشي عَلَيْكُمْ وَلكِن أَخْشى أَنْ تُبْسَطَ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ، كَمَا بُسِطَتْ عَلَي مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا، وَتُلْهِيكُمْ كَمَا أَلْهَتْهُمْ (١)

مطلب دا دے نبي کريم ﷺ فرمائي: زه په تاسو دَ فقر نه نه يريږم ليکن پدې يريږدم چه دنيا به مو ډيره شي او په هغه کې سيالي او مقابله به شروع کړي او مخکنو امتونو په شان به تاسو هم هلاك کړي او په حديث د ترمذي کې راځي نبي عليه الصلاة و السلام فرمائي:

«إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِي المَالُ» (٢).

"د هر امت فتنه وي او زما د امت فتنه مال دے".

(١) مسند الإمام أحمد بن حنبل ١٧٢٣٤

(٢) سنن الترمذي ٢٣٣٦

لهذا د انسان اصلاح په زهد کې ده او دا دنیا فناء والا ده او د دې خوشحالیاني همیش والے نه لري او د دنیا خوشحالي د غمونو سره ګډه وډه وي او اخرت عذابونه هم همیشه دي او نعمتونه او جنتونه هم دائم دي۔

۹: قرناء السوء۔

انسان چه فاسق ګرځي او د الله تعالی نه لري کیږي او په مختلفو مشکلاتو او نارواوو کې واقع کیږي نو دا د غلطو ملګرو په وجه او بدو خلقو سره د تعلقاتو انجام او اثار ډیر بد دي او ډیر کسان دنیا نه کافر تلي دي او خاتمه ئې خرابه شوې ده په وجه د ناکاره ملګرو هغه ملګري نه دے پرېښودے چه ایمان راوړي او توبه وباسي او د دې یو واضح مثال قصه د ابو طالب ده چه مرګ ته نزدې حالاتو کې نبي کریم ﷺ دعوت د ایمان او توحید ورکولو لیکن خواته ئې ملګري او دوستان ناست وو هغوي دا نه پرېښودلو ایمان ته دا انجام د بدو ملګرو

دے حدیث کې راځي نبي علیه الصلاة والسلام فرمائي:
«الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ»[۱]

سړے په دین د دوست خپل وي نو ودېې ګوري چه چا سره مو دوستانه ده۔

معنی دا ده چه که بدو خلقو سره دې دوستانه وي نو ته به۔

هم بد کردار جوړېږي فارسي کې یو شعر دے:

صحبت صالح ترا صالح کند    صحبت طالح ترا طالح کند۔

د دوستانو عادات او اخلاق یو بل کې چلیږي اوپدې معنی دا یو فائده مند شعر دے:

عَنْ الْمَرْءِ لَا تَسْأَلْ وَسَلْ عَنْ قَرِينِهِ
فَكُلُّ قَرِينٍ بِالْمُقَــــارَنِ يَقْتَدِي

د یو سړي نه تپوس مه کوه لیکن ملګري ته ئې ګوره چه تعلقات ئې چا سره دي ځکه ملګري د ملګري

(۱) سنن الترمذي ۲۳۷۸

اقتداء کوي۔ د پنجپیر شیخ القران رحمه الله تعالی یو مشهوره مقوله ده چه د بل کلي دله نه پیژنې نو ستا د کلي دله سره به ئي دوستانه وي۔

**عجیبه:** خبره دا ده چه انسان کومو حیواناتو سره تعلق وي دهغۀ صفات په دې اثر کوي ، د انسان تعلق په انسان ډیر زیات اثر کوي ځکه چه دلته وحدت نوعي دے اول د سړي ایمان او تقوي ګوره بیا ورسره تعلق ساته نو په تا باندې به ډیر ښه اثر وي او د انسان د بدئ دا علامه کافي ده چه تعلق ئي فاسقانو او بدعتیان او ګمراهانو سره وي لکه فرعون تعلق د هامان سره وو داسې د دنیا عام قانون دے او پدې بیا سوچ کوه او پدې معنی کې د امت د مشرانو او سلفو وصایا او اقوال موجود دي او دا تاکیدونه دي چه بدعتیانو ملیانو سره تعلق نه ځان ساتئ دارنګه بدو حاکمانو او اقتدار والاو نه او عام فاسقانو او فاجرانو نه او دا یو څو اقوال مونږ ذکر

کوو د فائده دپاره.

۱ - عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي:

«اعْتَبِرُوا النَّاسَ بِأَخْدَانِهِمْ» (۱)

: د خلقو اندازه اخلئ په ملګرو او دوستانو سره.

۲ - سفیان فرمائي: ډیر مؤثر شے په خرابیدلو او ضائع کیدلو د سړي کې ملګرے دے.

۳) قتادة رحمه الله ویلي دي:

إِنَّا وَاللهِ مَا رَأَيْنَا الرَّجُلَ يُصَاحِبُ مِنَ النَّاسِ إِلَّا مِثْلَهُ , وَشِكْلَهُ , فَصَاحِبُوا الصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِ اللهِ تعالى لَعَلَّكُمْ أَنْ تَكُونُوا مَعَهُمْ , أَوْ مِثْلَهُمْ» (۲)

یعني خلقو د هغه چا سره ملګرتیا کوي چه د ده په شان وي د صالحینو سره ملګرتیا کوئ تاسو به هم صالحین شئ.

(۱) المعجم الكبير ۸۹۱۹

(۲) الإبانة الكبرى لا بن بطة ۵۱۱

٤ - فضيل رحمه الله ويلي دي:

لَيْسَ لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَقْعُدَ مَعَ كُلِّ مَنْ شَاءَ.(١)

: ندي جائز مؤمن لره چه زړه ئي چا سره غواړي او هغې سره کيني.

دا اثار ابن بطه ذکر کړي دا حديث مخکې تير شوے دے چه ناکاره همنشين او ملګرے په شان د دوکان اهنګر دے.

مطلب دا دے چه ملګرتوب نوم د موافقت دے نو فاسقانو سره موافقت تباهي ده ځکه چه هغه به مونځ نه کوي اوموسيقي به اوري او نورګناهونه به کوي او تعلقاتو په وجه ته به هم ورسره حصه اخلي ځکه که نه کوي بيا تعلقات خرابيږي اوپدې خبره ډير تفصيلات شته ليکن مونږ پرېښودل چه کتاب رانه اوګد نشي لکه څرنګه چه مجالس الصالحين او صحبت د صالحانو د تقوي او اصلاح سبب دے نو دارنګه د بدو خلقو

(١) الإبانة الكبرى لابن بطة ٥١٦

صحبت د فساد او هلاکت سبب دے بد ملګري انسان داسے خرابوي لکه پمن ښاروي چه روغ سره يو ځائې شي او هغوي ته هم خارښ ولګوي نو هغه پمن ښه نشي ليکن هغه نور ځان سره پمن کړي۔

**فائده:** زمونږ ډير طالبان ملګري چه کله د صحيح عقيدې والا عالمانو سره درسونه وکړی نو ذهن ئې برابر وي او تقوي په کې وي د بدعاتونه نفرت کوي او په قران او سنت باندې غيرت کوي او ژوندي زړونه لري او نفس ئې پاك وي او کله چه يوه کال بدعتي ملا سره تير کړي نو هر څه ورته خراب کړي لکه هغه طالبان چه شيخ عبد السلام رحمه الله تعالی سره دقران درسونو کې شريك شوي وي نوهغه وګوري چه څومره عظيم خير د دوينه خور شوے دے او خوريږي او د ډيرو انسانانو د هدايت سبب جوړ شوی دي او ډير ځله داسې وي چه يو طالب العلم ډير قابله وي او ښه استعداد لري ليکن په

شاګردئ او صحبت د بدعتي ملا کې پاتي شي نو د دې بدعتي استاذ پرې دومره بد اثر وي چه ذهن ئې ورته فاسد کړے وي او چه فارغ شي نو غلط استاذ او ناکاره تربيت په وجه طمع ګر وي او دنياوي لالچونو په وجه حق پټوي بلکه ضال مضل ترينه جوړ شي دا ولې ځکه چې استاذان ئې صالحين نه وو ځکه چې مجلس او ملګري خامخا اثر لري د خير په ځائي کله ترينه شرخور شي کله کله د انسان د ګمراهۍ سبب هم دا ملا شي۔

مطلب دا دے چه ده سره د علم سوچ وو ليکن د خپل تربيت سوچ نه وو او بلا عمله علم څه کمال نلري بلکه علم وسيله دعمل ده او دا په څه وجهه دا پد ې وجهه چه دا په صحبت د ناکاره استاذانو کې پاتي شوي۔

خلاصه دا ده چه انسان فاسق او نشه ئي او نسواري اوچرسي اوبدکردار ګرځي په سبب د ملګرتوب د هغه کسانو چه دا تير شوي ګناهونه کوي۔

۱۰: دګناهونو دادي چه يو ګناه انسان راکاږي بلي ګناه ته لکه څرنګه چه اعمال صالحه وو کې دا خاصيت دے چه انسان ته توفيق حاصل شي د بل عمل صالح لکه د روژې په وجه انسانان ډير اعمال صالحه شروع کړي دارنګه د حج په وجه انسانان الله تعالی د ډيرو ګناهونو نه واړه وي او د تهجدو په وجه انسان ته الله تعالی باقي ديني کارونه اسان کړي نو دارنګه ګناه نه ګناه پيدا کيږي مثلا: حسد په وجه انسان ډيرو ګناهونو کې واقع شي دارنګه زناکاري سبب د قتل او د ظلم او ډيرو ګناهونو شي کله انسان ته د ګناه عذاب پدې طريقه ورکړے شي چه بله ګناه کې واقع شي يوې ګناه نه بله ګناه کې پيداکيږي مثلا: يوائې زنا نه څومره ګناهونه پيدا کيږي سوچ کوه او کله چه توبه ونه کړي نو دا بنده هر طرف نه ګناهونو کې راګير شي حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي:

«وَإِنَّ الكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفُجُورِ».[۱]

دروغ انسان رسوي نافرمانيو ته.

او دا قانون دے چې «المعصية تجر الي المعصية» ګناه انسان لره کش کوي بلې ګناه ته.

او سلفو ويلي دي «ان من عقوبة الذنب الذنب بعده».

: او د ګناه بعض عقوبت دا هم شي چه بلې ګناه ته راښکارې.

نو دا روسته ګناه صادر شوه په وجه د مخکې ګناه باندې.

۱۱: د ګناهونو جهل او بې علمې ده په عذاب او نقصان د ګناه باندي او دارنګه جهالت په قباحت د ګناه او څوك چه علم لري په اخرت او په عذابونو د الله تعالى او پدې خبره چه الله تعالى ماته ګوري زما هيڅ حالت د هغه نه پناه ندے او ملائك زما اعمال ليکي او

(۱) صحيح البخاري ٦٠٩٤

اندامونه به په ما ګواهي کوي دقيامت په ورځ داسې انسان به څرنګه ګناه او مخالفت اوکړي د رب العزت او دا علم انسان لره منع کوي د ګناه نه او څوك چه جاهل او ناپوهه وي پدې خبرو هغه ګناه ته وړاندې والے کوي مؤمن له دا ضروري ده چه د الله تعالی د ذکر نه نه غافله کيږي او دارنګه هميشه دې د خپل ايمان تجديد کوي يعني خپل ايمان دې تازه کوي او نوے کوي دې او ځان دې وساتي د شك نه په ايمان کې ځکه څوك چه حقيقي علم او ايمان لري په صفاتو د الله تعالی باندې او د هغه په عذابونو نو هغه د ګناه د ځائې نه لرې ګرځي او د ګناه وجهه دا وي چه انسان کې ظلم او غفلت او جهل او شهوت او غصه او شك وغيره راشي او بد ګماني په خپل رب باندې دا کارونه چه چا کې وي هغه قسماقسم ناروا کارونه کوي يعنی ګناه کول جهالت دے او ګناه ته پدې وجهه جاهليت ويلے شوے دے ځکه واقع کونکے

انسان لره په ګناه او ظلم کې جهل دے د انسان په انجام او عقوبت د دې ګناه باندې صحابه کرام ویلي دی: إِنَّ كُلَّ مَنْ عَصَى الله تعالى فَهُوَ جَاهِلٌ۔ (۱)

هرڅوک چې نافرماني کوي د الله تعالی دا جاهل دے۔

۱۲: د ګناه د شیطان وسوسه ده یعنی هغه غلط خیال چه زړه ته راولي او په هغه کې ښائسته کول د ګناه وي او تیزي ورکول وي په ګناه باندې او شیطان وسوسه دا بنیاد د هر شر او فساد دے په وسوسه سره ګناه داسې موجودیږي لکه تخم نه چه فصل پیدا کیږي الله تعالی سورة الاعراف کې د آدم علیه الصلاة والسلام د ونې دَ خوړلو په وجه هم وسوسه د شیطان ښودلې ده هر کله چه وسوسه دا تخم د هرې ګناه دے نو سورة الناس کې پناه غوښتل شویده د دینه او صاحب د مشکوة د وسوسه باره کې یو بهترین باب راوړے دے په هغه ځان پوهه کول

(۱) مدارج السالکین ۱/ ٤٦٧.

غوارې او مطلب داسې دے چه انسانانو باندې مشکلات د ګناهونو په وجه راځي او د ګناهونو وجهه د شیطان وسوسه ده او دا وسوسې کله انسي شیطان د طرفه وي او کله د جنې شیطان د طرفه وي۔

## دشیطان د وسوسو نه دبچ کیدلو اسباب

۱ – پدې خبره عقیده ساتل چه الله تعالی ما پدې وسوسه نه رانیسي ځکه چه دا عقیده څوك لري هغه نه شیطان واپس کیږي ځکه هغه پوهه شي چه پدې څه اثر رانغے نو مایوسه شې او خپل کار پرېږدي۔

۲ – بله طریقه دا ده چه هغه فکر ختم کړي کوم کې چه شیطاني وسوسو د وجهه نه انسان سوچ کوي او د دي په ځائي بل فائده مند کار کې فکر او زړه مشغول کړي یعنی فکر بدلول غواړي۔

۳ – اعوذ بالله ویل۔

٤ – امنت بالله ورسوله ویل۔

۵ - هو الاول والاخر اياتونه لوستل.

٦ - معوذتين تلاوت كول.

۷ - دعا كول چه ربه دې وسوسو نه ما خلاص كړه.

۸ - كلمه د توحيد ويل.

۱۳: خواطرالسوء دے يعنی غلط سوچونه او هغه خيالات چه ګناه ته بلل كوي او په زړه كې ځي راځي او د شيطان انسان ته د راتلو يو څو لارې دي هغه ته مداخل الشيطان ويل كيږي په هغو كې يو خطرات وسوسې دي لهذا مسلمان باندې د بدو خيالاتو او تصوراتو پرېښودل لازم دي او دهغه په ځاى دي ښه فكرونه او سوچونه اوكړي او څوك چه دخپلو خطراتو اودزړه وسوسو اصلاح ونه كړي نو انجام به ئې داوي چه ګناه كې به واقع شي ځكه وسوسه داتخم دګناه ده او داخطرات تدريجاً په دمه دمه كلك كيږي او بيا درجې دعزم ته ورسيږي او بيائې پرېښودل ګران شي په زړه چه څه راځي مثال ئې د روانو

اوبو دي چې تيريږي ليکن کله يو غلط سوچ زړه ته راشي او شيطان هغه مضبوط کړي او سبب دګناه او دغفلت په وجه کله زړونه فاسد شي او دګناهونو دجذبې نه ډك شي دبدن تقوي او اصلاح په زړه پورې موقوف ده او دزړونو داصلاح او تقوي عظيم سبب اصلاح دخواطر قلبيه ده او دزړه دناكاره اوبدو تصوراتو او وسوسو داسې مثال دي لکه يو بسرکي دأور په اوچولرګوکې ولګي كه زر ختم شي څه نقصان به ونه کړي او كه بې پروےي وشي او غفلت ترينه وشي اور به ترينه ولګي او بيا به ئې وژل ګران شي دارنګه زړه ته څه خراب خيالات راشي اول کې د هغوې دزړه نه لرې كول اسان وي ليکن كه پرېښودل شي او دا چې ارادې ته ورسيږي او بيا ترينه عزم جوړشي نو بيائې لرې كول هم ګران دي او ددې په وجه بيا انسان هم ګناهونه كوي۔

**سوال:** چه ډير مسلمانان دا وائي چه د زړونو دا بدې

ارادې او دا بې کاره سوچونه او غلطې وسوسې مونږ ته او زمونږ نورو مسلمانانو ورونو ته راځي د دینه د خلاصیدو طریقه څه ده او د دې مشکل علاج څه دي ؟

**جواب:** د خواطرو د اصلاح یو څو طریقې دي پدې چه عمل او غور او فکر وشي الله تعالی په توفیق سره به د دې پریشانی نه خلاص شو.

۱: د خطراتو قلبیه د اصلاح دا ده چه انسان پدې باندې علم او یقین ولري چه زمونږ رب زمونږ په زړونو عالم دے زمونږ د الله تعالی په صفتونو کې یو صفت دے علیم بذات الصدور یعنی په سینه کې چه دننه څه وي یعنی د زړه په حالاتو عالم دے دارنګه قرآن کریم کې الله تعالیٰ ویلي:

﴿ يَعْلَمُ خَآئِنَةَ ٱلْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِى ٱلصُّدُورُ ﴾ (۱)

"الله سبحانه وتعالی علم لري په خیانت د سترګو او

(۱) [غافر: ۱۹]

په هغه څه چه زړونه ئې پټوي"۔

دارنګه بل ځائي کې زمونږ د رب په صفاتو کې راغلي دي الله تعالی فرمائي:

﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ﴾ (١)

"الله تعالی تبارك و تعالیٰ په هر شي نګهبان دے"۔

یعنی مونږ له ضروري ده چه همیشه مراقبه وکړو پدې خبره خپل ایمان تازه کو او ځان ته ئې بیا بیا یادوو سره د یقین نه چه الله تعالی په ظاهر او باطن زمونږ باندې عالم دے او د هغه صفت دے عالم الغیب والشهادة دارنګه الله تبارك و تعالیٰ فرمائي:

﴿ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُ ﴾ (٢)

" پدې پوهه شی چه خامخا الله تعالی ته معلوم دي هغه څه چه ستاسو په زړونو کې دي نو ویریږی د هغه نه"۔

(١) [الأحزاب: ٥٢]

(٢) [البقرة: ٢٣٥]

پدې آیت کې تهدید او دهمکې ده چاته چه زړه کې ئې اراده لري د ګناه۔

٢: د زړه د خواطرو او بدو وسوسو بل علاج دا دے چه خپل رب نه حیاء کول او په هغه نعمتونو نظر کول چه په مونږ ئې کړے دے او دې خبرې نه حیاء کول چه د الله تعالی په لیدلو کې د هغه نعمتونه بیرته د هغه د نافرمانۍ دپاره استعمالول دا لوي ظلم او لويه بې حیائي ده ځکه چه دا کارونه حیاء او شرافت واله خلقو سره لائق ندي۔

٣ - دریمه طریقه: داصلاح الخواطر دا ده د الله تعالی جلال او قدر په زړه کې پیدا کړي دا زمونږ درب بې قدري ده چه داسې خواطر او سوچونه مونږ کوو او هغه راته ګوري او په حدیث کې راځي: «ولکن ینظر الي قلوبکم والاعمالکم»۔ [ رواه مسلم ]۔ یعنی الله تعالی زړونو ته ګوري۔

٤ ـ غلط سوچ کونکو د الله تعالی نه خوف او یره

وکړئ داسې نه چه دې سوچونو په وجه د الله تعالی په نظر کې ذلیله شئ او بې عزته شئ او خکته وغورځیږئ د الله تعالی د نظر نه۔

۵: دا ده چه د الله تعالی محبت او خشیت او خوف او معرفت او توکل له ترجیح ورکول په غلطو فکرونو او تصوراتو باندې او د نور خیالاتو په ځائې دې صفاتو له زړه کې ځائې ورکول۔

٦: علاج دا دے چه ویریږه او دا غلطې وسوسې د زړه نه لرې کړه ځکه چه کیدے شي چه د دې خطراتو او تصوراتو په وجه داسې ګناه کې واقع شې چه د هغې په وجه ایمان نه محروم شې او ایمان به درنه سلب شي۔

۷: پدې ځان پوهه کړه چه د زړه غلط خطرات او فاسد فکرونه داسې مثال لري لکه خلق چه یو مرغۍ ښکار کوي نو هغه ته دانې واچوي نو دارنګه دا هر سوچ یو شبکه او جال دے د شیطان او پدې طریقه انسان

ګناه کې واقع کوي۔

۸: چه دا ناکاره سوچونه او تصورات او خطرات د ایماني صفاتو سره نه جمع کیږي چه هغه خشیت او خوف او انابت او د الله تعالی معرفت او دا خپل مابین کې تضاد لري او ضدین په یو محل او یو زړه کې نه جمع کیږي او چه کوم یو غالب شي نو هغه بل ضد به ختمیږي او پدې خبره هغه زړه پوهیږي چه تقوی په کې وي او ایماني ژوند لري او کوم زړه چه د ګناه په وجه مړ وي هغه ته د دې احساس نه کیږي۔

۹: د خواطرو د اصلاح دا ده چه یو مؤمن پدې خبره ښه فکر اوکړي چه خیالات او خطرات او تصورات داسې دریاب دے چه ساحل نه لري کوم زړه چه دې کې یو ځل داخل شي نو هغه بیا ډوب شي او پدې تیارو کې حیران پاتې وي او کله ورته د خلاصې لاره هم نه وي معلومه یاد لره په کوم زړه باندې چه داسې خیالاتو اوخواطر او

فکرونه غالب او حاکم شي هغه د کامیابۍ نه ډېر لرې وي او په مختلفو عذابونو کې اخته وي.

۱۰: دا خواطر او دزړه هوائي بې معنی او بې مطلبه خیالات دا د احمقانو ارزوګانې دي او دا یو صحراء او دشتې په مثال وسعت او فراخي لري او هیڅ فائده نه لري اخري نتیجه ئې ندامت او رسوائي او شرمندګي ده په کوم زړه باندې چه غلط خیالات او وسوسې غالب شي هغه سینه کې دزړه سلطه او غلبه ختمه شي او بیا انسان د وهمونو او وسوسو کې راګیر شي او زړه د خرابیدو په وجه بیا ټول اندامونه او قوتونه فاسد شي.

لهذا ګران محترم وروره ټولې مسنونې دعاګانې په اهتمام کوه او خصوصا هغه دعاګانې چه د زړه اصلاح او حفاظت او استقامت سره تعلق لري لکه دا دعاء مثلا:

«يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» (۱)

(۱) سنن الترمذي (۳۵۲۲) والسنة لابن أبي عاصم وقال الألباني: حديث صحيح (۱۰۰).

«يَا مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ» (١)

**خلاصه**: دا ده چه بنيادي شے اصلاح د زړه ده او د زړه د اصلاح دپاره اهم اصل او قانون د خواطرو اصلاح ده او د بدو خواطرونه خپل زړه ساتل لازم دي او که راشي زړه کې نو بيا د لرې کولو کوشش ضروري دے بدو فکرونه او خواطر د هر شر اصل دي لکه څرنګه چه ښه سوچونه د خير بنياد دے.

**فائده**: د زړه مثال د يو زرخيزي زمکې دے لهذا پدې کې کرونده د ايمان او صفات ايمانيه وو ضروري ده چه هغه د الله تعالى معرفت او د الله تعالى محبت او په الله تعالى توکل او د الله تعالى نه دعاء کول او الله تعالى ته رغبت او الله تعالى ته انابت کول ځکه دا يو قيمتي جزء دے په بدن د مؤمن کې خالي پرېښودل ئې هم ندي پکار او دارنګه بدو اوګنده سوچونو نه هم دزړه پاك ساتل

(١) الاذكار للنووي ١١٦٨ ورواه مسلم (٤/ ٢٠٤٥)-

ضروري دي مطلب دا دے چه د خپل زړه نګراني او حفاظت ضروري دے د بدو خواطر او وسوسو نه۔

دویم د خپل زړه د باغ او به کول پکار دي په د رسونو د قران او سنت او د اسماني وحې او انجام به ئي داوي چه دا زړونه به امدن ورکړي د اعمال صالحه او په ځای د بدو فکرونو په خپل زړه کې خواطر ایمانیه او ښه فکرونو ته ځائي ورکول ضروري وي ځکه چه شیطان تیار په انتظار وي کله چه زړه غافله او خالي ویني د ایمانیاتو نه نو دغه موقع نه کار اخلي او خپل کار کوي پدغه زړه کې ځکه علماء کرام وائي په زړه کې دوه خبرې لازم دي التخلية عن الرذائل والتحلية بالفضائل د بدو نه زړه پاکول او په ښائسته صفاتو مزین کول پکار دي هاں ! ښه او بد پیژندل د دې میزان او د معلوماتو ځائي قرآن او سنت دے او د دې دواړو نه دا حاصلیږي په توسط د یو رباني عالم سره دا ځکه وایو چه بعضے

مسلمانانو سره داغم پیدا شي چه خپل زړه او نفس اصلاح کوم لیکن بنه استاذان ورته ملاؤ نشي او چرته ناکاره پیران او بدعتیانو ملیانو باندې پیخ شي او دا غریب پرې دوکه شي او هغه په سپینه جامه کې د الله تعالی او رسول دشمنان ئي نو د دې مسلمان دین او دنیا دواړه تباه کړي او بیا مرید شي د دې ناکاره پیر او د بدعتي ملا او د دوي د پنجو نه بیا د دې مسلمان خلاصول داسې ګران وي لکه ماتونکي څناور د خولې نه د چا راخلاصول لهذا د حق پرستو یعنی قران او حدیث په حواله چه څوك خبرې کوي دینه دین زده کوه ځکه حق هغه دے چه الله تعالی دَ طرف نه وی چه هغه قران او سنت دي مطلب دادي چه اصلاح د هغه احوالو چه زړه کې راځي دا بنیادي شے دے او څوك چه د خپل زړه حفاظت کوي د غلطو خیالاتو او خطراتو نه داسې انسان غالب وي په خپل نفس او خواهش باندې او د زړه نه بي

پروا کيدل دا سبب د هلاکت دے او د بيکاره سوچو نه او غلط تصورات او بې مقصده خواطر انسان مهمل کوي۔

او د زړه فاسدې ارادې پيدا کيږي د بې همتۍ او ناراستۍ او سستۍ نه او انجام ئې کوتاهۍ او وقت او مال ضائع کول او بې ځايه ارمانونه او افسوسونه دا ئې انجام دے او انسان پدې وجهه نه د دنيا کار کولے شي او نه د دين کار د انسان شرافت او عزت پديکې دے چه د زړه د طهارت او تزکيه کوي د مفاسدو نه او که غلط سوچو نه ورته راشي د هغه نه کرکه کوي او پدې خفه کيږي او د لرې کولو کوشش ئې کوي۔

**فائده:** د زړه طهارت او تزکيه د کاميابۍ او د اعمال صالحه وو بنيادي اصل دے يو د هغه شيانو نه چه زړه به ترينه پاك ساتو بې مقصده او بد فکرونه دي او په ځائي د دې ناکاره خيالاتو په ځائي خپل زړه په خير او مصالحو کې مشغولول ضروري دي او يا د فساداتو نه په

ځان بچ کولو کې او دارنګه اخرت په باره کې سوچ کول او دارنګه په واجب الوقت کې فکر کول چه اوس پدې وقت کې زما څه مسؤلیت دے او ماله څه پکار دي او دا ډیر عظیم الفائدة علم دے چه انسان پدې پوهه شي چه اوس ماله څه کول پکار دي او دارنګه دزندګۍ دپاره دا یو اهم قانون دے چه انسان غیر ضروري کار وپیژني او اهم او ضروري کار مخکې کول په غیر ضروري دارنګه چه کوم کار قضاکیږي دا په هغه مخکې کول چه نه قضا کیږي او نه فوت کیږي او پدې خبره باندې هغه څوك ښه پوهیږې چه قران او سنت څه ناڅه معلومات ورسره وي او که زمونږ پدې لیکلو باندې د یو انسان ذهن ونه رسیدو نو ان شاء الله تعالی مونږ ورته پام پیدا کړو او بیا دي د یو حق پرست عالم نه ځان پوهه کړی او په ځائي د ګنده خیالاتو او تصوراتو مونږ له پکار دي چه فکر وکړو د خپل رب په کائناتو کې چه هغه سره

ایمان زیاتیږي او دارنګه د الله سبحانه وتعالی معرفت راځي او یو بهرتین سوچ هغه د قرآن کریم په معانیو کې دي خو دا هغه څوك کولی شي چه فهم د قران ورسره وي او دارنګه فکر دپاره یو اهم طرف دا دے چه یو بنده په هغه نعمتونو کې سوچ اوکړي چه پدې باندې الله تعالی رب العالمین کړي دي مطلب زما دا دے چه زړه زمونږ او نور اندامونه زمونږ تمام قوتونه دا زمونږ سره امانت دي بې ځایه لګول یا د الله تعالی په مخالفت کې لګول دا خیانت دے بلکه دا په مونږ دالله تعالی رب العزة انعامات دي نو د دې نعمتونو شکر دا دے چه په داسې کارونو کې ئې ولګوو چه الله تعالی زمونږ نه راضي شي او پدې به د نعمتونو دزوال نه هم بچ شو او پدې نعمتونو کې به الله رب العالمین اضافه او زیادت راولي بیا خپل اصل مقصد طرف ته رجوع کوو او دارنګه پدې کې به سوچ کوو چه کوم عیب دے په مونږ کې چه هغه لرې کړو.

**فائده:** زړه ته چه کوم تصورات او خطرات بې اختیاره راځي په هغه الله سبحانه و تعالیٰ څوك نه نیسي ځکه چه هغه د انسان د قدرت نه بهر شي او بیا کوم تصورات چه بې اختیار دي هغه په مثال د اوبو د ورخ دي او یا لکه لا روے چه په لاره تیریږي او روان دی او څه قرار نه لري نقصان او تاوان دا دے چه بنده ولګي او غلطو سوچونو ته دعوت ورکوي او بیا ورته زړه کې قرار او ځائي ورکړي نو دا کارونه په وس د بنده کې هم دي۔

**فائده:** : د یو کامیاب بنده چه هر کله الله تعالی دې طرف ته چه توجهه راوګرځوي او بدو خیالاتو نه ځان ساتي نو دا خبره ضرور یاد ساتل لازم دي چه هر کله زړه ستا پاك شو د غلطو خطراتو او وسوسو نه نو دا زړه به بیا خالي نه پرېږدې بلکه دیکې به اهم او فائده مند فکرونه داخل کړې ځکه چه د زړه مثال د یو لوخي دے چه زړه په څه کې فکر کوي هغه به لیکلے کیږي هر کله

چه د الله تعالی رب العالمین په توفیق سره د وسوسو او بدو خیالاتو نه خالي شي نو بیا ئې مشغوله ساته په ښه فکرونو او دا به په زړه ولیکلے شي او ښه فکرونه هله زړه کې راځي چه د بدو خطراتو او تصوراتو نه خالي شي او دیته علماء تخلية او تحلیه وائي یعنی اول صفا کول دي او بیا ښائسته کول دي او دارنګه چه زړه په اهمو او فائدو والا و فکرونو کې مشغول وي نو یوه فائده دا هم ده چه بیا شیطان ته موقع نه ملاویږي چه وسوسه وغورځوي د هغه حمله په فارغه او غافله زړونو باندې وي

**خلاصه**: دا چه شان د خطراتو قلبیه اهمیت لري او هم دا خطرات د خیر او شر بنیاد دے او دې باطلو خیالاتو او ذهني تصوراتو نه بدې ارادې پیدا کیږي بې کاره ارمانونه ترینه پیدا کیږي او ناراستي او عاجز کیدل ترینه پیدا کیږي او وهم ترینه جوړیږي د تقوي داره او د ښه بنده فکر د دنیا او اخرت په مصالحو کې وي او په ځان

ساتلو کې دنیا او اخرت د مفاسدو نه او هلاکتونو نه.

## د ګناهونو بد آثار په زړونو باندې

لکه څرنګه چې د زهرو بد اثر وي په بدن د انسان کې نو دارنګه د ګناهونو بد آثار هم وي په زړونو باندي.

او دا خبره مخکې ذکر شویده چې د ګناه په وجه چې کوم عقوبات او سزاګانې راځي نو دا په مختلفو قسمونو دي کله د انسان په بدن باندي د ګناه په وجه څه تکلیف راشي او کله ئې په مال څه آفت راشي او کله په زړونو باندي.

او په زړونو چې کوم عقوبات او سزاګاني راځي د ګناه په وجه د هغې مختصر بیان دا دے:

۱ - **توریدل د زړه.**

د ګناه په وجه زړه باندي زنګ راځي او په هغې باندي تور داغ جوړ شي.

مطلب دا دے چې زړه په بدن کې اهم قوت لري او پدې باندې انسان داسې کارونه کوي لکه غوږ سترګه او نور

اندامونه او کله چې پرې تورواله راشي او داغونه پرې جوړ شي او د ګناهونو د وجې نه فاسد شي نو بيا ئې تاثير کم شي او هغه کارونه پرې نشي کولے کوم کارونه او عبادات چې تقوی داره خلق کوي چې هغه معرفت د حق دے او محبت د الله تعالی او محمد رسول الله ﷺ دے او د الله تعالی خوف او نور د زړونو عبادتونه او پدې خبره دلائل دا دي:

﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴾(۱)

"داسي نده بلکې د دوي په زړونو ګناهونو زنګ راوستے دے".

حديث کې راځي نبي کريم ﷺ فرمائي:

«إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا أَخْطَأَ خَطِيئَةً نُكِتَتْ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، فَإِذَا هُوَ نَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ وَتَابَ صُقِلَ قَلْبُهُ، وَإِنْ عَادَ زِيدَ فِيهَا حَتَّى تَعْلُوَ قَلْبَهُ، وَهُوَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللهُ »(۲)

"بنده چې کله ګناه وکړي د ده په زړه باندې تور داغ

---

(۱) [المطففين: ١٤]

(۲) جامع الترمذی رقم الحديث ٣٣٣٤ سنن ابن ماجه ٤٢٤٤ وحسنه الالبانی۔

جوړ شي که توبه وکړي او ګناه پرېږدي او ببښنه اوغواړي نو زړه ئې صفا شي او که نور ګناهونه کوي نو دا داغ نور هم زيات شي او ټول زړه باندې احاطه وکړي“۔

عبد الله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا مشهور اثر دے فرمائي:

«إِنَّ لِلْحَسَنَةِ لَنُورًا فِي الْقَلْبِ، وَضِيَاءً فِي الْوَجْهِ، وَقُوَّةً فِي الْبَدَنِ، وَسَعَةً فِي الرِّزْقِ، وَمَحَبَّةً فِي قُلُوبِ الْخَلْقِ، وَإِنَّ لِلسَّيِّئَةِ لَظُلْمَةً فِي الْقَلْبِ، وَسَوَادًا فِي الْوَجْهِ، وَوَهْنًا فِي الْبَدَنِ، وَبَغْضَةً فِي قُلُوبِ الْخَلْقِ»۔(۱)

”ښه اعمالو په وجه مخ کې رڼا راځي او په زړه کې نور راځي او رزق کې پراخي راځي او بدن کې قوت راځي او د خلقو ورسره محبت پيدا کيږي او د ګناه په وجه په مخ کې توروالے راځي او په زړه کې تورتم راځي او په بدن کې کمزوري راځي او په رزق کې تنګي راځي د خلقو په زړونو کې ترينه نفرت راځي“۔

---

(۱) الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح۱۶ \ ۴۸۹

د ګناه په وجه زړونو کې قسوت او سختوالے راځي او کوم زړه باندې چې قسوت راشي هغه نه ښه صفات لرې شي مثلاً: رحم ترینه لاړ شي یعنی رحم په چا نهٔ کوي، او خشوع پکې نوي او حق طرفته انابت پکې نوي وعظونه پرې اثر نکوي او نور هم ناکاره اخلاق او عادات پکې پیدا شي او قرآن او سنت کې د سختو زړونو بدي بیان شویده او دا د یهودو صفت دے مالک بن دینار رحمه الله ویلي دي:

«مَا ضُرِبَ عَبْدٌ بِعُقُوبَةٍ أَعْظَمَ مِنْ قَسْوَةِ الْقَلْبِ» (۱).

"ندے اخته شوے یو بنده په عذاب چه غټ وی دَ قسوة قلب نه".

یعنی دا په عذابونو کې لوئ عذاب دے.

---

(۱) تفسیر القرطبي (۱۵/ ۱٦۱) عند تفسیر الآیة ۲۲ من سورة الزمر. [موسوعة ابن أبي الدنیا ٤/ ٤٤۹، صفة الصفوة ۳/ ۲۰٤].

# د زړه د سختوالي اسباب

اول: غفلت او اعراض کول د الله تعالی د ذکر نه.

حدیث کې راځي نبي کریم ﷺ فرمائي:

«لَا تُكْثِرُوا الكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ الله فَإِنَّ كَثْرَةَ الكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ الله قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ»(١)

"د الله تعالی د ذکر نه علاوه نورې خبرې ډیرې مکوئ ځکه ذکر نه علاوه په نورو ډیرو خبرو زړه سختیږي"-(٢)

دویم: د مرګ د یادولو نه غفلت کول.

کوم کس چې غافله وي د مرګ د یادولو نه او دا خبره نه یادوي چې زه به د الله تعالی مخې ته ځم د داسي کسانو زړونه سخت وي.

دریم: په ګناهونو کې همیشه پاتي کیدل او توبه نه کول دا هم زړه توروي او سختوي ئې.

---

(١) سنن الترمذي ٢٤١١ شعب الایمان ٤٦٠٠

(٢) جامع الترمذی ٢٤١١.

څلورم: د خواهشاتو تابعداري کول او حق باندې د عمل کولو نه انکار کول.

الله تعالی عزوجل فرمائي:

﴿فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ تعالى قُلُوبَهُمْ﴾(۱)

دارنګه الله تعالی فرمائي:

﴿ فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ﴾(۲)

"د وعدې په ماتولو باندې مونږ پدوي لعنت وکړو او زړونه مو ورته سخت کړل".

پنځم: د دنیا خواهشاتو او مزو او چرچو خوندونو پسې للانده کیدل او سرګردانه کیدل او دا خبره ذکر شویده په سورة الکهف کې.

شپږم: ډیرې خندا ګاني کول او بې ځایه لهو لعب او

(۱) [الصف: ٥]

(۲) [المائدة: ١٣]

ډېرې ګپې شپې لګول.

نبي کريم صلى الله تعالى عليه وسلم فرمايلي دي:

«لَا تُكْثِرُوا الضَّحِكَ، فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ»(۱)

اوم: په فرضي حکمونو کې کوتاهي کول.

لکه سورة المائده: ۱۳ آيت.

اتم: دنيوي مجلسونو کې کيناستل او فضول بکواس کول.

نهم: فضول او بې ځايه او حرام نظر کول.

لسم: جهل او ناپوهي پخپل دين باندې.

يولسم: ډېر خوراکونه کول.

دولسم: حرام خوري او مشتبه شيان خوړل.

په حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي چې الله تعالى فرمائيلي دي:

(۱) سنن ابن ماجة ۱۹۳، وصححه الالباني.

«وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ الْقَلْبُ الْقَاسِي»[١]

لري په خلقو کې د الله تعالی عزوجل نه د سخت زړه والا کس دے.

او دارنګه الله تعالی عزوجل فرمائي:

﴿فَوَيْلٌ لِلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ مِنْ ذِكْرِ اللهِ﴾[٢]

: هلاکت دې وي د هغه چا لپاره چې د سخت زړه والا وي د الله تعالی د ذکر نه.

او زړونه چې کله سخت شي نو بيا د الله تعالی د ويرې د وجې نه په سترګو کې ژړاه نوي.

او د اخرت اور پيدا شويدے د سختو زړنو د سيځلو لپاره.

**څلورشيان** چې د حاجت نه زيات شي نو دا سبب دے د زړه د سختوالي خوراک، خوب، خبرې او د خلقو سره اختلاط او لکه څرنګه چې بدنونه بيمار شي نو بيا ورته

---

(١) ترمذی ٢٤١١

(٢) [الزمر: ٢٢]

خوراک ښناک فائده نه ورکوي نو دارنګه چې زړونه مریضان شي او سخت شي نو په هغې باندې بیا وعظونه او ایتونه اثر نکوي او په زړونو کې محبوب ترین زړه الله تعالی ته نرم زړه دے حدیث کې راځي «إِنَّ لِلَّهِ آنِيَةً مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ وَآنِيَةُ رَبِّكُمْ قُلُوبُ عِبَادِهِ الصَّالِحِينَ , وَأَحَبُّهَا إِلَيهِ أَلْيَنُهَا وَأَرَقُّهَا»[۱]

او د نبي ﷺ په شمائلو کې راځي چې دا د نرم زړه والا وو او حدیث کې راځي چې سختوالے د زړونو په مشرق والا کې دے او هغه کسان چې اوښان ساتي او په حدیث کې د یمن والا صفت شویدے چې دوي نرم زړه والا دي او د احادیثو نه معلومیږي چې د جنتیانو علامه دا ده چې دا به د نرم زړونو والا وي۔

**فائده:** د دنیا د آزمایښتونو او مصیبتونو په وجه د زړونو نه سختوالے لرې کیږي۔[۲]

---

(۱) الصحیحة ۱٦۹۱۔

(۲) سورة الانعام ٤۳۔

**فائده:** د زړه د اخلاص او د تقوی د اهميت وجهه څه ده هغه دا ده چې زړه د اندامونو بادشاه دے او د دې حکم منل کيږي او قانون دا دے چې بادشاه که صالح وي نو د هغه فوج او رعيت هم صالحان وي او که هغه فاسد وي نو رعيت هم بد عمله وي او په حديث کې راځي:

« أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ، صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ، فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ ».[1]

يعني د بدن لږه شان غوښه ده که دا برابره شي ټول بدن به صالح وي او که دا فاسده شي ټول بدن به فاسد وي او هغه زړه دے.

او بل حديث کې راځي نبي عليه الصلاة و السلام فرمائي:

لَا يَسْتَقِيم إِيمَان عبد حَتَّى يَسْتَقِيم قلبه وَلَا يَسْتَقِيم قلبه حَتَّى يَسْتَقِيم لِسَانه.

"ايمان تر هغه وخته پورې نه برابريږي تر څو چې زړه

(١) صحيح البخاري ٥٢ مسلم في المساقاة باب أخذ الحلال وترك الشبهات رقم ١٥٩٩

سم نشي او زړه هغه وخته پوري نه سمیږي چې ژبه نه وي برابره شوې۔[۱]

د زړه د اصلاح یو اهمیت په دي وجهه هم دي چې دا محل د ایمان دي لکه الله تعالی عزوجل فرمائي:

﴿وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾[۲]

یعني ایمان ئې ستاسو زړونو کې ښائسته کړے دے۔

پدې خبره نور ایاتونه هم دلیل دي چې ایمان محل د زړه دے لکه دا قول د الله تعالی سورة الحجرات کې ﴿وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾[۳]

او دارنګه دا قول د الله تعالی ﴿وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ﴾[٤]

## د زړه د نرم کیدلو اسباب

دا یو بهترین بحث دي او فائده مند مضمون دي او د

---

(۱) سنده حسن مسند احمد ۳/۱۹۸۔

(۲) الحجرات: ۷۔

(۳) [الحجرات: ١٤]

(٤) [المائدة: ٤١]

کتاب موضوع سره تعلق لري

او هغه دا دي چې کله د انسان زړه سخت وي هغه ګناهونو نه نفرت نه کوي او بد ئې نه ګڼړي او توبه ترينه نه وباسي او د زړه سختيدلو سبب شي د ډيرو ګناهونو او کله چې د انسان زړه نرم وي نو په هغې کې انابت وي او رحم وي او د الله تبارك وتعالیٰ نه خوف وي او وعظ پرې اثر کوي او بنې خبري پکي ځاي نيسي او زمونږ پدې زمانه کې دا مرض زيات شويدے ځکه چې زړونه په کومو وجوهاتو سختيږي هغه ډير دي لکه مخکې د هغې بيان وشو او د زړه نرميدلو اسباب هغه دا دي:

اول: د الله سبحانه وتعالیٰ ذکر کول او خاصکر د قران کريم تلاوت کول او د هغې وجهه دا ده چې قسوة القلب دا مرض د زړه دے او قران کريم شفاء د زړونو ده لکه دا خبره قران کريم سورت يونس او الاسراء کې ذکر ده۔

دارنګه د الله تعالی د ذکر په حقله الله تعالي ويلي دي:

﴿أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾(۱)

خبر شئ د الله تعالی یادولو سره زړونه مطمئن کیږي.

دارنګه سورة الزمر کې هم داسې ویلے شویدي چې قران کریم په وجه انسان کې د رب نه خشیت راځي او سورة الانفال کې د قران اثار بیانیږي په هغوي کې یو اثر دا دے چې زړونو کې یره او خوف پیدا کوي او په سورة الحدید کې الله تبارک وتعالیٰ هم دا ویلي دي چې په ذکر د الله تعالی سره زړونو کې خشوع او عاجزي راځي.

یو کس حسن بصري ته راغے او دا شکایت ئې ورته وکړو چې زړه مي سخت شویدے هغه ورته دا علاج وښودلو د الله تعالی ذکر کوه.

وهب بن ورد ویلي دي چې بهترین علاج د زړه د نرمیدلو د قران تلاوت دے سره د تدبر نه.

یحي بن معاذ ویلي دي " دَوَاءُ الْقَلْبِ خَمْسَةُ أَشْيَاءَ: قِرَاءَةُ

(۱) [الرعد: ۲۹]

الْقُرْآنِ بِالتَّدَبُّرِ، وَخَلَاءُ الْبَطْنِ، وَقِيَامُ اللَّيْلِ، وَالتَّضَرُّعُ عِنْدَ السَّحَرِ، وَمُجَالَسَةُ الصَّالِحِينَ "(۱)

يعني د زړه علاج پنځه شيان دي په تدبر د قران تلاوت کول او خوراک کم کول او تهجد کول او په پيشمني کې الله تعالی ته تضرع او عاجزي کول او صالحانو سره کيناستل۔

او دا قول د ابراهيم الخواص نه هم نقل دي۔

دويم: د مرګ ډير يادول لکه څرنګه چې د مرګ نه غافل کيدل د زړه د سختوالي سبب دے نو د مرګ يادول د زړه د نرم کيدلو سبب دے عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته نبي ﷺ ويلي دي «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ»

يعني دنيا کې يو اجنبي يا مسافر پشان ژوند کوه او عبد

---

(۱) [صفة الصفوة ٦٧٤ - يحيى بن معاذ بن جعفر الرازي ٢/ ٢٩٣] وكذا قال إبراهيم الخواص رحمه الله الحلية (تهذيبه) ٣/ ٤٢١

الله بن عمر رضي الله عنهما به ویل «إِذَا أَمْسَيْتَ فَلاَ تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ، وَإِذَا أَصْبَحْتَ فَلاَ تَنْتَظِرِ المَسَاءَ، وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ، وَمِنْ دحَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ»[۱]

یعني کله چه درباندے بیګاه شي د صبا انتظار مکوه او کله چې صبا شي نو د بیګاه انتظار مکوه او په زندګۍ کې دومره نیک اعمال وکړه چې مرګ نه روسته دې پکار شي۔

او د ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دے نبي کریم ﷺ فرمائي: «أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَادِمِ اللَّذَّاتِ»[۲]

یعني لذتونو ختمونکے شے ډیر یادوئ چې مرګ دے۔

او بل حدیث کې راځي چا تپوس وکړو چې مومنانو کې ډیر عقلمند څوک دي نبي کریم ﷺ وویل:

«أَكْثَرُهُمْ ذِكْراً لِلْمَوْتِ، وَأَكْثَرُهُمْ اسْتِعْدَاداً لِلْمَوْتِ، أُولئِكَ

(۱) صحیح البخاري ٦٤١٦

(۲) ابن ماجه ٤٢٥٨ صحیح الجامع ١٢١١۔

الأَكْيَاسُ»[۱]

څوک چې مرګ زيات يادوي او د مرګ نه روستو حالاتو لپاره تولو نه زيات تياري کوي دا کسان عقلمند دي۔

دريم: د قبرستان زيارت کول حديث کې راځي

نبي کريم ﷺ فرمائي:

وَكُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ ثُمَّ بَدَا لِي فَزُورُوهَا فَإِنَّهَا تُرِقُّ الْقَلْبَ وَتُدْمِعُ الْعَيْنَ وَتُذَكِّرُ الْآخِرَةَ۔[۲]

پدي کې هم دا ذکر دے چې زيارة القبور زړه نرموي۔

څلورم: د زړه د نرميدلو د ګناهونو نه توبه ويستل او

---

(۱) المنذري في الترغيب (۵۰۵۳) وقال: رواه ابن أبي الدنيا في كتاب الموت والطبراني في الصغير بإسناد حسن۔ ورواه ابن ماجة مختصرا بإسناد جيد، والبيهقي في الزهد، وذكره الهيثمي (۱۰/ ۳۰۹)۔

(۲) اخرجه الحاكم بسند حسن وأخرجه أحمد (۱۳۵۱۲)، وأبو يعلى (۶/ ۳۷۳) (۳۷۰۷)، والحاكم (۱/ ۵۳۲) واللفظ له، والبيهقي (٤/ ۷۷) (۷٤٤۹)۔ قال ابن الملقن في ((البدر المنير)) (۵/ ۳٤۳): طريقه جيد، وقال الهيثمي في ((مجمع الزوائد)) (۵/ ۶۹): فيه يحي بن عبد الله الجابر وقد ضعفه الجمهور وقال أحمد لا بأس به، وبقية رجاله ثقات، وحسن إسناده الألباني في ((أحكام الجنائز)) (۲۲۸)۔

استغفار ویل لکه مخکې حدیث کې ذکر شو «وصقل قلبه» یعني زړه به صفا شي په توبه او اسغفار باندې یو بل حدیث کې راځي:

«إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ الله ، فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ»(۱)

یعني زما زړه پټ کړے شي او بوج پرې راشي او زه د خپل رب نه ښښنه غواړم سل ۱۰۰ ځله.

پنځم: پخپل رب باندې ایمان او یقین لرل پدې سره زړه نرمیږي او د نیکو اعمالو سره محبت پیدا کیږي الله عزوجل فرمائي: ﴿وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللهِ يَهْدِ قَلْبَهُ﴾(۲)

: څوک چې پخپل رب باندې ایمان راوړي نو د هغه زړه ته هدایت وکړے شي.

شپږم: د یتیم په سر لاس راښکل او په مسکین خوراک

(۱) صحیح مسلم ص ۲۷۰۲.
(۲) [التغابن: ۱۱]

کول۔

حديث کې راځي يو کس نبي عليه الصلاة و السلام ته شکايت وکړو زما زړه سخت شويدے هغه ته نبي ﷺ وويل:

«إِنْ أَرَدْتَ أَنْ يَلِينَ قَلْبُكَ، فَأَطْعِمِ الْمِسْكِينَ، وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ» (١)

که ته غواړې چې زړه دې نرم شي مسکين باندې خوراک کوه او يتيم په سر لاس راښکاږه ۔

اووم: د مريضانو عيادت کول ځوک چې د مريضانو عيادت کوي او د هغې حالات وګوري ځپل صحت د الله تعالى نه شکر وکړي نو پدې سره زړه نرميږي او اعمال صالحو ته رغبت پيدا کيږي۔

اتم: د فرضي عباداتو پابندي کول او په نوافلو کې د نورو

(١) مسند أحمد من حديث أبي هريرة - رضي الله عنه وحسنه الألباني في صحيح الجامع برقم ١٤١٠- -، وهو في الصحيحة للألباني (٨٥٤).

نه سبقت کول او په فرضو کې کوتاهي او غفلت نه ځان ساتل لکه مونځ روژه حج او صدقات نو پدې سره هم زړه نرمیږي لکه مخکې ذکر شو عبدالله بن عباس رضي الله تعالی عنهما وائي چې نیک کارونه په زړه کې نور پیدا کوي۔

نهم سبب: حلال خوړل او حرامو او شکي شیانو نه ځان ساتل مسلمانانو ته امر شویدے چې حلال خورئ او دا حکم انبیاو ته هم شوے وو او څوک چې حلال خوري او حرامو او شکي شیانو نه ځان ساتي او دیته اشاره ده په مشهور حدیث کې «الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ»[1]

د فضولو مجلسونو نه پرهیز کول او د ډیرو خبرو او د ډیرو خنداګانو نه او د غلط نظرنه۔

یولسم: د خواهشاتو تابعداري نکول او د شریعت تابعداري کول او د هغه اعمالو سره مینه کول چې الله

(۱) صحيح: أخرجه البخاري في الإيمان الحديث "٥٢" باب "٣٩" فضل من استبرأ لدينه، ومسلم في كتاب المساقاة الحديث "١٠٧، ١٠٨"۔

تعالی ته پرې تقرب حاصلیږي او دې خبرې ته اشاره ده په سورة النازعات ٤١ او الشمس ۹ ایت کې.

دولسم سبب: یقین کول پدې خبره چې دنیا بقا نه لري او دنیا سره زړه نه لګول ، ځکه د ډېرو ګناهونو وجهه اوږدهٔ اوږدهٔ امیدونه او د دنیا محبت دے۔ وبالله التوفیق